# سبا به ناوخته وي

(د افغانستان د ثبات او برمختگ څو مسئلي)

Ketabton.com

ډاکتر محمد ابراهیم شینواری

۱۳۸۹ل

ketabton.com - The Digital Library

# سبا به ناوخته وي

## د افغانستان د ثبات او پرمختګ څو مسئلې

## لړلیک

سریزه ........................................ i
کمزوري دولتونه؛ بې ثباته هیواد ........................................ ۱
د افغانستان په ثبات، توازن او انکشاف کې د اسلام رول ........................................ ۲
آیا زموږ ملي هویت ټینګ دی که لړزاند؟ ........................................ ۱۵
په افغانستان کې د ژبو مسئله ........................................ ۱۹
اقلیت او اکثریت ........................................ ۲۷
متوازن انکشاف ........................................ ۳۳
د ښځو او نجونو پوهنه او کار ........................................ ۴۲
کادري توازن ........................................ ۴۹
د دیني او عصري زده کړو مسئله ........................................ ۵۲
آیا موږ د ښار او کلي توپیر له منځه وړلای شو؟ ........................................ ۶۰
د نفوسو د بې کنټروله زیاتېدو په وړاندې څه پلان لرو؟ ........................................ ۶۴
آیا چټکې ښاري کېدنې ته اړتیا لرو؟ ........................................ ۷۱
په افغانستان کې ملت جوړونه ........................................ ۷۵
له تشدد نه ډکې لانجې، د لانجو مخنیوی او ملت جوړونه ........................................ ۸۵
آیا دلته د حکومت یوازې یو ماډل بریالی دی؟ ........................................ ۹۳
آیا افغانان جګړه مار دي، جنګیالي که د عدم تشدد لارویان؟ ........................................ ۹۸
تر ډېره کرښې ها خوا زموږ نه بېلېدونکې برخه که تېر شوی تاریخ؟ ..... ۱۰۵

ketabton.com - The Digital Library

یو څاڅکی اوبه په کومه بیه؟......................................................................۱۱۲
آیا افغانستان د یو بې طرفه هېواد په توګه تضمینېدای شي؟..................۱۱۷
بهرنۍ مرستې: سېروم که سنډروم..........................................................................۱۲۰
آیا نړیوالتوب فرصت دی، چېلنج که خطر؟.............................................................۱۲۲
آیا نړیوال په افغانستان کې سوله غواړي؛ که جګړه؟..........................................۱۳۳
آیا افغان مشران ملت ته هیله ورکولای شي؟.......................................................۱۴۷
نتیجه..................................................................................................................................۱۵۱
ماخذونه..............................................................................................................................۱۵۳

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# سریزه

افغانستان د پیړیو په اوږدو کې تل له ډېرو ستونزو سره مخ شوی دی؛ خو دا تېر درېش کلونه په ځانګړي ډول د غیر عادي کړاوونو کلونه وو. هیواد او ولس د دوه سترو زبرځواکونو له خوا د رامنځته شوو جګړو سره مخ شواو د فرصت غوښتونکو ګاونډیانو د مداخلو او لاسوهنو لپاره زمینه جوړه شوه.

د پخواني شوروي اتحاد د یرغل په نتیجه کې له هرو لسو افغانانو یو تن خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړ، له هرو نهو نه یو معلول شو، له هرو درې تنو یو مهاجر او په سلو کې ۸۰ کورونه او کلي وران او د هیواد اساسي زیربناوې ونړیدې.

ولس په دوامداره ډول دا هیله لري، چې هیواد ته به یې سوله راشي، چې د دوی د اولادونو او راتلونکو نسلونو پر مخ د نیکمرغۍ دروازې پرانستل شي، خو تر هر ځل هیلو وروسته، نوې ستونزې او لا خطرناک چلنجونه را مخې ته کېږي.

د دې دوامداره بې ثباتیو او ورانیو اساسي علتونه څېړل پکار دي او هغو په وړاندې د داسې تدابیرو نیولو ته اړتیا ده، چې دا هیواد نور کرار، با ثباته او ولس یې نیکمرغه شي.

ketabton.com - The Digital Library



نن سبا په هیواد کې د بې ثباتۍ او کمزورې دولت د ستونزو په باب پوښتنې هر چېرته اورېدل کېږي . ددې کتاب لومړنۍ لیکنه زیاته پر دې پوښتنه متمرکزه ده، چې ولې افغان دولتونه کمزوري او هیواد زیاتره بې ثباته وي، نورې لیکنې یې په اوږده موده کې د حل په لارو تمرکز کوي، چې که نن د هرې یوې په باب روښانه پالیسي او پلانونه جوړ شي، د هیواد له پرمختګ او د دولتونو له پیاوړتیا او دایمي ثبات سره مرسته کوي او که نن دغه کار ونه شي، **سبا به ناوخته وي** او بیا به زموږ ستړې ستونزې لا ډېرې وي، چې د هیواد د لا بې ثباتۍ، د ولسونو تر منځ د بې باورۍ او ژورو ټولنیزو او سیاسي ستونزو سبب به شي.

افغانستان همدا اوس له درې ډېرو سترو بېړنیو ستونزو سره مخ دی، چې درې واړه له بې ثباتۍ او کمزورۍ سره مرسته کوي: **جګړه، د مخدره توکو مافیا او اداري فسا د** . دا درې او نور ډېر مسایل شته چې زموږ د هیواد د رهبرانو او پوهانو مسوولیت چلنجوي او چټک، بېړنی او عاجل حل ترې غواړي . ما په دې کتاب کې زیات په دغو بېړنیو ستونزو ډېر بحث نه دی کړی؛ ځکه یو خو په ګرمو مسلو ډېر زیات ګرم بحثونه روان دي، او له بلې خوا په دې هیواد کې لا هم زیاتره د مسایلو د تحلیل، بحث او شننې پر مهال ذوقي او سلیقوي برخورد ته ترجیح ورکول کېږي او علمي- تحلیلي بحثونه په ناندریو او لانجو اوړي.

له ګرانو دوستانو هر یوه ښاغلي استاد اسد الله غضنفر، ګران ډاکتر خوشال روهي، او ښاغلي انجینیر ملنګ ابراهیمي نه د زړه له کومې مننه کوم، چې هر یوه دا لیکنې په غور ولوستې؛ ډېر ارزښتمن نظرونه

ketabton.com - The Digital Library



یې راکړل او د سمون او ښه والي لپاره یې پر ځای مشورې راکړې. له ګرانو ورونو- د اسلامي علومو ډاکتر مصطفی نیازي او قاضي صاحب عبدالرحمن الفت محمودي سره مې (د افغانستان په ثبات او انکشاف کې د اسلام رول، د نفوسو مسله، د دیني او عصري زده کړو مسله او د ښځو او نجونو پوهنه او کار) عنوانونه چې له دیني مسایلو سره یې ارتباط درلود؛ شریک کړل، ډاکتر صاحب نیازي ډیر عالي نظرونه راکړل، چې تر وسه مې د هغوی له مخې په دغو برخو کې سمونې وکړې، چې له دواړو نه د زړه له کومې مننه کوم. ښاغلی ورور امیر جان وحید احمد زی هم د زیاتې مننې او ستاینې وړ دی چې د کتاب اډیټ یې په ډیره مینه او زغم سره وکړ او پر ځای سمونونه یې پکې راوړل. زما ورور ډاکتر نصرت الله د کتاب وروستي پروفونه ولوستل، هم یې اډیټ کړل او هم یې ډیر ښه سموونکي نظرونه راکړل، چې ډیره مننه ترې کوم. د کتاب کمپوز او ډیزاین ښاغلي ورور شامحمد عمرخېل په ډیره مینه او پاملرنه کړی دی، چې د ځانګړې مننې وړ دی. لوی الله(ج) دې ټولو ته ستر اجرونه ورکړي.

هیله لرم افغان مشران او پالیسي جوړونکي دومره وخت پیدا کړي، چې دا لنډې لیکنې ولولي، او د اړوندو برخو چارواکو ته لارښوونې وکړي، چې په خپلو برخو کې جامع او اړینې پالیسي ګانې او پلانونه ورته جوړ او پلي کړي. همدا راز هیله لرم افغان ځوانان دا کتاب په مینه ولولي او د هېواد د نن او سبا د ستونزو د حل لپاره ترې انګېزه واخلي.

په پای کې له متعال الله (ج) نه استدعا کوم چې زموږ نیتونه، هیلې او غوښتنې د خپلې رضا لپاره خالصې او د خپلو بنده ګانو د خیر سبب یې کړي

***

ketabton.com - The Digital Library

# کمزوري دولتونه، بې ثباته هېواد

ولې افغان دولتونه تل کمزوري او په افغانستان کې تل یا زیاتره بې ثباتي وي؟

**لنډیز**:

فقر، د تعلیم ټیټه کچه، کمزوري دولتونه، د ملي ستراتیژۍ نشتوالی، له افغانستان څخه د نیم بدن بېلبېدل، د افغانستان سیاسي-جغرافیوي ستراتیژیک موقعیت، د نړیوالو زبرځواکونو یرغلونه او د ګاونډیانو مداخلې ددې هیواد د بې ثباتۍ مهم سببونه دي.

که افغانان غواړي، چې په یوه با ثباته هېواد کې یو مشروع او پیاوړی دولت ولري، چې دوی ته نېکمرغي او خوشحالي راولي او هیواد ته یې سوله او ثبات؛ نو باید د دغو سببونو د حل لپاره کار وکړي.

دا به یوه اوږده، ستونزمنه، ګرانه او پېچلې پروسه وي وي؛ خو ناممکنه نه ده. هیله، امید، ژمنه او عزم غواړي او د فکر، کار

ketabton.com - The Digital Library



افغانستان په تاريخي لحاظ يو وياړمن هېواد دی. نړۍ ته يې د خپل نفوس او موقعيت په تناسب ډېر رهبران وړاندې کړي دي او د دې سيمې په ثبات ټينګولو او نړيوال تمدن ته د علم او ادب په ورکولو کې يې زياتره مهم رول درلودلی دی.

له دې سره سره په دې هېواد کې دولتونه زياتره کمزوري، کم وسه او له بې ثباتۍ، داخلي او بهرنيو لانجو، جنجالونو او کړکېچونو سره مخ وي.

ددې يو مهم سبب دا دی، چې افغانستان يو غريب او بېوزلی هېواد دی، موجودې منابع يې په نشت حساب دي او که څه شی لري هم؛ تر ځمکې لاندې او را ايستل شوې نه دي.

د دولتونو کمزوري او د ثبات نشتوالی، چې طبعاً د منابعو له کمښت سره مل وي د دې سبب شوي، چې ولسونه او نسلونه له تعليم، زده کړې او پوهې بې برخې پاتې شي او که يو څو تنه د کار خلک پکې پيدا هم شي؛ نو هغه يا په ژوند يا مرګ له هېواده ورک شي او که پاتې هم شي؛ نو په يو ګل نه پسرلی کېږي. د پوهې او مهارت نشتوالی له فقر او بې وزلۍ سره يوه معيوبه دوره جوړوي، چې ناپوهي فقر او فقر ناپوهۍ ته لا ډېره زمينه برابروي او معيوبه دوره لا تشديدوي، چې دا معيوبه دوره د دولتونو د کمزورۍ او د هېواد د بې ثباتۍ سبب کېږي.

ناپوهه او کم پوهه وګړي، چې خپله ولږه او بې وزلي تنګ کړي؛ نو د کوچنيو انګېزو د پيدا ايښت په صورت کې ډېر ژر د خپلو حکومتونو سستې پايې نړوي او لږ و ډېره راټوله شوې هستي يې تالا کوي. دوی هغه وخت لا بريالي وي، چې په

ketabton.com - The Digital Library



حکومتونو کې کومه ديني کمزوري ووينې او پر خلاف يې دجګړې جواز هم پيدا شي. په دې صورت کې بيا د دوی ذهن او روان تسکين وي، او کومه وجداني غلطي نه احساسوي.

که دولتونه کمزوري او غريب نه وای او د ملي ستراتيژۍ په رڼا کې يې د کليو او ښارونو خلکو ته يو شان امکانات برابرولای شوای؛ نو خلکو به خپل دولتونه تالاکول. د ابن خلدون د وينا له مخې هغه وخت، چې ښاريان نرم، پاسته، خوش ګوزران او عياش شي؛ نو ښار، زيږه او وږي غريبان او کليوال يې د بر زر تالا او چور کړي. دا وينا دلته ښه تطبيقېږي.

افغان ملت يو نامتجانس ملت دی، چې له ګڼو قومونو او نژادي ګروپونو جوړ او هيواد يې د بېلابېلو کلتورونو او فرهنګونو د مخامختيا مرکز پاتې شوی دی. فقر، ناپوهي، سخته جغرافيه او اقليم، د لارو کموالی، د فابريکو او صنعت کمی، بې امنيتي او بې ثباتي ټول له دې سره منفي مرسته کوي، چې دا ملت نامتجانس پاتې شي، او د تمدن، پرمختګ او د ملت په يوه لوښي کې د بېلابېلو قومي او ګروپي هويتونو د پوره حل پر لور يې يون پڅ، ورو، ټکنی او ځنډنی شي.

دا چې دولتونه کمزوري او بې ثبات، ه او ولس په ناپوهۍ او فقر کې ګېر دی؛ نو دولتونه او ولسونه پر دې نه دي بريالي شوي، چې يوه واحده او روښانه ملي ستراتيژي ولري.

يوه طبيعي بد مرغي مو داده، چې د افغانستان جغرافيايي-سياسي موقعيت داسې پېښ شوی، چې د لويو فاتحانو د څلور لارې په توګه د وخت او زمان د هر زبر ځواک پام ځانته را اړوي.

ketabton.com - The Digital Library



زړه خوږي او خواخوږي مفکر الفت صاحب ډېر ښه ویلي وو:

نه اپلاتون نه ارسطو راځي یونانه ځنې
اېستلې توره سکندر په دغه خوا راځي

رښتیا که سکندر د نړۍ په هاغه سر یونان کې امپراتور ېږي؛ نو اېستلې توره پر دې لور راځي، چنګېز، تیمور، بابر، نادر، شوروي اتحاد او ځینې نور، خو لا یو څه په ګاونډ کې وو؛ خو انګرېز او امریکا هم، چې زبرځواک شي، پر دې هېواد یرغل راوړي. بیا هم د الفت صاحب خبره: (په دې هیواد نه د مسلم رحم راځي او نه د کافر) د لویو-لویو معنوي او انساني شعارونو لرونکي فاتحان هم، چې دلته راغلي؛ نو دې غرونو او تړو او زامنو یې ورسره مقابله او مقاومت کړی او دغو فاتحانو او مغرورو زبرځواکونو ترې کله "کله منارونه" جوړ کړي، او کله یې "پولیګونونه" او "لیلې دښتې" د دوی په مړو ډکې کړې دي.

یو بل مهم سبب دا هم دی، چې پښتون قام، چې د نورو ورونو قامونو د مشرورور مسوولیت ور تر غاړه دی، د ډېرو سترو مقاومتونو په نتیجه کې کمزوی شوی، بدمرغه او په ستونزو کې ګېر دی. دا خبره ما له یوه هزاره افغان نه د بامیانو په یکاولنګ کې زده کړه: نوموړی، چې د حقوقو او سیاسي پوهنو ماسټرو، استدلال یې کاوه، چې افغانستان د وروسته پاتې هېوادونو په شان په سنتي، عنعنوي او قبایلي لارو چارو کنټرول شوی او کنټرولېږي؛ خو زموږ مشر ورور په داسې ستونزو کې اخته او دښمنانو دومره ټکولی دی، چې د مشرۍ

ketabton.com - The Digital Library


بار وړل ورته ګران شوي دي. ده ویل، هر مابنام دعا کوي، چې کوز پښتانه خدای بېرته له نورو افغانانو سره یو ځای کړي، چې محور پیاوړی او د افغانستان ثبات تضمین شي. که ثبات نه وي؛ پرمختیا، اقتصادي ښېرازي او تعلیمي روښانتیا هغه څه دي، چې لاسته راوړل یې ډېر ګران دي او که لاسته راشي هم، ساتنه او تداوم یې ستونزمن کار دی. زموږ نیم بدن باید بېرته پوره شي او یا یې بدیل حل لارې پیدا شي. له بلې خوا د افغانانو قبیلوي سیستم او په ګرانو، لرې او پېچلو سیمو کې یې له ښارونو او مدنیتونو لیرې اوسېدل هم د بې ثباتیو سره مرسته کړې ده.

که افغانان غواړي، چې په یوه با ثباته هېواد کې یو مشروع او پیاوړی دولت ولري، چې دوی ته نېکمرغي او خوشحالي راولي او هیواد ته یې سوله او ثبات؛ نو باید د دغو سببونو د حل لپاره کار وکړي.

دا به یوه اوږده او ستونزمنه، ګرانه او پېچلې پروسه وي خو ناممکنه نه ده. هیله، امید، ژمنه او عزم غواړي او د کار، فکر او عمل زړور خلک.

✵✵✵

ketabton.com - The Digital Library

# د افغانستان په ثبات، توازن او انکشاف کې د اسلام رول

هر دین په خپل وخت کې د انساني ترقۍ او پرمختګ پر لوري یو مثبت حرکت او د مادي او معنوي شیرازتیا، د انسانانو د داخلي سکون، د ټولنو د نظم او هیوادونو د ثبات برابرونکی عامل و.

د اسلام روښانه دین وروستی اسماني برحق دین دی او کله چې د دې هېواد خلکو دا مبارک دین منلی، بیا یې ورسره کلک تړون مونډلی او د دوی په اروا او ټولنیز ژوند کې ډېر ژور ننوتی دی.

اسلام زموږ د هویت تر ټولو عمده توکی او زموږ د اتحاد، یووالي او ځواکمنتیا اساسي عامل دی.

د اسلام د سپېڅلي دین د ژوندي او دفاعي پوټېنشل له برکته دې ملت له ډېرو سترو زبرځواکونو سره مقابله کړې ده او دا هېواد یې متحد او روغ او ملت یې سرلوړی او بریالی ساتلی

ketabton.com - The Digital Library



دی.

په دې دین کې د دې وړتیا شته، چې د دې ملت د اتحاد، پرمختیا او لوړتیا او د دې هېواد د ثبات او نیکمرغۍ لارې چارې تضمین کړي.

کله، چې افغانانو پر دین منګولې لګولې؛ بریالي شوي دي او کله چې په احساساتي ډول د نورو په ارزښتونو او شعارونو پورې نښتي دي، له ټکرونو سره مخ شوي او له منځه تللي دي.

اعلیحضرت امان الله خان، چې د اسلام او غزا نوم یې یاداوه؛ په ځوانه ځوانۍ کې د غازي، بابا، قاید او نورو معززو نومونو خاوند شو او د وخت داسې زبرځواک یې مات کړ چې په خاوره کې یې لمر نه ډوبېده؛ خو چې د شپو خولۍ او درېشۍ تلقین یې پیل کړ؛ بیا یوه عادي سړي تره یې تخت او پاچاهي ونیوله او له خپل هغه وطن نه وتلو ته اړ شو؛ چې ده ورسره اورنۍ مینه لرله.

خلقیان په افسانوي ډول خپلې ژمنې ته متعهد، زړور او د جګړې هر ډګر ته پخپله روان وو؛ خو چې له اسلام او دین سره په ټکر کې راغلل؛ نو ډېر زیات ټوټه- ټوټه او تباه شول.

دا یوه حساسه مسئله ده، چې د اسلام له سپېڅلي دین نه هم ځینې اشخاص ناوړه استفاده کولای شي؛ خو دا د انساني فطرت کمزوري ده، چې کله کله هره سپېڅلې پدیده د خپلو شخصي ګټو لپاره کاروي. په دې کې د اسلام هېڅ ستونزه نشته؛ بلکې دا د اشخاصو کمزوري او غلطي ده.

ketabton.com - The Digital Library



د ديني حکومتونو بېلګې په نوره نړۍ او اسلامي هيوادونو کې تېرې شوي دي. موږ يې داسې بېلګو ته ضرورت لرو لکه د رسول الله (ص) په مدينه کې چې د لوړوالي معيار تقوا او د جزا په وړاندې د قريشي جنۍ او يو عادي فرد تو پير نه و او يا د حضرت عمر (رض) په دربار کې يو يهودي او جليل القدر صحابي حضرت علي کرم الله وجهه په يو شان محکمې ته حاضرېدل.

هغه ډول حکومت چې يو څو کسان د کليسا يا ديني ټولنو په نوم د ټولنې پر ټولو برخو قابض شي او نور خلک خبرو او کار ته نه پرېږدي، ددې زمانې د مقتضياتو ځواب نه شي ويلای.

د اسلام دين د ازادې ټولنې، مشورتي نظام او د امت رايو ته د مراجعې له لارې د ښه حکومت ډېرې ښې بېلګې لرلې دي، همدا راز مسلمانانو د ګڼ مذهبو ټولنو مشري هم په داسې شان کړې ده چې د هر چا انساني کرامت او حقونه يې په نظام کې خوندي و.

په ځينو وختونو کې ديني عالمانو د تغلب، وراثت او انحصار په صورت کې هم د ځينو شاهانو پاچهۍ ته روا ويلي دي، خو ممکن په هماغه وخت کې د فساد، فتنې او خونرېزۍ په نسبت دغه يو مناسب کار و.

خو اوس ښه لار داده چې د امت او ملت د هر څومره ډېرو خلکو او ټولنيزو ګروپونو نماينده ګي چې د ژوند په مهمو مسلو او سياست او دولت دارۍ کې شريکه شي، هماغومره به د حکومت مشروعيت زيات شي. داد اسلامي ټولنې په

ketabton.com - The Digital Library



پر مختتګ پوري اړه لري او چې څومره ډېر خلک د ژوند او سیاست په مسایلو کې پوهه او دلچسپي پیدا کوي، هماغومره دین او حکومت دواړه د اشخاصو له انحصاره راوځي او د مسلمانانو ډېر وګړي پکې برخه اخلي.

دا چې په افغانستان کې حکومتونه کمزوري او ولسونه د خپل ژوند او معیشت تېرولو لپاره ډېرو ابتدايي منابعو ته ضرورت لري او هغه منابع هم ورته نه دي تیارې شوې؛ نو کله- کله دوی د خپل مسلمان حکومت پر ضد هم پارول کېدای شي. د امیر حبیب الله کلکاني خوځښت یوه دغسې بېلګه وه، چې د مسلمان آمان الله خان پر ضد وشورېده: هغه تر واک نیولو وروسته وویل: "زه پیسې په ښوونځیو نه لګوم؛ بلکې ملایانو ته یې ورکوم، چې دعا وکړي او عسکرو ته یې ورکوم، چې قند و قروت پرې وخوري". په دې خبره کې ډېر ساده ژوروالی پروت دی، که په دې ټولنه کې دې ملا ملګری و، خلک دې پر ضد نشي پارېدای او که عسکر دې خوښ وساتل؛ ساتنه دې کوي؛ خو دا چې نوموړي نه کاري ټیم لاره او نه یې ددغو دوو ګروپونو د خوشاله ساتلو لپاره کافي منابع لرلې؛ نو ولس دده پر خلاف له نادرشاه سره ودرېد او دده حکومت یې چپه کړ.

سربیره پر دې، چې اسلام د فرد او ټولنې په جوړولو کې بنسټیز رول لوبولی او لوبوي یې، د هېواد د بقا، ثبات او ساتنې لپاره هم تر ټولو ټینګ بنسټ دی.

متاسفانه هغه توره، چې د افغاني فاتحینو سره وه، په

ketabton.com - The Digital Library



وروستیو وختونو کې دوی کېښوده او دا یوه لویه کمزوري ده. فکر کوم چې دا هم د انګریزانو دسیسه او مهارت و چې موږ یې خلع سلاح کړو او زموږ نه یې اساسي دفاعي عامل واخست او پاکستان ته یې ورکړ.

پاکستان اوس هغه ستراتېژي د خپلې بقا او عظمت لپاره کاروي، چې افغانانو هېره کړې او پرېښې ده. د پرویز مشرف په شان یو سیکولر سړی هم په خوله د امت خبرې کوي؛ خو په موږ کې ځینې کسان لیبرالیزم، سیکولریزم، ډموکراسي او کمونېزم زمزمه کوي؛ او چې پوه شي، ولس ورسره په دغو شعارونو نه ځي؛ نو بیا د روسي او امریکایي عسکرو یرغل ته ښه راغلاست وایي.

ځینې د پام وړ نورې خبرې دادي:

- پاکستان، چې د ځینو پوهانو په نظر د اسلام په نوم د عظمت غوښتنې ستراتېژي پر مخ بیایي، غواړي د هندوکش لوړې څوکې او امو سیند په لومړي قدم کې خپلې پولې کړي او بیا د ټولې اسلامي نړۍ د تسخیر یا کم تر کمه مشرۍ خیالونه وپالي. موږ ترې څنګه ځان داسې وساتو، چې اسلامي وروري او ښه ګاونډیتوب مو ورسره ټینګ وساتل شي؛ خو ملي ګټې او ملي استقلال مو زیانمن نشي.

- د ایران ولایت فقیه زموږ د افغان شیعه ورونو لپاره په سیاسي برخه کې ولایت فقیه نه دی. موږ باید خپل افغان شیعه ورونه دې لور ته وهڅوو، چې خپل مشران تر ایراني هغو لوړ

ketabton.com - The Digital Library



وګڼي. دا کار په تاریخ کې بېلګې لري او شیعه افغانانو د صفویانو پر ضد. چې د سیاسي مشرۍ تر څنګ یې شیعه مذهبي مشري هم په لاس کې وه، په داسې مېړانه د نورو افغان ورونو په څنګ کې مقابله کړې ده؛ چې تاریخ یې کمې بېلګې لري.

- عربستان، ترکیه او مصر هغه هېوادونه دي، چې د مسلمانانو مشري یې کړې ده، اوس هم ښکاري چې مشران او سیاسیون یې غواړي او له دې سره لېوال نه دي، چې نور اسلامي ملتونه او د هغوی په منځ کې افغانان دغه مقام ته کاندید شي.

- د څو تنو له خوا د اسلام په نامه د یوه انحصاري حکومت جوړولو مسئله هم د پام وړ ده، چې د نورو د محرومولو له لارې خطرناکو انتقام پالنو ته لار اوروي دیني عالمان، پوهان او د هېواد خبرګان باید پرې فکر وکړي او د حل او مخنیوي لارې ورته پیدا کړي.

- دا سمه ده چې د اسلام دین د نړیوالې مشرۍ قابلیت لري؛ او د هر مسلمان دنده ده چې د اسلام د اعتلا او نړیوالو ته یې د رسونې لپاره جدوجهد وکړي؛ خو غربیان، چې عملاً یې د نړۍ مشري په لاس کې ده او ددې مشرۍ لپاره وسایل، اداره، اراده او منابع لري، نه غواړي، چې دغه ځای ترې مسلمانان ونیسي؛ نو افغانانو ته په دې کې کم تر کمه په سیاسي برخه کې احتیاط پکار دی، چې په دې وخت کې، چې لا مسلمانان په مجموع او افغانان په ځانګړي ډول په کمزوري حالت کې دي،

ketabton.com - The Digital Library



دغسې لویې او لـه وختـه مخکـې خبرې او دعـوې وکـړي. د یـو ارمـان پـه توګـه دا ښـه خبره ده، چې د نړۍ مسلمانان متحد شي او یو نړیوال خلافت جوړ کړي؛ خو ددغه ارمان لپاره لا ډېره اوږده موده او لوی مزل په مخ کې پروت دی، او افغانان باید په یوازې توګه ددې لویې قربانۍ د لومړۍ لیکې پیاده عسکر نه وي.

- همدا راز کېدای شي د نړۍ حالات داسې لوري ته لاړ شي، چې دینونـه د لا زیـات تفـاهم پـر خـوا حرکـت وکـړي؛ او د مسلمانانو یـو والـی بیـا چاتـه خطر نـه؛ بلکې د تفـاهم او نـژدې والي لپاره یوه اسانتیا ښکاره شي. اسلام د دغسې نړیوال تفاهم د جوړولو استعداد او تجربه دواړه لري.

مـوږ بایـد خپـل اسـلامي هویـت وسـاتو، ویـې پـالو او پـرې وویـاړو؛ خـود اسـلام د اصـولو سره سم د نـورو تمـدنونو، د ینونـو او ملتونـو سـره د لا ښـه تفـاهم لپـاره کـار وکـړو او ګاونـډیانو، سیمې او نـړۍ تـه ډاډ ورکـړو، چې زمـوږ هېـواد او دیـن د هېچا لـه خوا د هېچا پر ضد نه استعمالېږي.

دا چـې ګاونـډیان مـو هـم زیـاتره اسـلامي هیـوادونـه دي، نـو کیـدای شـي د اسـلامي ورور ولـۍ او ښـه ګاونـډیتوب د اصـولو لـه مخـې د دوی لـه دولتونـو، ولـسونو، دینـې، ټـولینیزو او فرهنګـي ټولنـو او سازمانونو سـره د متقابـل درنـاوي او متقـابلو ګټـو د پرنـسیپونو پـر اسـاس ښـې اړیکـې ټینګـې کـړو او ورسره ویـې پـالو

لـه دیـن نـه لیرې والـی مـډرنیزم او پرمختـګ نـه دی، بلکـې یـوه

ketabton.com - The Digital Library



اشتباه ده، چې کله خوش باوره خلک فکر کوي، د دين نه په ليرې والي کې به دنيايي پرمختګ چټک شي. ختيځ او لويديځ دواړه د غسې تجربې لري او په لږ توپير دواړه د دينونو د متحدونکې رول تر پېژندنې وروسته بېرته دين ته راګرځېدلي دي، خو په لږ توپير.

اروپا او امريکا چې څومره سيکولر ښکاري، رهبران او مفکرين يې دې نتيجې ته رسېدلي، چې له يوې معنوي تکيه ګاه پرته دوی د نړۍ په منځ کې خپل تبارز او لوړوالی نه شي ساتلای او وايي چې عيسوي معنويت د غربي تمدن د ساتلو تضمين دی. د دوی هوښياري داده چې ملا يې په کليسا کې په درونند معنوي حالت کې کېنولی او سياستمدار يې ترې مشوره اخلي. کله چې د قوې او زور استعمال ته ضرورت پيښ شي، سياستمدار يې کوي؛ خو د رحم او جوړ جاړي خبرې يې له کليسا نه را پورته کېږي. د سړې جګړې پر مهال د امريکا تر ټولو پياوړي ولسمشر رونالډ ريګن دويم پاپ جان پال ته ويلي و، چې بې دينه کمونيزم به له منځه يوسي، خو د يوه عيسوي يو څاڅکی وينه به هم پکې تويه نه شي. په هغه وخت کې پاپ حيران و، چې ريګن څومره خيال باف دی، خو چې کله ورته معلومه شوه، چې کمونيزم د يو نيم ميليون افغان مسلمانانو په وينو مات شو او تر دوی يې امريکا او لويديځ ته څو چنده ګټه وکړه، نو پاپ ومنله چې ريګن واقعاً د دوی اتل دی.

زما يو ملګري په هند کې يې لوړې زده کړې کړې دي. ده ويل چې يوه ورځ په علمي سياحت تللو؛ په لار کې د کومې مذهبي ورځې د جشن په خاطر لاره بنده وه. دی وايي کله چې د دوی

ketabton.com - The Digital Library



پروفیسر دغه مېله ولیده، چې ټول خلک بېره کوي چې بت ښکل کړي، نو دی هم په بېړه له موټر نه ښکته شو او په منډه ورغی، او بت یې ښکل کړ. کله چې بېرته راغی او محصلینو ترې په حیرانتیا وپوښتل چې له دومره پوهې سره بیا هم دی یو بت ښکلوي؟ د پروفیسر ځواب یې داو: په همدې عنعناتو او همدې دین د هند نا متجانسه ټولنه چې سلګونه ټولنیز ګروپونه یکې ژوند کوي، راټوله او متحده ده او دا کار زموږ د وحدت او د هیواد د ثبات لپاره ضرور دی، که نه نو پروفیسر ویل چې په یوه عالي او واحد خالق عقیده لري. که هندي پروفیسر د خپل ملت د اتحاد لپاره دغسې کولای شي، نو په دې کې زموږ لپاره څه زیان دی چې د خپل برحق دین ساتنه او پالنه وکړو او عملي یې کړو. متاسفانه زموږ نیمه - باسواده ځوانانو له دین سره کله کله داسې افراطي برخورد کړی دی، چې دې هیواد او ملت یې ډېره لویه او درنه بیه ورکړې ده.

په مسلمانو هیوادونو کې هم څه بېرته د اسلام پر لور راوګرځېده، هغه ترکانو چې د اتاترک په وخت کې په نامه ملا ژوندی نه پرېښوده، اوس یې اکثریت خلک اسلام ته رایه ورکوي. مصر، پاکستان، الجزایر، سعودي او زیاتره اسلامي ملتونه اوس په دې پوه شوي، چې اسلام نه یوازې ددوی د اخروي بري تضمین دی، بلکې د دنیوي نیکمرغۍ او هیوادني ثبات، اتحاد او پرمختګ لومړنی او اساسي فکتور یې هم دی.

افغان مشران، سیاستوال او مفکرین باید دې ته جدي پام وکړي او د اسلامي تعلیماتو کلیدي او اساسي رول تل په خپلو سیاستونو او پروګرامونو کې په پام کې وساتي.

ketabton.com - The Digital Library

# ایا زموږ ملي هویت ټینګ دی که لړزاند؟

موږ یو واحد ملت یوو، چې لرغونی تاریخ لرو. تاریخ مو تل له نوساناتو ډک و. جګړې، کړکیچونه او بې ثباتي راته یو تاریخي میراث و او دی، خو په دغو ټولو بدمرغیو او ناتارونو کې بیا هم موږ یو او متحد وو. د لرغونې سترې اریانا او لوی خراسان د وارث په توګه، له احمد شاه بابا را وروسته دې هېواد یو افغاني هویت موندلی دی. په اسلام د افغانستان د خلکو ټینګه عقیده او په دغه جغرافیایي محدوده کې د یوه دولت تر سیوري لاندې ګډ ژوند له موږ سره په دې کې مرسته کړې ده، چې د یوه ملت په شان ژوند وکړو.

شا وخوا ګاونډي هېوادونه تر موږ یو څه ډېر سیاسي او موقعیتونه یې هم ښه دي، دوی هم زموږ په شان نامتجانس دي؛ خو زموږ په ملي مسایلو کې مداخله کوي؛ د زبرځواکونو بریدونه او یرغلونه دې لور ته را برابروي؛ او ځان روغ ساتي.

زموږ ملي هویت څرګند او روښانه دی. د نړیوالې انساني ورورولۍ په لوی کلي کې د اسلامي امت **افغان خپلواک کوریو**.

کله، چې د ولس منځ ته لاړ شئ؛ نو پوه به شئ، چې ټول

ketabton.com - The Digital Library



افغانان ځان یو او واحد بدن ګڼي او پوهېږي چې ټول افغانان مسلمانان او ورونه دي، چې په یوه هېواد کې اوسېږي؛ خو په ځینو تعلیم یافته وو کې بیا د قام، ژبې، سمت او ولایت په نوم د کینې او کرکې جوړولو ذهر خواره دي؛ او غواړي خپلو اجنداو ته د یو قوم د داعیې نوم ورکړي، چې په هیڅ صورت دغسې نه ده. دا ډول خلک د ګوتو په شمار دي؛ خو که څومره لږ هم دي؛ د ویروس په شان خورېدای شي، د بخري په شان ښارونه سېځلای شي او لوی او فاجعه بار خطرونه پېښولای شي.

د عوامو مثال: زه په بدخشان کې د یوه بزګر باغ ته لاړم، کله چې هغه پوه شو زه د بل ولایت یم؛ نو ټغر، توشکونه او بالښتونه یې راوړل او زموږ یې ډېر عزت وکړ، ما ترې پوښتنه وکړه، چې ولې یې زما ځانګړی عزت وکړ؟ هغه وویل: (موږ ورونه او مسلمانان یو، زه د کابل په یو روغتون کې بستر وم، د لوګر ولایت یو سپین ږیری راسره په یوه کوټه کې و، زامن به یې هره ورځ راتلل، د خپل پلار سر او ږیره به یې په شامپو مینځل او نوي پاک کالي به یې ورته راوړل په همدې ډول به یې زما سر او ږیره هم مینځل او نوي کالي یې راته راوړل خواړه، مېوه او درمل، خو لا پرېږده چې راوړل یې. له بستر نه تر خلاصېدو وروسته یې په کور کې مېلمه کړم او غوښتل یې، چې یوه اونۍ مې مېلمه وساتي او د دوی په وینا هغه وخت مې بېرته کور ته ولېږي، چې په مخ کې مې لږه سرخي پیدا شي؛ خو زما بیړه وه او د دوی په اجازه دوی په طیاره کې راولېږلم. نو اوس، چې دلته هر څوک له بل ولایت نه راشي؛ زه یې هومره عزت کوم، چې وس مې وي؛ ځکه، د مسلمان ورور احترام او عزت زموږ د

ketabton.com - The Digital Library



پیغمبر (ص) سنت دي.)

په تعلیم یافته وو هیوادوالو کې هم نژدې ټول د افغانستان په افغاني هویت ګروهمن دي. زما وروړ تېر کال د یوې پروژې د لیدنې لپاره مزار شریف ته تللی و. ویل یې چې، ډرېوریې له یوه بل انجنیر نه، چې هغه هم د پروژې د تفتیش لپاره هلته تللی و، پوښتلي و چې د کوم ځای یې؟ انجنیر ورته په ډېره حیرانتیا ځواب ورکړی و: (د افغانستان یم دا هم د پوښتنې خبره ده؟) وروړ مې ویل، چې ډرېوریې ورته ټینګ شو، چې خیر اخر د کوم ولایت او ولسوالۍ یې؟ خو هغه انجنیر ډېر تاکید کاوه، چې (راځئ دا خبره رواج کړو، چې ځان یوازې د افغانستان وبولو، او ځان ته افغان ووایو). په پای کې معلومه شوه، چې دواړه د یوه ولایت وو.

متاسفانه چې لا اوس هم په افغانستان کې دا منفي رواج دوام لري، چې زیاتره خلک ځان د دې په ځای چې په یو افغان هویت پورې وتړي، په پښتون، تاجک، ازبک، ترکمن او نورو قومي هویتونو معرفي کوي. ترڅو چې فرعي هویتونه په ملي هویت بدل نه شي، بهرنیانو ته زموږ ملي هویت لړزانده ښکاري.

متاسفانه چې ایران او روسیې او وروسته پاکستان او نورو هېوادونو په تېرو کلونو کې د افغانستان د ملي هویت د کمزوري کولو لپاره ډېر منفي مداخلې وکړې او ځینې کم فکره اشخاص یې دې ته استخدام کړل چې د افغانستان د ملي هویت او ملي ویاړونو د سپکاوي تر کچې تخریب وکړي، چې ورسته نورو ملکونو هم د دوی په پلونو پل کېښود او زموږ د واحد ملت په منځ کې یې د نفاق جوړولو هڅې وکړې. خو بیا هم ملت

ketabton.com - The Digital Library



دغو نارو سورو ته غوږ نه نیسي او خپل ملي یووالی تر هر څه لوړ او ښه ګڼي.

یو بل ټکی د پام وړ دی او هغه دا چې ددې ګوتو په شمار تعلیم یافته وو په مغزو کې هم دا خبرې زیاتره هغه وختونه را ژوندۍ کېږي او فعالېږي، چې په هېواد کې بې ثباتي، جګړې او ستونزې وي. دا ډول فرصت طلبه خلک په همدغسې ګران وخت کې یا پخپله او یا د نورو په لمسه ولس ته اضافي ستونزې پیدا کوي او په تېپونو یې مالګې دوړوي.

تر هغه چې نړۍ او بشریت دومره پرمختګ نه وي کړی چې (زموږ دا آبي، کوچنۍ او ښکلې کره) د ټولو ګډ کور شي، هر څوک هر چېرته د کار، اسانتیاوو او فرصتونو د میندلو لپاره آزاد تګ راتګ وکړي، ملي هویت یو ضرورت دی او افغانان باید د خپل ملي هویت مسئله جدي وګڼي او تر دې حده یې لوړه کړي، چې په ملي هویت او ارزښتونو نفاق زېږوونکي بحث، پوښتنو او جنجال ته پکې حتی اجازه هم نه وي. امریکایان ځان امریکایان ګڼي، د پاکستان خلک پاکستانیان، د ایران او سیدونکي ځانونو ته ایرانیان وايي او د روسیې هغه روسان. موږ افغانان هم حق لرو؛ چې ځانونه افغانان وګڼو. باید ځانونه فقط افغانان وګڼو او بس.

تر څو چې پاکستاني، عرب او ایراني ځان په دغو نومونو یادوي، موږ به هم ځانونه افغانان یادوو، ځکه قامونه او قبیلې الله(ج) د دې لپاره پیدا کړي دي، چې وپیژندل شي او دغه پیژندنه او هویت اوس یو بشري حق ګڼل کیږي. که ټول مسلمانان یو اسلامي او یا ټول بشریت یو بشري هویت لري، موږ هم د دوی په لیکه کې د دوی څنګ ته ولاړ یوو، او دا د ملي هویت او ملي شناخت سره په تضاد کې نه بلکې ورسره په توافق کې یوه خبره ده.

***

ketabton.com - The Digital Library

# په افغانستان کې د ژبو مسئله

ژبې د تفاهم او پوهاوي وسيلې او د انساني تفکر او کلتوري ميراثونو د لېږد عرادې دي. هره ژبه د ټول بشريت يوه ګډه پانګه ده، چې ساتنه، پالنه او روزنه يې پکار ده. د يوې ژبې مړينه د بشريت د ګډ تفکر يوه پانګه وژني او له منځه يې وړي.

د اسلام د روښانه دين له مخې د انسانانو د ژبو او رنګونو رنګارنګي د الله جل جلاله د قدرت له نښو څخه دي او هر قام ته پيغمبر ځکه د هغوی پخپله ژبه لېږل شوی دی، چې پيغام ورته روښانه ورسول شي.

ژبه بايد د تفوق، برتری، تعصب او ناروا سياسي هدفونو لپاره ونه کارول شي او د هغو اصلي غرضونو لپاره وپالل شي، چې د خلقت منظور يې دي.

ملګري ملتونه هر کال يوه ورځ د مورنۍ ژبې د نړيوالې ورځې په نوم نمانځي او بشريت هڅوي، چې ټولې ژبې د پوهاوي، زغم او خبرو اترو پر بنسټ د بشريت د ګډو ميراثونو په توګه وګڼي او په مورنۍ ژبه زده کړې د متوازنو انسانانو د روزلو لپاره د نورو ژبو او نورو پوهنو په څنګ کې په جدي ډول

ketabton.com - The Digital Library



په پام کې ونیسي.

په نړۍ کې اوس ۷۰۰۰ ژبې موجودې دي، او که ملتونه او هیوادونه وکولای شي، چې ټولې ژوندۍ وساتي، نو د ګڼو بشري کلتوري میراثونو په ساتلو کې به یې خپله مثبته ونډه اخیستې وي، خو متاسفانه د دغو ۷۰۰۰ ژبو څخه یې زیاتره چې د ویونکو شمېر یې تر ۱۰۰۰۰ کم دی؛ د له منځه تللو له خطر سره مخ دي. ژبې باید د تفاهم او نږدې والي په وسیلو بدلې شي؛ خو که څوک د ژبې پر بنسټ د بیلتون هڅې کوي، نو ۷۰۰۰ بیل هیوادونه نه شي جوړېدای، ځکه بشریت پر دې لګیا دی، چې څنګه د لویو اتحادونو پر لور لاړ شي، نه دا چې د کوچنیو فکرونو په اساس شاته لاړ شي.

افغانان متل لري، چې ژبه هم کلا ده، هم بلا، دا متل د شخصي او انفرادي مسایلو په څنګ کې په ټولنیزه کچه هم معنا لري؛ ځکه کله- کله د ژبې مسئله د ډېرو ګرمو سیاسي بحثونو په ډول مطرح کېږي او د بیلتون او نفاق اورته د بیوزي کار ترې اخیستل کېږي. دغه ډول ګرم، احساساتي او بې بنسټه بحثونه ځکه مورد نه لري، چې افغانانو د خپلو پرېکړو په تر ټولو لوړو مراجعو (لویو جرګو) کې د دې مسئلې سیاسي اړخ حل کړی دی.

د شلمې پیړۍ له پیل نه په افغانستان کې د ژبې مسئلې د حل لپاره څو دریځه موجود وو:

- دري دې د افغانستان یوازنۍ رسمي ژبه وي؛ ځکه همدا ژبه مروجه او په دولت او اداري چارو کې حاکمه راغلې ده او

ketabton.com - The Digital Library



ضرور نه ده، چې بدلون راشي.

- پښتو دې د افغانستان یوازنۍ رسمي او ملي ژبه وي؛ ځکه د نړۍ په زیاترو هېوادونو کې د اکثریت ژبې رسمي وي.

- پښتو او دري دې دواړه د افغانستان رسمي ژبې او پښتو دې ملي ژبه وي.

- پښتو او دري دې په افغانستان کې رسمي ژبې وي. نورې ژبې دې هم په هغو سیمو کې رسمي وي، چې وګړي پرې هلته خبرې کوي.

پخوا د لومړنیو دوو نظرونو لپاره مباحثې روانې وې، چې ځینې به په ښه نیت او ځینې ممکن د بد نیت له مخې وې؛ خو د ۱۳۴۳ کال اساسي قانون د لویې جرګې په منظورۍ دریمه نظریه ومنله، چې پښتو او دري دې دواړه د افغانستان رسمي ژبې او پښتو دې ملي ژبه وي. اوسني اساسي قانون څلورمه نظریه تایید کړې ده، چې پښتو او دري دې په افغانستان کې رسمي ژبې وي. نورې ژبې دې هم په هغو سیمو کې رسمي وي، چې وګړي پرې هلته خبرې کوي. دا نظریه په اساسي قانون کې تسجیل، او په لویه جرګه کې منل شوې ده.

ځینې د زړو فکرونو خاوندان اوس هم په دې فکر دي، چې د ځینو ژبو ویونکو ته د دوی په مورنیو ژبو د زده کړو او معلوماتو رسولو امکانات کم کړي؛ او د پرمختګ په مخ کې یې پاټکونه واچوي او په اوږده موده کې ځینې ډموګرافیک اکثریتونه او اقلیتونه سرچپه کړي. دا نه عملي او نه انساني خیال دی. لومړی دا کار شونی نه دی، ځکه د نفوسو د ډېرېدو ډینامیک ډېر نور فکتورونه لري او که د دغسې تنګ نظرو په فکر ځینې ګروپونه ځینو سیمو ته راځي او په نورو کې به

ketabton.com - The Digital Library



منحلېږي، نور تر زرو ډېر کلونه به ونیسي. دوی د راتلونکو زرو کلونو د تعصب فکر کوي، خو نن د خپلو وطنوالو د اولادونو د باکیفیته پوهنې او متوازنو انسانانو د روزنې او ولسونو ته د معلوماتو د رسېدو د بشري حق د پایمالولو ګناه پر غاړه اخلي، او خپل دنیا او آخرت دواړه خرابوي.

اوس، چې د ژبو مسئله په اساسي قانون کې حل شوې ده، د سیاسي کېدو او اختلافي کېدو مجال یې نشته او یوازې علمي، پیداګوژیک، عملي او پراګماتیک اړخونه یې باید حل شي.

الف: افغانستان تر پښتو ډېرشو زیاتې ژبې لري، چې د بشریت ګډې کلتوري پانګې ته یې ډېر څه ورکړي دي، اړوند دولتي او نادولتي ادارې دې په دې اړه علمي او عملي پروګرامونه جوړ او عملي کړي، چې د نړۍ په دې ګوټ کې د بشریت دا ګډ میراثونه بېوساتل شي او لا وپالل شي.

ب: په مورنۍ ژبه د زده کړو او د مورنیو ژبو د زده کړو مسئله: تر اوسه هم په لکونو افغان ماشومانو ته په مورنۍ ژبه د زده کړو زمینه نه ده برابره شوې او ملي، دولتي او نادولتي اړونده ادارې دې په دې باب کوټلي، عملي او جدي ګامونه واخلي.

ج: د کارمیندلو د زمینو زیاتوالی: که هر افغان داسې وروزل شي، چې دواړه رسمي ژبې ولیکلی او وویلی شي، د هیواد په ۳۴ ولایتونو کې به د کار زمینې ورته برابرې وي او د

ketabton.com - The Digital Library



کونږ یو فارغ به په اسانه په بدخشان او د فاریاب هغه به په خوست کې کار کولای شي، که نه وي له ستونزو سره به مخ وي. همدا راز که زموږ فارغان یوه بهرنۍ ژبه او یو مهارت زده کړي، په نړیوال مارکیټ کې به هم د کار زمینې ورته برابرې وي.

د: د معلوماتو او خبرتیاوو رسول: دا د هر انسان حق دی چې ورځنیو مسایلو او معلوماتو ته لاسرسی ولري، چې پخپله ژبه ډېر ښه تر سره کېږي، نو د امکان په صورت کې په ټولو ژبو د معلوماتو خپرول، ټولو ته یې رسول او دغه امکانات برابرول د ولسونو د حقونو په تامین کې یو بریالیتوب ګڼل کېږي.

و: د لانجمنو مسلو د حل لپاره دې علمي سیمینارونه جوړ شي او تر علمي سپارښتونو ورسته دې د قانوني لایحو له لارې ستونزې اوارې شي. متاسفانه د افغانستان په اساسي قانون کې د ملي ټرمینالوژۍ په باب یو ابهام موجود دی، چې کله کله خبره اختلافاتو، مطبوعاتي ناندریو او حتی ټولنیزو خفګانونو ته رسوي.دا ډیره د خفګان خبره ده چې د یو ستر ملت لوی لوی پوهان د کلیمو او لغتونو او ژبنیو او ګرامري مسلو پر سر لویې لویې ناندرۍ جوړوي، خو عملي او علمي آواري ته یې زمینه نه جوړوي. په کار ده چې د دولت او حکومت مسول چارواکي د دې ابهام د لېرې کولو او په دې باب د یوې ملي اجماع لپاره یوه دقیقه پالیسي جوړه او دا ستونزه د علمي او قانوني مجراوو له لارې اواره کړي. په افغانستان کې د ژبنیو ستونزو د حل یوه لاره د دوه ژبې تعلیمي نصاب جوړول دي، چې علمي، حقوقي پشتوانه لري او د عملي کیدو وړ ده. لکه په یو بل بحث کې چې ورته اشاره وشوه، ملي ټرمینالوژي یوازې ژبنۍ مسله نه ده؛

ketabton.com - The Digital Library



بلکې زياتره په ملي هويت پورې اړه لري، او له بلې خوا د دې لپاره نه مطرحيږي، چې د کومې خاصې ژبې د کليمو او لغتونو د د فاع په خاطر وي، بلکې د هغه څه په خاطر بايد وشي، چې په دې برخه کې پرې زموږ له ورورنو او ګاوند يانو څخه زموږ ملي تشخص وشي.

موږ په داسې ځاى او وخت کې اوسيږو چې محلي او رسمي ژبې لرو او د نړيوالو ژبو له چټک راتګ سره هم مخامخ يو. ژبه د نورو ښېګڼو په څنګ کې د ملي هويت لپاره هم مهمه ده، او زموږ ژبې زموږ د ملي هويت هنداري دي. د ژبو رنګارنګي پخوا د ملي يووالي او ملت جوړونې پر لور کله کله يو خنډ ګڼل کېده، خو اوس يو فرصت او غنيمت شمېرل کېږي او د ملت په يو باغ کې يې د رنګارنګ ښکلو ګلونو او يا د طاوس د بڼکو د رنګارنګۍ سره تشبيه کوي.

د نړۍ له نژدې ۲۰۰ هيوادونو څخه يوازې ۱۳ يې يوه ژبه لري، او نور ټول ګڼ ژبي دي. جالبه پکې داده چې له جرمني او جاپان پرته د نړۍ نور ټول لوی او با ثباته هيوادونه د ګڼو ژبو لرونکي دي.

دا ژبه نه ده چې د يو ملت د غړو د بيلتون سبب کېږي، بلکې په سياسي واک کې انحصار، په ټولنيزو اړيکو کې بې عدالتي، په اقتصادي منابعو کې تبعيض او په انکشاف کې بې توازني ده چې ولسونه او وګړي يو د بل نه خوابدي کوي او يو د بل پر وړاندې يې دروي. بهرنۍ مداخلې بيا پر دغو ستونزو تېل پاشي او اور ورته لګوي.

ketabton.com - The Digital Library



په ۲۰۰۸ کال کې په تایلنډ کې یوه علمي غونډه وشوه او د ژبو د پالیسیو متخصصانو پکې په لاندې موضوعاتو علمي طرحې وړاندې کړې:

- د ژبو پالیسي او پلان
- د ژبو پالیسي او دلانجو په حل کې يې رول،
- د دوه ژبې او څو ژبې پوهنې پالیسي او کړنې
- په نا انګلیسي سیمو کې په انګلیسي ژبه پوهنه، ښوونه او روزنه،
- د ژبو پالیسي او د قومي-ژبنیو لږکیو ژبې
- د نړیوالو، ملي او سیمه ییزو ژبو د ژباړې پالیسي
- د ملي ژبو د چوکاټ جوړول،
- د ژبو پالیسي او د ملګرو ملتونو د زریزې هدفونه (ټولو ته د پوهنې د برابرولو د هدف په ګډون)،
- د ژبو پالیسي ګانې او ټولنیز-اقتصادي تیوري،

د ژبو وده د کورنیو قامي -ژبنیو لانجو د مخنیوي لپاره ضرور ده، او ټولو بیدارو څو ژبو او ګڼ قامیزو هیوادونو او ملتونو ددې لپاره مخکې له مخکې معقولې پالیسیانې جوړې کړې دي.

د کاناډا، سویس، اتریش، هند، سویډن او ناروې په شان نور ډېر هیوادونه خپلو ماشومانو ته په څوګونو مورنیو ژبو زده کړې برابروي او په هیوادونو کې يې څو ژبې رسمي دي، خو ملي یووالی يې ټینګ او پیاوړی دی. په سویډن کې که یو ماشوم هم په مورنۍ ژبه د زده کړې امکانات ونه لري، د ښوونځي اداره يې هڅه کوي، ددې یو ماشوم ستونزه هم حل

ketabton.com - The Digital Library



کړي او چې بله چاره پیدا نه کړي، نو له مورو پلاره یې هیله کوي، چې دغه ماشوم ته د مورنۍ ژبې د تدریس لپاره همکاري وکړي.

په څو ژبي او څو قاميزه اروپايي اتحاديه کې په کور او ښوونځي کې په مورنيو ژبو د زده کړې او معلوماتو د رسېدو لپاره يوه دقيقه پاليسي جوړه شوې، چې د Phenomenological، ډموګرافيک، ټولنيز -ژبني، ژبنيو حقوقو، پوهنيز او ښوونيز او عمومي شپږو ليدلورو متمرکزه ده.

دوی دې نتيجې ته رسېدلي دي، چې بايد د مورنۍ ژبې زده کړه له څو ژبيزې زده کړې په چوکاټ کې په ګڼ کلتوري اروپا کې وده وکړي او ټولو ته ددې زمينه برابره شي، چې د مورنيو ژبو په څنګ کې دوه نورې ژبې هم زده کړي. ماشوم په دغه عمر کې د ډېرو ژبو د زده کړې وړتيا لري او بايد په افغانستان کې هم داسې پاليسي ګانې جوړې شي، چې د مورنۍ ژبې په څنګ کې د هېواد د بلې رسمي ژبې او يوې بهرنۍ ژبې زده کړه له لومړي سره پيل شي. بهرنۍ ژبه کېدای شي په ساينسي علومو کې انګليسي وي او په قضا، قانون، حقوقو، ديني زده کړو او نورو ورته څانګو کې پر دې سربېره د عربي ژبې زده کړه هم په پام کې ونيول شي.

***

ketabton.com - The Digital Library

# اقلیت او اکثریت

اقلیت او اکثریت د پخواني مفهوم پر خلاف یوازې د قام د شمیر پر بنسټ نه مطرحیږي؛ بکلې ټولنیز دریځ، اقتصادي توانمني، پوهه، د شتمنۍ لړل، په سیاسي واک کې برخه، د پرثمره کار او دندې لړل، د دولتي او نا دولتي ادارو په لوړو پوړیو کې استازولي، فرصتونو او د ودې زمینو ته لاسرسی او نور ډېر فکتورونه شته چې د اقلیت او اکثریت د پېژندلو شاخصونه دي.

ځینې څېړنې په ډاګه کوي چې په نړۍ پخوا هم؛ او اوس هم ښاغلیو اقلیتونو حکومت کړی او کوي یې. همدا اوس د نړۍ په سلو کې اتیا منابع د شل فیصده هوښیارو، چالاکو یا زړورو خلکو په لاس کې دي. د زیاتره هیوادونو د دولتونو اساسي ماشینونه هم ښاغلي اقلیتونه (Gentle Minorities) چلوي. پخوانۍ پادشاهۍ او سترې شاهنشاهۍ د کوچنیو هوښیارو او پیاوړو کورنیو له خوا چلول کېدې، خو څومره چې پوهه او آزادي زیاتېږي، لا ډېر خلک په واک او ژوند کې فعالېږي او د بشریت د عمومي پرمختګ سره موازي په دې توازن کې مثبت بدلون راځي.

که څه هم د اکثریت او اقلیت قوم، ژبې، مذهب او ټولنیز ګروپ مسله اوس هم په ګرمو بحثونو کې مطرحېږي، خو ډېر

ketabton.com - The Digital Library



داسې عددي اکثریتونه شته چې د پورته شاخصونو له مخې ډېر کم حقونه ورکړل شوي، یا یې تر لاسه کړي او په عمل کې اقلیتونه دي.

د اقلیتونو له کلیمې سره سم د مدني حقوقو او ډله ییزو حقونو مسله راولاړېږي او د دې مسلې داعیان ادعا کوي، چې د اقلیت ګروپونو مدني حقوق دې په ډله ییز ډول په پام کې ونیول شي. دوی وایي چې بېلابېل ګروپونه جلا حقونه لري او باید هر ګروپ په پام کې ونیول شي: لکه د زده کوونکو حقونه، د کارګرانو حقونه، د کونډو حقونه، د معلولینو حقونه، د ښځو حقونه، د کوچنیانو حقونه او داسې نور. زیاتره دا لاندې ګروپونه هم د اقلیت په کټه ګوریو (ډلو) کې راوستل کېږي: نژادي او یا قومي اقلیتونه، د جنس پر بنسټ اقلیتونه، مذهبي اقلیتونه، د عمر پر بنسټ اقلیتونه، معلول اقلیتونه، د قانون او دولت له ښېګڼو محروم اقلیتونه او نور.

ددې پر خلاف نور بیا وایي چې معیار باید ګروپ او ډله نه؛ بلکې فرد وي، هر انسان له موره مستقل او آزاد پیدا شوی او یو جلا جهان دی، چې په کرامت او شرافت کې مساوي او د هر بل انسان په شان خپل وروستني پوټینشل ته د رسېدو او له هر ډول فرصتونو نه د روا استفادې حق لري او باید دغه حق یې ورکړل شي. دا ډله د فردي حقوقو د تعمیم او مساوات غوښتونکي دي او قوم او رنګ، ژبه او مذهب، ټولنیز او اقتصادي ګروپ او نور پکې په پام کې نیول مهم نه ګڼي.

اوس د ژوند په بېلابېلو برخو لکه اقتصاد، مارکېټ،

ketabton.com - The Digital Library



تجارت، کلتور، هنر، ادب، سیاست او نظام ټولو کې دغو برخو ته پام کېږي او ملتونه هڅه کوي، چې په هره برخه کې د خپلو وطنوالو برخه اخیستنه یقیني کړي.

د نړۍ په نژدې ۲۰۰ هیوادونو کې داسې هیواد نه شته، چې د قوم، ژبې، مذهب او کلتور له نظره دې پکې مطلق وحدت موجود وي. بلکې برعکس د دغو برخو رنګارنګي طبیعي ده او که احیاناً کوم ملک دغسې وحدت ولري هم، ډیر ژر به د رنګارنګۍ پر لور ځي، ځکه د انسانانو تر منځ د راشې -درشې او پوهاوي بهیر دومره ګړندی شوی، چې له نړۍ یې یو کلی جوړ کړی دی او ملتونه نور ځانونه د وسپنیزو پردو شاته نه ایساروي او نه یې شي ایسارولی.

افغانستان د ډېرو نورو هېوادونو په شان له ګڼو قومونو جوړ دی. دا طبیعي ده، چې ځینې قامونه به لوی او ځینې به واړه وي؛ خو که د افرادو تر منځ حقوقي مساوات تامین شي او ځانګړو ګروپونو ته ځانګړې پاملرنه هم له پامه ونه غورځول شي؛ د اقلیت او اکثریت د مسئلې مطرح کول بې مورده کېږي.

پخوانۍ نظریه دا وه، چې اکثریت قام باید د هېواد مشري وکړي؛ ځکه دا د خپل نفوس په تناسب د هېواد په ساتنه او دفاع کې تر نورو ډېره برخه اخلي، پخوانیو فیلسوفانو؛ لکه منتیسکیو لا ویلي وو، چې که اقلیت خپل بادار هم وټاکې؛ دی ځان محروم احساسوي، او اقلیتونه که هر څومره ډېر امتیاز واخلي؛ بیا هم فکر کوي، چې ټوله برخه به تر دې زیاته وي، چې دوی ته پکې څه رسېدلي دي. دا زړې فرضیې دي، خو په

ketabton.com - The Digital Library



معاصر وخت کې هر تبعه یا سیټیزن د یوه هېواد یو د مساوي حقوقو او مساوي وجایبو لرونکی فرد دی او حساب په قومونو نه؛ بلکې په افرادو کېږي. محروم ټولنیز ګروپونه او ګرانې، محرومې سیمې او ځینې تجرید شوې ولسي کتلې تر خاصې پاملرنې لاندې نیول کېږي، خو له هغه پرته د یو هېواد ټول اتباع د مساوي حیثیت او واک لرونکي وطنوال دي؛ چې غربیان ورته CITIZEN او ایرانیان ورته شهروند وایي.

په سپیڅلي اسلام کې تر دغه زیات پرمختګ ۱۴۰۰ کاله مخکې راغلی و او د اسلامي ټولنې یو غړی د بل غړي وطنوال څه چې ورور یې وګڼل شو. په هاغه وخت کې حبشي بلال له فارسي سلمان، قریشي ابوبکر او نورو جلیل القدرو اشخاصو سره د ورورۍ په ټینګو مزو وتړل شول. دا سمه ده چې د ورورۍ دغه اړیکې د مسلمانانو او مومنانو تر منځ وې، خو د انساني کرامت د مساوي توب جنډه هم د لومړي ځل لپاره د بشریت په تاریخ کې اسلام ورپوله او د یو انسان مرګ او ژوند یې د ټول بشریت له مرګ او ژوند سره مساوي وګاڼه.

که په رښتیا د یوه هېواد هر وطنوال ته له ډېرې ورې دندې نیولې تر ولسمشر کېدو پورې ټول فرصتونه په مساوي ډول برابر کړل شي او د شفافو، معلومو او کنټرولېدونکیو معیارونو له مخې هر چاته د مساوي برخې اخیستنې او هڅې زمینه برابره شي؛ نو کېدای شي یو داسې فرد د هېواد مشر شي، چې که د قام، ژبې او مذهب په اکثریت یې وسنجوي؛ کومه فیصدي جوړه نکړي؛ خو شرط دادی، چې دغه هېواد خپل بنسټونه او ملي هویت دومره پوخ کړي او د ولس په ذهن

ketabton.com - The Digital Library



کې یې ملي ګټو ته وفاداري دومره روزلې وي، چې هر وګړی ځان تر بل هر چا ډېر دغه هېواد ته وفادار او ژمن وګڼي.

د زیانمنېدونکو ګروپونو لپاره اضافي تدابیر نیول او ورته ځانګړي خدمتونه تر سره کول، ددې مخه نه نیسي، چې دوی او یا نور به د وطنوال په توګه د مساوي فرصتونو نه بې برخې کېږي او یا به دوی د نورو برخه خوري، بلکې دا به د نورو مساوي وطنوالو په منځ کې د کورنۍ د هغو غړو په شان ګڼل کېږي، چې د ناروغتیا او یا ستونزو پر مهال یې ځانګړې څارنه او خدمت کېږي، چې په دې صورت کې له اصولو نه پورته د مینې عنصر هم په ټولنیز ژوند کې شاملېږي.

په افغانستان کې لا هم ځینې کارونه داسې کېږي، چې که یو متمدن انسان ته یې ووایې، نو له حیرانتیا او افسوس پرته به بل څه ونه کړي. د بیلګې په توګه: د ملي دفاع وزارت پوستونه په قومونو وېشل شوي دي. د یوه قام خلکو ته د بل قام تذکرې جوړې شوي، نامسلکي کسان ځای په ځای شوي او مسلکي او روزل شوي کسان له دندو شړل شوي دي، چې دا کار زموږ د وروسته پاتې والي ډېر بد انعکاس خپروي او دا ثبوتوي چې موږ لا اوس هم د منځنیو پیړیو تر وګړو وروسته روان یوو. معیار باید افغان تابعیت او تر هغه وروسته پوهه، تجربه، ښه سابقه، مهارت او صداقت وي، نه قام، ژبه، سمت او ولایت.

په امریکا کې د بارک اوباما ولسمشر کېدل نړۍ ته یو درس دی، چې د خپل ولس ټولو افرادو ته د ودې او پرمختیا مساوي فرصتونه برابر او د عالي ترین استعداد لرونکي د هېواد تر ټولو

ketabton.com - The Digital Library



لوړو مقامونو ته ورسوي.

که څه هم ښه نظر دادی چې د افرادو تر منځ حقوقي برابري د اقلیت او اکثریت مطرحولو ته اړتیا له منځه وړي، خو په عمل کې لا هم ستونزې او ګیلې ګوذارې وجود لري. د دی یو علت دا دی چې په افغانستان کې سمه او کره سرشمیرنه نه ده تر سره شوې او هر څوک په دې شک کې دي، چې تر اصلي اندازې کم شمیرل کیږي، له بلې خوا بهرني لوبغاړي د خپلو ناروا سیاسي ګټو لپاره د افغانستان د وګړو او بیلابیلو ټولنیزو ګروپونو واقعیتونه تحریفوي؛ او څکه خو یوې مسلکي، کره او بې پرې عمومي سرشمیرنې ته ډیره اړتیا ده.

تر څو چې ټولنیز قراردادونه د فرد او ټولنې د ګټو پر محور او د شفافو معیارونو پر بنسټ نه وي جوړ شوی، سیاسي تجاران لا هم د حقدار اکثریت او محروم اقلیت په نوم بېوزلي انسانان د خپلو شخصي ګټو لپاره استعمالولای شي.

خو ولس باید د دغو تجارانو تجارت ودروي !!!

***

ketabton.com - The Digital Library

# متوازن انکشاف

متــوازن انکــشاف دادی چــې د کلیــو، ښــارونو اوبېلابېلــو ټــولنیزو ګروپونــو ټولــو وګــړو تــه د ټــولنیز – اقتــصادي پرمختــګ او تحــرک، پــه طبیعــي زېرمــو د کنټــرول او د ســیمه ییــز انکــشاف یــو ډول زمینــې اویــو شــان فرصــتونه برابــر شــي، چــې هغــوی نیکمرغــۍ تــه د رســېدو لار او لــه خپــل پوتنــشیل نــه د کــار اخېستلو وس پیدا کړي.

د متــوازن انکــشاف لپــاره انــساني انکــشاف تــر ټولــو ضــرور دی چې د ښه کولو او ښنګه کولو لپاره د خلکو د انتخاب چانسونه ډېروي او د ټولنــو، ملتونــو او هیوادونــو د انکــشاف اساســي روح جــوړوي. د ولــسونو او ســیمو تــر منــځ د منــابعو عادلانــه وېــش ډېــر مهم دی، چې ټولــو ولــسونو تــه پــه هېــواد کــې د مالکیت او کوربــه تــوب احــساس ورکــوي او د هېوادنیــو مــسوولیتونو پــه وړانــدې د دوی ژمنتوب پیاوړی کوي.

اوس چــې مــوږ پــه کومــه زمانــه کــې اوســېږو د چټکــې پرمختیــا دوره ده او پــه کومــه نړیوالــه حــوزه کــې چــې زمــوږ هیــواد پــروت دی، بدلونونــه پکــې د چټکېــدو پــه کــال کــې دي او مــوږ تــرې ضــرور

ketabton.com - The Digital Library



اغېزمنېږو.

فقر یوازې د مالي منابعو د نه لرلو ستونزه نه ده، بلکې تر دې ډېره اوچته ده، چې ډېر بعدونه لري: اساسي زیربناوو، منابعو او خدماتو ته نه لاسرسی، د بشري قوې د انکشاف کمی او د سیاسي نمایندګۍ نه تضمین د وګړو او ګروپونو د عمومي انکشاف مخه نیسي او دوی د بدلېدونکو حالاتو، شخصي او طبیعي آفاتو او د ځینو نورو وګړو د استثمار په وړاندې زیانمنېدونکي کوي.

د نامتوازن انکشاف درې اساسي سببونه دادي: طبیعي فکتورونه، ټولنیز او کلتوري فکتورونه او سیاسي فکتورونه.

۱. طبیعي فکتورونه لکه سختې او غرنۍ جغرافیې، د لارو او پلونو نشتوالی، بندشونه، لیرې فاصلې، خرابه هوا، د طبیعي زېرمو کمی، کرنیز- اقلیمي شرایط او نور.
۲. ټولنیز او کلتوري فکتورونه، لکه ارزښتونه، دودونه- رواجونه چې ولسونه او وګړي د انکشاف، نوښت، تجارت، او ټولنیز- اقتصادي خوځښت منلو او یا نه منلو ته هڅوي. په دې برخه کې د ښار او کلي په خلکو کې توپیر ډېر وي: د کلي خلک مغروره او مېلمه پال دي، د لانجو او ستونزو پخپلسر اوارې ته مجبورېږي، قومي مسایل، او نور یې بوخت ساتي. ځینو ته واړه کارونه تر خپل شخصیت ټیټ ښکاري، سوداګرۍ او تجارت ته کله کله ښه نه ګوري، د لویو کورنیو په سیستم ډاډه یې لا زیات تحرک ته نه پرېږدي، خو احساسات، مینه او همدردي پکې ډېره وي. د ښار خلک په یو بل پورې تړلي نه دي، هر څوک خپله چاره

ketabton.com - The Digital Library



کوي، اړیکي یې زیاتره د کار په اړه وي، په فرصتونو پسې ګرځي او د مسایلو د حل لپاره په حکومتونو تکیه کوي. له بلې خوا د ښار او کلي امکانات هم توپیر لري: په کلي کې په کرنه او مالدارۍ ډېره تکیه ده، چې هغه هم په هوا او اوبو پورې ډېر تړلي دي، خو په ښار کې فرصتونه رنګارنګ دي. په کلیو کې د زده کړې زمینې او د مهارت لاس ته راوړلو امکانات کم، خو په ښارونو کې ډېر وي.

۳. سیاسي فکتورونه، لکه دا چې ښاري او کلیوالي سیمې او یا ځینې ځانګړې سیمې د واحد سیاسي سیستم لاندې نه وي راغلې، په سیاسي پرېکړو کې د ټولو ګډون نه وي یقیني شوی، سیا سي نماینده ګي عادلانه نه وي ، د سیمو او ټولنیزو ګروپونو تر منځ د سیاسي واک په توازن کې توپیر موجود وي، د منابعو د ویش نا عادلانه پالیسي ګانې موجودې وي، د ترانسپورټ او اړیکو شبکې نه وي موجودې او د کلیو او محرومو سیمو لپاره د ځواکمنولو ځانګړې پالیسیانې نه وي موجودې.

پر دې درې لویو سببونو سربېره جګړو هم د افغانستان متوازن انکشاف ته ډېر زیان رسولی دی، ځکه جګړې خصوصا دا وروستنۍ جګړې په ځانګړو سیمو کې متمرکزې دي او د یوې لویې بې توازنۍ سبب کیږي، چې بیا به یې جبران ډېر زیات ګران وي. د ختیځ او لویدیځ جرمني تر یو ځای کیدو وروسته ۱۰۰ میلیارده مارکه په دې ولګول شول، چې د دواړو خواوو تر منځ راولاړه شوې بې توازني له منځه یوړل شي، خو لا هم د کارکدرونه له ختیځ نه لویدیځ جرمني ته د تګ په حال کې دي، او د نفوسو، انکشاف، خدماتو او کیفیت لویې

ketabton.com - The Digital Library



ستونزې یې ورته پیدا کړې دي. په افغانستان کې هم د سیمو نا متوازن انکشاف پر دغو ستونزو سربیره د جګړو او ملي امنیت ته د ګواښ تر کچې ستونزې را منځ ته کولای شي.

د نویو پرمختګونو په رڼا کې نوې ستونزې یا چلنجونه را مخې ته کېږي: له ښوونیزو ادارو نه ډېر زیات فارغان په اسانه کار نه شي میندلای، د کار منیدنې لپاره مسابقه پیاوړې کېږي او د کلیو فارغانو ته د فرصتونو دروازې لا بندېږي. بهرنۍ پانګې چې زیاتره د زیاتې ګټې په لټه کې وي، هم په ښارونو کې د تمرکز له امله د کلیوالو لاسونو ته کمې رسېږي. د اقتصادي بحران اغېزې هم هغه څه دي چې دواړه کلي او ښار زیانمنوي. که څه هم د معلوماتي ټکنالوژۍ او ترانسپورټي سیستمونو پرمختیا د ښار او کلي توپیر کموي، نژدېوالی زیاتوي او یو بل ته رسېدنه او پوهاوی ښه کوي، خو طبیعي ده چې دا خدمتونه هم لومړی ښارونو ته رسېږي، خو دا اسانتیاوې دواړو ښاریانو او کلیوالو ته ګټه رسوي او تل په مارکیټ کې د کار خلک حاضرېدای شي. نوي رابرسېره کېدونکې پرمختیاوې که څینې ستونزې حلوي، څینې نورې راپیدا کوي.

که څه هم د نامتوازن انکشاف ټولې ستونزې او ټول سببونه په یو ځل نه شي حلېدای او مودې او زمان ته اړتیا لري، خو د فاصلې او توپیر د کمولو او په پای کې د توازن او عدالت د ټینګولو لپاره پکار دي چې په پالیسیو او لوایحو کې داسې بدلونونه رامنځ ته شي، چې که کوم خنډ موجود وي، هغه حل شي.

ketabton.com - The Digital Library



تر ټولو لومړی باید په پوهنه پانګونه وشي. پوهنه باید نه یوازې د ثبات ټینګولو لپاره بلکې د بدلون د منلو او ورته د تیاري لپاره د اساسي وسیلې په توګه وګڼل شي. **له زانګو نه تر ګوره زده کړې؛ او ټول عمر د کار د قابلیت لاس ته راوړل باید د پوهنې هدف وي.** د پوهې پر بنسټ د زده کړو لپاره د کریکولم (تعلیمي نصاب) او سیستم بدلول او سمون ضرور دي. اصلي خبره باید یوازې دا نه وي، چې ټول خلک تعلیمیافته شي، بلکې ددې په څنګ کې هر تعلیمیافته باید د مهارت د کسبولو له لارې ځان ته کار ومونډلای شي. **یویشتمه پیړۍ د مفکرو ښوونځیو او مهارت لرونکو فارغانو پیړۍ ده او باید دغسې لوی چلنج ته خپل نسلونه تیار کړو. داسې نسل چې د نړۍ په کچه د ټکنالوژۍ او پوهې ژر بدلېدونکي جریان سره موازي لاړ شي.**

د متوازن انکشاف لپاره بل مهم جز دادی چې مارکېټ جوړ شي او د ښارونو او کلیو وګړو ته کار او د اقتصادي ودې زمینې برابرې شي.

د نفوس ډېروالی هغه بله راولاړېدونکې ستونزه ده چې باید فکر یې وشي او له هغه څخه د راپیداکېدونکو ستونزو لپاره تدابیر ونیول شي. کله چې په ښارونو کې نفوس ډېرېږي، وګړي او کورنۍ غریبېږي او دهستوګنځي، کار او تعلیم زمینې ورته کمېږي، له بلې خوا د کلیو ډېر شوي وګړي ښارونو ته د نوو فرصتونو په مینډلو پسې راځي او کله چې فرصتونه نه مومي، ستونزې لا ژوروي.

د ښارونو د چټکې پراختیا مسله او د نړیوالتوب سیلاب د دې پېړۍ له سترو چلنجونو څخه دي، چې په جلا بحثونو کې

ketabton.com - The Digital Library



يې څېړو.

د سياسي نمايندګۍ د عادلانه حل لپاره بايد د وخت او شرايطو سره سم د دولتي سيستمونو نا مرکزي کول، د ټولو ټولنيزو ګروپونو د سياسي آګاهۍ د لوړولو لپاره کار وشي. په دولت او پارلمان کې بايد د ټولو سيمو او ټولنيزو ګروپونو معقوله، روا او متوازنه نمايندګي يقيني شي. په دې کې بايد د نفوس نه علاوه د جغرافيې فکتور هم په پام کې ونيول شي او هغو لړکيو ته چې د نفوس او جغرافيې معيارونه، نه پوره کوي، ځانګړې ونډه ورکړل شي.

د ترټولو بېوزلو وګړو او ټولنيزو ګروپونو د را اوچتولو لپاره ځانګړي پروګرامونه پکار دي، دوی بايد په سياست کې را فعال شي، د ټولنې پر بنسټ سازمانونه ورته جوړ شي، د ټولنيزې ساتنې ادارې ورته فعالې شي، د موسسو د چلولو وړتيا يې لوړه شي او په ټولو ټولنيزو او سياسي پروسو کې شريکان شي. د دې لپاره چې بېوزلان په انکشاف کې شريکان شي او ډاډ ورکړل شي چې اولادونه به يې د بېوزلۍ په خبيثه کړۍ کې بند نه وي او د پرمختيا مساوي فرصتونه به ورته برابر وي، بايد د ټولنيزې ساتنې سيستمونه او نورې پورته لارې چارې له فساد نه پاکې وساتل شي.

د پراختيايي منابعو په وېش کې بايد لاندې پرنسيپونه په پام کې ونيول شي:

۱-لومړۍ هغو سيمو ته دې ډېره توجه وشي، چې ترټولو ډېرې محرومې او مرستو ته اړې دي.

۲-دويمه توجه دې هغو سيمو ته وشي، چې اړې او محرومې دي.

ketabton.com - The Digital Library



۳- درېیمه، پاملرنه باید نسبتاً اسانو سیمو ته وشي.

۴- له هغو سیمو سره، چې غفلت او بې پامي شوې ده، باید یو څه اضافي مرستې وشي، چې له نورو سیمو سره یو څه ژر برابرې شي. مثلاً په یوه سیمه کې د پرش زره وګړي ژوند کوي، دوه اساسي او یو جامع روغتیايي مرکز شته او په بله سیمه کې همدغومره نفوس لري او یواځې یو اساسي روغتیايي مرکز لري؛ نو د نوي کال په بودیجه کې دې دویمې سیمې ته د لومړۍ په نسبت ډېرې منابع ځانګړې شي.

۵- ځینې پروژې، چې لګښتونه یې ډېر او د ټول هېواد په بودیجه ډېر زور راوړي او ګټه یې محدودې سیمې او لږ شمېر خلکو ته رسېږي، په ځای یې داسې کارونه وشي، چې ګټه یې ټولو یا زیاتو خلکو ته ورسېږي. مثلاً: په بدخشان کې درواز ولسوالي یوه ډېره لېرې پرته ولسوالي ده، چې له ولایت مرکز فیض آباد سره یې سرک نه دی نښتی. په غرونو کې یې لاره ډېره ګرانه ده؛ خو د سرک په جوړولو یې تر ۲۰۰ میلیونه ډېر امریکايي ډالر لګېږي. که د هېواد عمومي بودیجه کمه وي او د ولسوالۍ په سر دومره بودیجه نشي برداشت کولای؛ نو دغه ۲۰۰ میلیونه دې د کوکچې د برېښنا په پروژه ولګېږي، چې د ټولو شمالي ولایتونو په روښانتیا، تعلیم، اقتصاد او بېلابېلو برخو کې مرسته وکړي. په داسې حال کې چې د درواز سیمې ته رسیدنه کېدای شي تر یوه وخته د تاجکستان له لارې د نوموړي دولت سره د یو دوه اړخیز تفاهم له لارې تامین شي لکه څرنګه چې اغا خان پرمختیايي موسسه یې په اوسني وخت کې د خپلو اکمالاتو لپاره استعمالوي، او کله چې افغان دولت په اقتصادي ډول پیاوړی شو، دغه کار سر ته ورسیږي.

۶- د حکومت او انکشافي سکتور په نا دولتي موسسو کې باید د کمپیوټر او انټرنیټ پر مټ د GPS/MIS نقشې موجودې وي او د هغو په مرسته هره شیبه دې ته تیار وي، تر څو د ولس د بیلابیلو ګروپونو او سیمو خلکو ته دغه معلومات ورکړای شي او په متوازن انکشاف کې د دوی برخه وروښايي.

په افغانستان کې ګیلې ګوزارې ډېرې دي او هر څوک فکر کوي،

ketabton.com - The Digital Library



چې یو محروم ګروپ او هویت پورې تړلی دی او خدمت نه دی ورته شوی.

زما ماشومتوب په کونړ کې و، خلکو نه له دولت نه څه غوښتل او نه یې څه تمه کوله، یواځې د بیګار کار ته به تلل، چې سرکونه جوړ کړي او ولسوالۍ ته بوس، غنم او مالیه یوسي؛ خو باسواده خلکو فکر کاوه، چې حکومتونو ورته څه نه دي کړي، یا یې نه شول کولای.

زه په پینځم ټولګي کې وم، چې سروبي ولسوالۍ ته را تبدیل شوم. دا ولسوالي، چې د بریښنا دوه بندونه پکې دي، د کابل ولایت مربوط ده، دومره ډېر نفوس لري، چې اوس تړې درې تنه ولسي جرګې ته بریالي شوي دي؛ خو لېسه پکې نه وه؛ نو بیا پوه شوم، چې که کار نه دی شوی؛ هېڅ نه دی شوی. ما فکر کاوه، چې کونړ تر ټولو مشکل او سخت ولایت دی؛ خو چې د نورستان په ټولو کلیو کې وګرځېدم، دا ولایت راته په ستونزو کې تر کونړه هم لومړی شو، چې بدخشان ته لاړم، تر نورستان ډېر غریب او له ستونځو سره مخ و. بامیان او دایکنډي، زابل او بادغیس هم دغسې وو.

زه، چې کله کندهار ته لاړم او نژدې ولسوالۍ، پنجوایي او ارغنداب مې ولیدلې، حیران شوم، چې هلته د پوهنې او روغتیا حالت څومره خراب و، ښوونځي نه وو، کلینیکونه نه وو او هېڅ شی سم نه و، یواځې خلک قانع او د خدای په ورکړه ډاډه وو. هغه محمدزایان، چې نور ورونه یې د اوږدې پاچاهۍ په خاطر ټول پښتانه ملامتوي، د خپل پیدا ایښت اصلي ولایت ته یې هم هېڅ نه دي کړي. ښايي حکومتونه به هم نه وو ملامت؛ ځکه دا یو داسې بدمرغه هېواد دی، چې د کمو منابعو او نورو فکتورونو له امله پکې د امنیت او ثبات لویې ستونزې تل موجودې وي او د دولتونو سیستمونه یې دومره کمزوري وي، چې خپلو وطنوالو ته اساسي

ketabton.com - The Digital Library



خدمات نه شي برابرولای.

زه د باميانو په وارس ولسوالۍ کې د شورا له غړيو سره غږېدم هغوی هم د زياترو افغانانو په شان له خپل محروميت نه شکايت کاوه، ما ورته دا ټول مثالونه وويل او پوه مې کړل چې ټول ستونزې لرو، خو يو له بله خبر نه يو. دوی ډېر هوښيار خلک وو، ويې ويل، اوس پوه شو، چې يواځې موږ نه، ټول افغانان ستونځې او اړتياوې لري. ذهن مو خلاص شو؛ خو د خپلو ستونځو د حل لپاره به له خپلو حکومتونو نه غوښتنو ته دوام ورکړو او د نورو ورونو د ستونزو خيال به هم ساتو. دا معقوله ده چې خپلې ستونزې مطرح کړو، خو په دې بايد پوه شو چې زموږ ټول ورونه ستونزې لري، او هغوی هم د ورته حق لرونکي دي. دلته هر څوک ځان ځکه محروم ګڼي، چې يو د بل له حاله نه دي خبر.

افغانستان اوس په يوه ګذري (تېرېدونکي) حالت کې دی او د ټولنې د سوکالۍ او متوازن انکشاف لپاره په لومړيو مرحلو کې روان دی. دا تېرېدونکې مرحله به دردناکه وي، خو خدای دې وکړي چې ډېرا وماتيکه (ضرر رسونکې) نه وي.

**که دولتونه له همدې اوسه بې پالېسيانې جوړې نه کړي، چې اسيب پذيره ګروپونه له لاسبرو کړيو سره وصل او نژدې کړي، نو راتلونکې بې ثباتيو، ناکراريو، اختلافاتو او محروميتونو ته دې انتظار وکړي.**

**خو زموږ خلک د دغسې ستونزو هيله نه لري، بلکې متوازن انکشاف او دايمي ثبات غواړي.**

***

ketabton.com - The Digital Library

# د ښځو او نجونو پوهنه او کار

ښځې د بشریت نیمه تنه ده او د دوی له فعال او موثر رول پرته نه ټولنې پرمختګ کولای شي او نه هیوادونه باثباته کیدای شي.

## اوسنی حالت:

- د نړۍ ٪۷۰ بیوزلان، ٪۲۰ بې مزده کارګران، ٪۷۵ مهاجرین او داخلي بې ځایه شوي وګړي، چې خپلې کورنۍ یې له لاسه ورکړي؛ ښځې دي.
- د کلیو د مطلقو فقیرانو یو نیم بیلیون تنه ښځې دي.
- د نړۍ د حاصلاتو ۷۵ - ٪۹۰ پورې د ښځو په لاس رامنځ ته کیږي، خو دوی ته یې مزدوري نه ورکول کیږي.
- د نړۍ له ۸۰۰ میلیونه بې سوادو وګړو له دریو نه دوه برخې ښځې دي.
- په افغانستان کې یوازې ٪۱۸ نجونې باسواده دي، او یوازې ٪۱۳ یې لومړنۍ ښوونځی بشپړولای شي،
- ٪۴۳ افغان نجونې د ماشومتوب په عمر کې ودیږي، او په هرو ۱۰۰۰۰۰ ښځو کې چې ولادت کوي، ۱۲۰۰ یې خپل ژوند له لاسه ورکوي، چې افغانستان په دې دواړو کې په نړۍ کې دویم ځای لري.
- که څه هم په افغان پارلمان کې نژدې له دریو نه یو سیټ ښځو ته ځانګړی شوی دی، خو په سیمه ایزه کچه په تصمیم نیولو کې لا هم ښځې پوره برخه نه لري.
- د اسلام په سپیڅلي دین او افغاني دودونو کې د ښځو پوره درناوی شته، خو لا هم افغان میرمنې او نجونې عملا بې شمیره ستونزې لري.

که مو‌ږ غواړو چې خپله ټولنه باثباته کړو او هیواد مو پرمختللی شي، نو باید دا ومنو چې د ښځو له فعال او معقول ګډون پرته دا کار ونه امکان نه لري.

ښځه د بشریت نیمه برخه ده؛ او سره له دې چې یا مور، یا خور، یا لور او یا میرمن ده، چې په هر صورت کې د درنښت وړ ده، خو په عمل کې د تاریخ په اوږدو کې تل د ظلم، تیري، توپیر او تشدد لاندې راغلې ده؛ چې سببونه یې زیاتره فقر، ناسم رواجونه او جګړې دي.

ښځې د نړیوال او ملي ثبات او اقتصادي پرمختګ لپاره بنسټي رول لري، او فقر، سیستماتیک فشار او زور زیاتی بې ثباتۍ او کمزورۍ ته لار اواروي. د جګړو قربانیانې زیاتره ښځې وي، په داسې حال کې چې دوی زیاتره د جګړو لوبغاړې نه وې او نه دي.

د (نیم اسمان: په نړۍ کې د ښځو لپاره په فرصتونو باندې د فشارونو بدلول) د کتاب لیکوالانو Nick Kristof, او Sheryl WuDunn په ټوله نړۍ کې سفر کړی او دې نتیجې ته رسیدلي دي، چې هغه هیوادونه چې ښځې پکې تعلیمیافته او په کار بوختې دي، تر هغو ډیر زیات باثباته او پرمختللي دي، چې دد‌ې پر عکس دي .دوی ډیرې بیلګې راټولې کړي دي چې د هیوادونو پرمختګ او ثبات د ښځو له پرمختګ او تعلیم سره تړلی دی.

د ښځو په تعلیم سره پر بې ثباتۍ سربیره فقر او وروسته پاتې والی دواړه هم له منځه ځي. پاکستان او بنګله دیش دوه

Ketabton.com - The Digital Library



هیوادونه دي؛ چې ورته شرایط لري، خو بنګله دیش په دې خاطر تر پاکستان ډیر باثباته دی، چې ډیرې ښځې پکې تعلیم یافته دي. که څه هم په دواړو کې د ښځو د پرمختګ انحرافي اړخونه هم لیدل شوي دي، چې اصلاح غواړي.

نړیوالو تجربو ثابته کړې ده چې د یوې ښځې په تعلیمیافته کولو راتلونکي پېنځه نسلونه نیکمرغه کیږي.

اوږدې جګړې په هغو هیوادونو کې وي، چې ښځې پکې کمې تعلیمیافته شوي دي، لکه افغانستان، سومالیه، کانګو، سوډان، او نور. (البته دغه جګړې نور سببونه هم لري؛ خو یو مهم سبب یې د ښځو ټیټ ټولنیز حالت دی)

که څه هم په اسلام کې (جنت د مور تر پښو لاندې دی) او د مور حق تر پلار هم مخکې راغلی دی، او اسلامي علما د رسول الله د زماني عالي بیلګو ته په پاملرنه سره چې ښځو د لومړي ځل لپاره د مشروع کار، سوداګرۍ او ازاد انتخاب حقونه ومیندل، په کلکه ادعا کوي، چې اسلام ښځو ته تر ټولو زیات حقوق ورکړي دي، خو زموږ مخالفین وایي، چې ولې په اسلامي هیوادونو کې دا دومره ستونزې موجودې دي. که څه هم په اسلام کې د ښځو لاندې او نور ډیر زیات حقوق خوندي دي، خو متاسفانه مسلمانانو په عمل کې زیاتره نه دي عملي کړي او نورو ته یې د انتقاد لارې خلاصې کړې دي:
۱). تعلیم، ۲). ملکیت، ۳). د ثواب او ګناه یو شانته والی، ۴). کار کول او دارایي ګټل، ۵). د بیان آزادي، ۶). د میړه څخه د اړتیا پوره کول، ۷). په واده کې مناقشه او خوښه، ۸). په

ketabton.com - The Digital Library



ځانګړو شرایطو کې طلاق غوښتل، ۹). خپله پانګه ساتل، ۱۰). د ژوند قناعت حاصلول، ۱۱). تر طلاق وروسته د اولاد پالل، ۱۲). د ناخوښه واده ردول ۱۳). میراث او نور.

د نر او ښځې د مساوي حقوقو د دعوو پر ځای ښه دا ده چې ووايو نر و ښځه مساوي او متناسب حقونه لري، چې دا به جامع تره وي. ځکه په ځینې ځایونو کې مساوي دي او کله کله هر يو ځینې ځانګړي حقونه لري.

په نړۍ کې ښځې د ډېر زیات تشدد سره مخ دي، اویوازې هر کال د ۸۰۰ میلیونه تښتول شوو کسانو ۸۰٪ یې ښځې دي؛ چې ځانګړو ساتنو او له تشدد نه د خلاصون ځانګړو حقوقو ته اړتیا لري، او باید د قوانینو له خوا یې ملاتړ وشي. دا د بشریت لپاره د شرم خبره ده چې په تیرو ۳۰ کلونو کې ۳۰ میلیونه میرمنې او نجونې د جنسي تشدد قرباني شوې دي. زموږ په هیواد کې ددغسې تشدد ځینې ډېرې بدې بېلګې لیدل شوې دي؛ خو په مجموع کې دغه ډول پېښې کمې دي؛ خو کورنی تاو تریخوالی یوه لویه ستونزه ده چې حلول غواړي.

ښځې د امیندوارۍ د روغتیا ځانګړي حقونه لري، چې باید په جدي ډول په پام کې ونیول شي ، ځکه په نړۍ کې هره دقیقه یوه، هره ورځ ۱۵۰۰۰ او هر کال ۵۲۹۰۰۰ میرمنې د اولاد زیږولو پر مهال خپل ژوند له لاسه ورکوي، چې ددې مړینو زیاتره یې د مخنیوي وړ دي. په افغاني فرهنګ کې د ښځو لپاره ډېر داسې حقونه او درناوي شته چې دوی ته ځانګړي دي، او باید نور هم پیاوړي شي.

ketabton.com - The Digital Library



معمولا په زياتره ټولنو کې د ښځو کار ته په کم نظر کتل کيږي، که نه نو د اولاد روزل، د کور کار، او د کورنيو حيواناتو روزنه او پالنه هم د هر نارينه تر کار نه کم نه دي. پر دې سربيره ښځې د بهر کار هم کوي، د ښځو کار د ټولنې د ټولې GDP دريمه برخه جوړوي.

د افغانستان په کليو او بانډو کې ټولې ښځې کار کوي، او د کورنۍ د اقتصاد تر نيمايي بارې پر اوږو دی. تاسو د کنړ او نورستان په شان ولايتونو ته لاړ شی او وګورئ چې ښځې څومره درانه کارونه کوي، او داچې نارينه هم په نورو کارونو کې مصروف دي، نو آيا دا ممکنه ده چې د ښځو له برخې اخستنې پرته به نارينه په دې وتوانيږي، چې دغه ټول بار يوازې يوسي؟ نه هيڅکله يې نه شي کولای.

د ښځو تقويه او تعليم د ثبات او پرمختګ نه علاوه د ښو اولادونو د روزلو او د مور او ماشوم د ښې روغتيا او د مړينو د کمښت سبب هم کيږي. په بنګله ديش کې يې دوه سيمې تر نظر لاندې ونيولې: په يوه سيمه کې يې د ميندو لپاره د زيږون پر مهال د بيړنيو ولادي څارنو مجهز مرکزونه جوړ کړل، او د بلې سيمې ښځې يې تعليميافته کړې، تر څه مودې وروسته څيړنې ثابته کړه چې د هغې سيمې د ميندو د مړينې کچه چې ښځو ته يې تعليم ورکړل شوی و، تر هغې بلې سيمې ډيره کمه شوې وه.

د ښځو د حقوقو مسله کله کله د سياسي شعارونو په خاطر استعماليږي او په عمل کې ترې ناوړه ګټه اخستل کيږي. غربيان دا مسله خپل يو داسې ارزښت ګڼي، چې له نورو نه پکې

ketabton.com - The Digital Library



مخکې دي. سره له دې چې په غرب کې میرمنې خپل وروستي پوټنشیل ته د رسیدو چانس پیدا کولای شي، خو کله کله ښځه د نمایش او ډیکوریشن دیوې پرزې په توګه کارول کیږي او د ښځې هغه لوړ انساني مقام راټیټوي.

دا د دې مانا نه لري چې موږ د هغو حقوقو نه انکار وکړو چې ښځې یې لري. موږ باید په هر صورت خپل مسولیتونه ادا کړو او ښځو سره د خپلو هغو حقوقو په تر لاسه کولو کې مرسته وکړو چې اسلام ورکړي دي.

په اسلامي او نا اسلامي هیوادونو دواړو کې د ښځو د حقوقو د تامین په برخه کې ځینې مثبت بدلونونه را منځ ته شوي دي، چې باید نور هم پیاوړي شي. په امریکا کې نن سبا ۲۰۵۰۰ ښځې د ډکتورا او ۲۸۳۰۰۰ د ماستري درجه لري؛ چې په ترتیب سره د ټولو درجه لرونکو خلکو (۴۶٪) او (۵۹٪) جوړوي. سعودي پاچا ملک عبدالله یو داسې پوهنتون جوړوي، چې په ټوله نړۍ کې به د ښځو تر ټولو لوی پوهنتون وي. دا به د مسلمانانو د هغې کمزورۍ په رفع کولو کې لومړی ګام وي، چې د نړۍ په ۵۰۰ بهترینو پوهنتونونو کې یو هم په اسلامي هیوادونو کې نه دی واقع.

د توپیر او تشدد کمولو لپاره پکار ده چې: د ښځو د حقونو او مقام په باب معلومات زیات شي، ناسم رواجونه اصلاح شي، د ښځو د اقتصادي خپلواکۍ او انساني حقوقو لپاره قانوني ملاتړ را منځ ته شي او د تعلیم په وړاندې یې لاسرسی زیات او د ښځینه ښوونځیو او ښوونکو د کمښت غم یې وخوړل

ketabton.com - The Digital Library



شي. پکار ده چې د ښځو او نجونو لپاره د معلوماتو يو ملي مرکز جوړ؛ او د ښوونځيو ساتنه ټينګه شي، چې په ښوونځيو کې يې داخله زياته او د تعليم زمينې ورته اسانې شي.

د نړۍ په کچه دا وړانديز موجود دی چې؛ د اقتصادي پرمختګ لپاره بايد د ښځې او نر د کار اجوره يو شان شي، چې په دې صورت کې به د کورنيو عايد ۱۷٪ زيات شي.

د افغان ښځو او نجونو د تعليمي او ټولنيزو ستونزو او د دوی د هر اړخيز پرمختګ پر مخ د منفي رواجونو د تشريح، د هغوی د سببونو د پيژندنې اوورته د هوارې لارو په باب په کابل کې د جوړ شوي (پښتو نړيوال کنفرانس) ګډون کوونکو ډير واضح وړانديزونه کړي دي، چې د هغوی په دقت لوستل او په خپله برخه کې يې پلي کول هر افغان ته سپارښت کيږي.

ديني علما تر ټولو لوی مسوليت لري، تر څو په دولت او پارلمان کې د ګډون په شان د ښځو د حقونو په هغو موضوعاتو پوره رڼا واچوي، چې لا هم اختلافي ښکاري او ولس ته يې روښانه کړي؛ او له بلې خوا د افغان ښځو او نجونو پر مخ د هغو پرتو منفي رواجونو په ختمولو کې برخه واخلي، چې د اسلام د اصلي روح سره په تضاد کې دي. اسلام د بشريت په تاريخ کې د لومړي ځل لپاره د ښځو د آزادۍ او کرامت بيرغ اوچت کړی او مسلمانان بايد دغه مخکښ رول اوس هم له لاسه ورنه کړي.

***

ketabton.com - The Digital Library

# کادري توازن

دا برخــه د متــوازن انکــشاف دوام دی، خــو لکــه چــې وویــل شــول؛ بــشري انکــشاف د متــوازن انکــشاف مرکــزي ټکــی دی، ځکه غواړو په جلا ډول يې وڅېړو

د کـادرونو پـه مـسله کې بايـد درې برخـې پـه جـدي ډول پـه پـام کې ونيول شي:

۱). د کادرونو په روزلو کې توازن،
۲). د کادرونو په ګمارولو کې توازن او عدالت او
۳). د کـار د کـادرونو سـاتل او د دوی لـه پـوهې، اسـتعداد او توان څخه د هيواد په ګټه کار اخستل.

پـه زيـاترو دفترونـو کـې ګـورو، چـې د طـب پـوهنځي فارغـان د مـامور، سـکرتر، ترجمـان او نـورو اداري برخـو د کـار کوونکـو پـه توګه کار کوي. د بر ګمتال په بر سر کې چې له کابل څخه يوه تر ټولـو لیـرې او ګرانـه سيمه ده، MD ډاکتـر پيـدا کيـږي؛ دا ښـه ده چـې د هـرې ليـرې او نـږدې سـيمې لپـاره ډاکتـران ولـرو؛ خـو پـه کابـل کـې زيـاتره يـو اقتـصادپوه، تـاريخ پـوه، ژورنالـست او د نورو برخو کارپوهان په ګرانه پيدا کيږي.

ketabton.com - The Digital Library



د نورستان یوه کلي ته لاړم زموږ کوربه خپل ځوان او ښکلی ورور، چې د وزو رمه یې له څر نه راوستې وه، موږ ته راوپېژانده او ویې ویل، چې مولوي صاحب له مدرسې نه په عالي درجه فارغ شوی او پګړۍ یې تړلې ده؛ کله چې ما وپوښتل چې آیا مولوي صیب د کلي امام دی؟ هغه وویل: نه زموږ په کلي کې پنځوس مولوي صاحبان له مدرسو فارغ او پګړۍ یې تړلې دي، مشر مولوي صیب امامت کوي او دا نور یې وزګار ناست دي، د خپل کور کارونه کوي.

په تېرو کلونو کې کادرونه د ضرورت او پلان له مخې نه دي روزل شوي؛ بلکې د ورځې د رواج، بیړنۍ اړتیا رفع کولو یا موډ له مخې روزل شوي دي. مثلاً له تېرو شل پېنځه ویشتو کالو راپه دېخوا د زیاترو مسلکونو فارغانو ته کار نه پیدا کېده؛ نو ټول ذهین ځوانان طب ته تلل او دا یې دلیل و، چې که دنده نه وه؛ نو په یوه کلي کې خو به یو دوکان او درملتون وچلوي، په همدې منظور له کابل او ننګرهار نه علاوه په پروان، مزارشریف، بدخشان، هرات، پښتونور او نورو ځایونو کې طب پوهنځي جوړ شول او دومره فارغان یې وړاندې کړل، چې پخپل مسلک کې د قناعت بخښونکي کار د نه پیدا کېدو له امله بېلابېلو برخو ته مخه کوي. یو بل دلیل دا و چې په ټولنه کې سیاسي اختناق دومره زورور و، چې زیاترو کورنیو کوشش کاوه اولادونه یې داسې څانګې ولولي، چې له سیاست او ټولنیزو مسلو نه لیرې وي.

که ټولنې اړتیاولري او د پرمختګ، انکشاف او خدمتونو د

ketabton.com - The Digital Library



وړانـدې کولـو لپـاره مـنظم پـلان موجـود وي او د هغـه لـه مخـې کادرونه وروزل شي، د هېواد او ولس په ګټه ده.

ځینـې مـسلکي کادرونـه بایـد لـه هـرې سیمې نـه وروزل شـي. د مثـال پـه ډول، مـوږ اړتیـا لـرو، چـې لېـرې پرتـو سیمو تـه ښـځینه ډاکترانـې او قـابلې ولېـږو، چـې د مېنـدو د مړینـو د مخنیـوي پـه کـار کـې مرسـته وکـړي. کـه لـه همـاغې سیمې کـادر وروزل شـي، همالتـه کـار کـولای شـي او هلتـه پـاتې کېـږي، کـه نـه وي، د ضرورت په ځای کې به د اړین کادر له کمبود سره مخ یو.

پـه تحـصیلي بورسـونو کـې هـم بـې عـدالتي موجـوده ده او هـم بـې تـوازني. پـه تېـرو وختونـو کـې پـه ځینـو داسـې ځـانګو کـې متخـصصین روزل شـوي دي، چـې هغـه ځـانګې هـېڅ وجـود نـه لـري. اوس هـم ځینـې خلـک پـه دغـسې ځـانګو کـې روزل کېـږي. بلـه سـتونزه داده، چـې د هېـواد لـه ټولـو سیمو او ټولـو ټـولنیزو ګروپونـو نـه کـادر نـه روزل کېـږي او دا پـه راتلـونکي کـې د بـې تـوازنۍ او حتـی د محرومیـت او مظلومیـت سـبب کېـږي. دې ډول کمزوریـو ځینـو هیوادونـو تـه د ملـي امنیـت د خرابـۍ تـر کچـې لـویې سـتونزې زېږولـي دي. پکـار دی چـې افغانـان د دې مـسلې ټـول اړخونـه پـه پـام کـې ولـري او جـدي، جـامع او عـادلانـه پلانونـه ورته جوړ او پلي کړي.

داسـې ښـکاري چـې دولـت پـه دې برخـه کـې کـوم مـنظم پـلان او سـتراتېژي نـه لـري، چـې د هېـواد او سیمـو د اړتیـا لـه مخـې کـادري سیاست جوړ کړي.

د نجونـو او ښـځینه کـادرونو روزل خاصـه اړتیـا ده؛ ځکـه

ketabton.com - The Digital Library



نړیوالو تجربو ثبوت کړې ده، که یو سړی تعلیمیافته شي یو نسل او که یوه ښځه تعلیمیافته شي، د یو هیواد او ملت پنځه نسله پر مخ ځي.

د لوړو زده کړو په ځینو چارواکو دا تورونه هم وارد یږي، چې که د هغې سیمې او قام له منځه چې دوی ورپورې تړلي دي، مناسب کاندید نه وي، دوی د نورو سیمو او قامونو محصلین بهرنیو تحصیلي بورسونو ته نه کاندیدوي، که څه هم هغه بورس ضایع شي.

د هغو ولایتونو د کادر نه روزل یو لوی چلنج دی، چې اوس پکې امنیتي حالات خراب دي، دا کار په راتلونکي کې د سیمه ییزې بې عدالتۍ، بې توازنۍ او ټولنیزو محرومیتونو سبب کیږي، چې د هیواد د متوازن انکشاف او دایمي ثبات لوی او ستر ارمانونه له تکر سره مخامخولای شي.

د تیر کال په کانکورکې له زابل څخه ۵۰ نارینه او لس ښځینه و؛ له کندهار څخه ۵۰۰ نارینه او ۵۰ ښځینه و؛ له پکتیکا څخه یوازې ۸۰ نارینه او یوې ښځینه ګډون کړی په داسې حال کې چې له ننګرهار، کابل، هرات، بلخ، کندز او ځینې نورو ولایتونو څخه په زرګونو کسانو ګډون کړی و. د هغو سیمو اوسیدونکي چې ډیرو کمو فارغانو یې په کانکور ازموینه کې ګډون کړی دی؛ هم دهیوادنورو اوسیدونکو په شان حق لري چې اولادونو ته یې د زده کړې یو شان زمینې برابرې وي.

اوس د هیواد په جنوبي او ختیځو سیمو کې ۴۴۲ ښوونځي دناامنۍ له کبله تړل شوي او له ۳۷۴ ولسوالیو څخه په ۲۰۰

ketabton.com - The Digital Library



ولسواليو کې نجونې له نهم ټولګي پورته زده کړې نشي کولی. پنځه ميليونه هغه کوچنيان چې ښوونځيو ته د تللو عمر يې بشپړ کړی ښوونځيو ته نشي تللی او يوولس ميليونه تنه (نږدې نيم نفوس) نالوستي دي. دا يوه انساني او پوهنيزه فاجعه ده، او له بده مرغه په ځانګړو سيمو کې ده، چې د هيواد د نسلونو د متوازنې روزنې مخه نيسي چې د نا متوازن پرمختګ سبب کيږي، او زيان يې ټول هيواد ته رسيږي. زه باور لرم چې د هيواد د ټولو سيمو اوسيدونکي د دې مسلې په باب پوره تشويش لري، او د حل لپاره يې بايد مرستې ته حاضر وي.

د ديني مدرسو مسئله هم د پوره غور او څېړنې موضوع ده، چې څومره ديني علماء په کومو ځانګو کې د کومې اندازې د تخصص لرونکي وروزل شي.

د ديني مدرسو هغه فارغان چې وزګار دي، بايد د ښوونکو، د ځينو دولتي ادارو کارکوونکو، د ټولنې د روغتيايي کارکوونکو، ټولنيزو هڅونو کارکوونکو او نورو برخو کې تر لږې روزنې وروسته کار کولای شي. په دې سره به دوی هم د کار او دندې خاوندان شي، او هم به ټولنه د دوی له استعداده برخمنه شي.

د زده کړو په ټولو برخو کې تر کميت زياته پاملرنه کيفيت ته پکار ده؛ او متاسفانه په تيرو کلونو کې د پوهنې کيفيت ډير زيات راټيټ شوی دی. باکيفيته زده کړه دا ده چې زده کوونکي د داسې پوهې او مهارت خاوندان کړي، چې د خپل ژوند بيړه پرې وچلولای شي.

Kitabton.com - The Digital Library



کارد کار اهل ته سپارل هم له راتلونکي پرمختګ او ثبات سره ډېره مرسته کولای شي، او جدي توجه ورته پکار ده. دلته زیاتره دا ستونزه وه او شته چې کارد هغه اهلو ته نه بلکې د واسطې او مصلحتونو له مخې ویشل کېږي، او ځکه د پرمختګ او ثبات پروسه تل ټکنۍ کېږي.

د کارد کادرونو ساتل او ترې کار اخستل یوه بله مهمه موضوع ده چې د هیواد د پرمختګ او ثبات لپاره حیاتي ارزښت لري. د یو پوه په وینا (د پوهو، ژمنو او فکرمنو خلکو یو کوچنی ګروپ کولای شي نړۍ بدله کړي، او په تاریخ کې تل داسې شوي دي) خو یا د دې هیواد او ولس تقدیر خراب دی او یا کوم پټ لاس تخریب کوي او مورږ ته دغسې د کار خلک نه پرېږدي: د سید جمال الدین افغان نه تر اوسه پورې کېسه یو شان ده.: سید جمال الدین افغان کولای شول چې د دې ملت د ستونزو علاج وکړي، خو مغرضینو یې پر ضد هغه پاچا راوپاراوه چې هغه هم د هیواد د پرمختګ سره مینه درلوده. محمود طرزي یې خپل زوم او شاګرد آمان الله خان ته داسې ورونښود چې باالاخره هیواد پرېښودلو ته یې اړ کړ. مجید زابلی د نادرشاه د بیا بیا غوښتنو نه ورسته افغانستان ته راغی او د خپل شخصي تجارت په قربانولو یې د هیواد د اقتصاد اساسات په داسې حال کې کېښودل، چې ټول دولت ۸۰۰۰ افغانی لرلې، خو کله چې د هیواد اقتصاد په وده کې راغی؛ مغرضینو یې پر ضد سردار داود راوپاروه او سره له دې چې هیڅ معقول دلیل یې د ده پر خلاف پیدا نه شو کړای، خو بیا هم د کار او خدمت دروازې یې پرې بندې کړې. میوندوال هم چا

ketabton.com - The Digital Library



نوښت او ابتکار ته پرې نښود او د محمد موسی شفیق د ابتکار پر خلاف یې چې په دوه کلونو کې یې مملکت د اقتصادي ثبات تر پولې ورساوه، روسان دومره راوپارول، چې مستقیماً یې له پاچا وغوښتل چې دې له کاره ګوښه کړي، او چې پاچا یې غوښتنه ونه منله، نو ګمان کیږي، چې د ټول نظام د ړنګیدو په بیه ورته تمامه شوه. ډاکتر اشرف غني هم چې له نړۍ یې ۱۳ بیلیونه ډالر مرسته راجلب او د هیواد د اقتصادي ودې اساس یې پیل کړ، په دې بهانه چې دې تر نورو وزیرانو په کار ډیر حاکم دی او د ده په شته والي کې د هغوی د ودې زمینه نه برابریږي، د خدمت موقع ورنکړل شوه. حال دا چې دېره پوهه باید د تقدیر او ستاینې سبب شي. د ده په شان نور په لوړه کچه شخصیتونه هم له صحنې لېرې شول. په داسې هیواد کې چې یو د کار سړې په دوربین کې په مشکله پیدا کیږي، د دوی ساتل او ترې مثبت کار اخستل یو لوی ملي مسولیت او ضرورت دی، او باید ټول زړه خوږي افغانان ورته متوجه وي.

د فارغانو پر کار ګومارګومارل هم هغه مسئله ده، چې که له او سه یې غم ونه خوړل شي، د ووزګارانو د یو لوی لښکر د رامنځته کیدو له لارې د نارضایتیو، بې نظمیو، ټکرونو او حتی خونړیو انقلابونو سبب کیدای شي.

د نن ورځې معقولې پالیسی ګانې د سبا ورځې د دغو ټکرونو مخنیوی کولای شي.
ولې نن دا کار ونه کړو؟

❋❋❋

ketabton.com - The Digital Library

# د ديني او عصري زده کړو مسئله

له ډېرې مودې راهيسې په اسلامي نړۍ کې د ديني او عصري په نوم د زده کړو بېلتون يوه مسئله ده. کله د ديني پوهنو شاګردان عصري زده کړې له دين جدا او يا ورسره په ټکر کې ويني او کله د عصري زده کړو خاوندان د ديني زده کړو پوهان له علم او ساينس نه بې خبره او لېرې بولي.

"په فلسفه، علم او قرآن کې د ايمان سرګذشت" ليکوال، چې يو پوخ ديني عالم او په ساينسي پوهنو او فلسفه کې ژور ليد لري؛ دې نتيجې ته رسېدلی دی، چې عصري علوم هم ديني دي او له دين سره په ټکر کې نه دي او زياتره علمي کشفونو د دين له ښې تشريح او ښه تفسير سره مرسته کړې او په نتيجه کې د دين اشاعت چټک شوی دی. په عظيم الشان قرآن کې څو ځايه راغلي دي، چې عالم او جاهل برابر نه دي. عالمان د بينا او ناپوهان د ړندو حيثيت لري. له خدايه تر ټولو وېرېدونکي کسان د خدای عالم بنده ګان دي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم هم د عابدانو له ټولي څخه د عالمانو ټولي ته ورغلی او ويلي يې وو، چې زه د دوی له ډلې يم.

د نوموړي کتاب ليکوال يوې جالبې نتيجې ګيرې ته

ketabton.com - The Digital Library



رسېدلی دی او وايي، چې د علم ستاينه او صفت په قرآن کريم کې تل په هغو ځايونو کې راغلی دی، چې تر هغه مخکې د الله جل جلاله د قدرتونو او د مخلوقاتو د عظمت او د کايناتو د پراختيا ذکر راغلی وي. نوموړی عالم وايي، چې له همدې معلومه ده، چې د قدرتونو، مخلوقاتو او کايناتو په باب پوهه هماغسې علم دی؛ لکه د ديني مسايلو په باب فقه چې علم دی. علم په دين کې فرض دی او د هر ډول علم ياد ول فرض دي؛ خو پوښتنه داده، چې آيا په هر مسلمان ټول علوم فرض دي او که يواځې يو يا څو؟

يو افغان عالم، چې په شرعي علومو کې دوکتورا لري دا مسئله څو ورځې مخکې ډېره ښه روښانه کړه او ويې ويل:

- په دين کې دومره پوهه، چې يو مسلمان پرې حلال و حرام وپېژني او د ورځنيو ديني عباداتو او معاملاتو څرګندوالی زده کړي په هر مسلمان نر او ښځه فرض ده، چې د اخلاص په صورت کې د آجر مستحق هم کېږي.

- په ديني بېلابېلو برخو کې تخصص فرض کفايي دی او په دومره اندازه مسلمانانو ته پکار دی، چې د ټولنې اړتيا پرې پوره شي. که په دې کې اخلاص او د خدای رضا منظور وي؛ نو عالم ته پرې ثواب ورکول کېږي او که نه وي، د نورو عوامو په شان دی، چې د علم زده کړه يې د روزۍ د ګټلو يوه وسيله ده.

- د علم په نورو برخو؛ لکه ډاکټري، انجنيري، فزيک او د ساينس، ټولنيزو علومو او نورو په بېلابېلو برخو کې تخصص هم کفايي فرض دی او په يوه ټولنه کې بايد په دومره شمېر کې د دغو برخو پوهان روزل شوي وي، چې په دغو برخو کې د ټولنې اړتياوې پوره کړي. که دا پوهان هم خپل نيت خالص کړي او د

Ketabton.com - The Digital Library



خدای جل جلاله رضا او د بشريت خدمت يې هدف وي؛ نو د ثواب مستحق دي او که نه وي د عادي انسانانو په شان دي، چې د خپل معيشت د تېرولو لپاره يې يوه رشته غوره کړې او له دغې لارې خپله روزي ګټي.

په افغانستان کې د فعالو ديني مدرسو د نشت او د متبحرو علماوو د کمښت له امله زياتره افغانان په ګاونډيو هيوادونو کې د دينې عالمانو په توګه روزل کېږي. د اصولو له مخې په دې کې بايد کومه ستونزه نه وي او د ټولو اسلامي هيوادونو مدرسې بايد د اسلام دين هر چا ته په سمه توګه ورزده کړي، خو په عمل کې ځينې هيوادونه له دې نه سياسي بهره برداري کوي، او افغان طالب علمانو ته د افغانستان د ملي ګټو، افغاني تاريخ او ځانګړنو په باب معلومات نه ورکوي او دوی په دغو برخو کې خپلو مسوليتونو ته نه متوجه کېږي. له بلې خوا بهرنۍ مدرسې په ډېر شمېر کې د ديني علماو د روزلو په صورت کې د دوی د کار او مشغوليت فکر نه شي کولای . دا د افغانانو دنده ده چې له ورونو سره وروری او حساب دواړو باندې پوه وي.

د اسلام له اصلي ماهيت او عالي تعليماتو څخه د ناخبرۍ له امله د بې دينۍ ، افراطيت، تفريط، سطحي ګرايۍ، او خرافاتو سبب کيږي، چې د پوهنې په نصابونو کې د ديني برخو د زياتولو او غني کولو له لارې بايد د دې ستونزې لارې ولټول شي. ديني زده کړې بايد ساده، جامع او په دومره کچه د تعليمي موسسو په نصابونو کې شاملې شي، چې د دولسم ټولګي هر فارغ د دين له اساساتو په سمه توګه خبر شي ، او د قرآن شريف

ketabton.com - The Digital Library



تفسير او ترجمه او د حديثونو يوه پوره برخه تر دولسم ټولګي بشپړه شي.

بله مسله چې افغان رهبران بايد ورته ځير وي، په ګاونډيو هيوادونو کې په ديني مدرسو کې د نظامي زده کړو روزنه ده. دا سمه ده چې هر مسلمان بايد جهاد ته تيار وي، خو ښه ده چې زموږ ديني علما په داخل کې وروزل شي، ځکه تر اوسه لا هم ګاونډيان خپلې نظامي چارې د خپلو ملي پولو په حدودو کې د راز په توګه ساتي. د وسلې د استعمال انحصار بايد يوازې له خپلو اکو او تاکل شوو دولتونو سره وي او افغان دولتونه بايد د اسلامي ارزښتونو سره هيڅکله په ټکر کې نه وي.

د افغانستان ديني عالمان او دولتي او نادولتي اړونده اداري بايد د شريعت په رڼا کې روښانه ستراتيژي جوړه کړي، چې د ديني او عصري په نوم د زده کړو او علومو په منځ کې درز او فاصله له منځه يوسي، ټولو افغانانو ته په دين کې د اړتيا وړ اندازې لومړنيو پوهنو د زده کړې زمينه جوړه کړي.

همدا راز په ديني ځانګو او نورو ساينسي ځانګو کې د تخصص لپاره دومره کادرونه وروزي، چې د ټولنې اړتياوې پوره کړي او فرض عين او فرض کفايي دواړه مراعات شي.

د شمېر او اندازې او بېلابېلو رشتو په برخه کې د علمي کچې لپاره داسې دقيقه پلانګذاري پکار ده، چې د هيڅ برخې فارغ بي‌ياد وزګار تيا او بې سرنوشتۍ له ستونزو سره مخ نه شي او د هغه ځه لپاره چې روزل شوي دي، هغه خدمت سر ته ورسوي، چې د هيواد د ترقۍ او ولس د سوکالۍ سره مرسته او په نتيجه کې د الله جل جلاله رضا تر لاسه کړي.

***

ketabton.com - The Digital Library

# ايا موږ د ښار او کلي توپير له منځه وړلای شو؟

په افغانستان کې په سياسي او ټولنيزو بدلونونو، انقلابونو، جنګ جګړو او دفاع کې لا هم د کلي رول تر ښار ډېر دی. يو علت يې ممکن دا وي، چې ښار لا ښاري اصول خپل کړي نه دي، چې د کلي مقابله وکړای شي او يا تر ډېر غوره ځان له کلي پردی نکړي او په ټکر کې ورسره را نه شي، له بلې خوا د کليو نفوس تر ښارونو څو چنده زيات دی او د کلي خلک د قومونو په تشکل کې د نظامي ټوليو او قطعاتو په شان منظم دي. په افغانستان کې د ۳۵۰۰۰ په خواوشا کې کلي دي، چې ځانګړې پاملرنې ته اړتيا لري.

په يوه بهرنۍ موسسه کې يوه تن د کارپوه په نوم کار کاوه، دی اصلاً يو مسلکي ځنګلوان و؛ خو دا يوه خبره يې د يوه کارپوه د خبرې په توګه ارزي چې ويل يې: موږ لويديځوالو دا يوه خبره ستاسو له اسلامي پوهانو نه زده کړې او د ښار او کلي توپير مو له منځه وړی دی. اوس زموږ په هېواد کې د غره په يوه لوړه څوکه کې پراته کلي ته برېښنا، سرک او د خبرتياو، پوهاوي او اړيکيو امکانات تللي دي. کلي مو هم روغتيايي

ketabton.com - The Digital Library



خدمتونو، پاکو اوبو او د پوهنې امکاناتو ته لاسرسی لري او ښارونه مو هم؛ خو تاسو لا په داسې حال کې یاست، چې ښارونه مو هم بېوزله، وروسته پاتې او چټل دي؛ او هغه لږ څه چې ښارونه لري، په کليو کې هغه هم نشته. ستاسو په ښارونو کې وچ تقليد، فېشن او ظاهري ځل و بل يو څه شته، د ښار خلک په دغو ظاهري شيانو کې ډوب شي، پاسته، نرم او ارام شي؛ نو د کليو شخ، شډل او کلک خلک، چې کله موقع پيدا کړي، ښارونه چور او تالان کړي او په دې غوبل کې لړزاند او کمزوري حکومتونه هم ونړېږي او يو څه روزل شوي کادرونه مو يا د مرګ او يا د پردېسی مسافر شي.

د وروستيو د ېرش کلنو جګړو د تحليل په اړه يوه افغان ليکوال او سياستپوه دې نتيجې ته رسېدلی و، چې دا جګړې هم د ښار او کلي له تولنيز توپير څخه راولاړې شوې وې. دی وايي، چې د مرحوم اعليحضرت محمد ظاهر شاه په وخت کې به ښاري هلکانو له خپلو کليوالو تولګيوالو سره په پوهنتون او ليليه ښوونځيو کې هيڅ ښه برخورد نه کاوه او "اطرافي" او "صحرايي" به يې ګڼل. ځانونه يې د امريکا او اروپا په سويه ګڼل. په کابل کې هغه وخت هم لکه اوس چې بوش مارکيټ دی، نکسن مارکيټ و او کابليو نجونو او هلکانو به پکې ليلامي امريکايي لباسونه اخيستل او په ډېر وياړ به يې اغوستل، او ځان به پرې له نورو لوړ ګاڼه.

کليوالو د دې په وړاندې دوه ډوله عکس العمل وښود: لومړی ډلې غوښتل، چې دوی هم عصري شي او دا موجود هغه

ketabton.com - The Digital Library



له منځه یوسي؛ نو یې په ځان کانی، سنګر، مورچل، جنګي، جدي، زړور، مبارز، اتل، څه او څه نومونه کېښودل او د هغه وخت د موجود نظام د چپه کېدو او د نوي عصري نظام د جوړېدو په تکل کې شول. بلې ډلې دا عکس العمل وښود، چې پخپلو کلکو اسلامي او کلیوالو عنعنو پورې ونښلي او د ښار دا هر څه د کفر، بې دینۍ او الحاد په نوم رد کړي.

لومړۍ ډلې کلیوالو د شاهي او جمهوري نظامونو تختې ونړولې خو ددې په ځای چې پوه شي، اصلي ځواک په کلیو کې دی؛ نو بیا دوی ښاریان شوي و او د خپلو کلیوالو سره په ټکر کې شول او د هغوی په وژلو او بمبارولو یې پیل کړی و.

په تېرو وختونو کې د ښار واکمنان لږ هوښیار وو، د کلیو ملکان یې په لاس کې اخیستي او په هره دره کې یې یو سید، روحاني او پیر کېنولی و، چې زیږه، شډل او زړور کلیوال یې په دې خبره غلي کول، چې پاچا د خدای سیوری او اطاعت یې واجب دی؛ خو چې ځوانو کلیوالو د خپلو نورو کلیوالو پرضد، چې د دوی خلاف نظریه یې عملي کول غوښتل، جګړه پیل کړه؛ نو دوی بیا ددغو ملکانو، سیدانو او پیرانو نفوذ هم راکم او حتی پای ته ورساوه. په را وروستیو وختونو کې د کلیو د محلي با نفوذه قوتونو په توازن کې بدلون راغی. د ډیورنډ کرښې د دواړو غاړو په ولسونو کې ځینې ځوانان په خلیج کې له مزدورۍ راګرځي او تر ځایي ملکانو یې اقتصاد په چټک ډول او چټېږي، حجره، ډېره، میلمه، یار او دوست پیدا کوي او د پخواني مشر؛ مشرتوب چلنجوي. له مدرسو څخه نوي فارغ

ketabton.com - The Digital Library



شوي ځوانو مولویانو هم د جادویي مشرتابه خواص پیدا کړي او د نوو مشرانو په ډله کې راغلي دي. پخواني ملکان زیاتره ښارونو ته لیږدېدلي او اولادونه یې تعلیم یافته شوي او دا چې د کلیو د زیږه ژوند په نسبت یې د ښارونو د پاسته ژوند خواص خپل کړي دي، اوس عملاً د کلیو مشران نه دي. د جهاد پر مهال د مجاهدینو سرګروپان او قوماندانان هم د کلیو عملي مشران دي، او خبرې او نظر ته یې په درنه سترګه کتل کیږي.

نویو نفوذ ته رسېدلیو مشرانو زیاتره پخواني مشران یا په فزیکي او یا هم د نفوذ له مخې له منځه وړي او میدان یې ځانته خالي کړی دی.

د ښار او کلي جګړه لا روانه او تر منځ یې فاصله موجوده ده، تر څو چې دغه جګړه او فاصله موجوده وي، په دې هیواد کې د تمدن، ثبات او پرمختګ تمه نه ده پکار.

د انقلابي دورې په سیاستونو کې تر ۸۰٪ پورې مشران د کلیو هغه ځوانان دي، چې په ښارونو کې زیاتره په لیلیه ښوونځیو او مدرسو کې زده کړې کړې دي او مشرتوب یې نیولی دی.

کلیو او کلیوالو سیمو ته په سیاست او اقتصادي وده کې خاصه توجه پکار ده، چې د جامع پروګرامونو د جوړېدا او پلي کولو له لارې باید تر سره شي.

***

ketabton.com - The Digital Library

# د نفوسو د بې کنټروله زیاتېدو په وړاندې څه پلان لرو؟

**افغانستان به په ۲۰۳۰ کال کې د اوسني نفوس دوه چنده (د ۵۰ میلیونو) شاوخوا کې نفوس ولري. د نفوسو د دغه زیاتوالي په وړاندې دقیقې پالیسیانې او علمي او عملي پروګرامونه پکار دي، چې د ولس او دولت په ګډه همکارۍ باید جوړ او پلي شي.**

دوه نړیوالو موسسو د افغانستان د راتلونکي نفوس وړاند وینه کړې ده. د ملګرو ملتونو د نفوسو څانګه وایي چې افغانستان به په ۲۰۳۰ کې د ۵۰ میلیونه په شاوخوا کې نفوس ولري؛ خو د امریکا د متحده ایالاتو د نفوسو بیرو بیا وایي، چې دغه شمېره به د ۴۳ میلیونه په خوا وشا کې وي.

د ملګرو ملتونو د وړاندوینې اساس د هرې مور پر سر د اولاد زیږولو منځنۍ کچه ده چې په افغانستان کې ۲,۴ ده (یانې هره مور په منځني دول تر شپږو زیات ماشومان زیږوي)، خو د امریکا د نفوسو بیرو بیا د افغانسان د روغتیایي سروې په

kėtabton.com - The Digital Library



رپوټ استناد کوي، چې د غه کچه پکې ۵,۷ ته راښکته شوې ده او ځکه بیرو خوشبینه ښکاري چې په افغانستان کې به د نفوسو هغه سرسام آور زیاتوالی چې په دې وروستیو لسو کلونو کې یې هیڅ بدلون نه کاوه، اوس کنټرول شي. د نفوسو بیرو خوشبینه ښکاري چې د افغان کورنیو سایز به کم او د نفوس وده به په نسبتاً ښه حالت کې شي.

ځینې مستقل شنونکي بیا د بیرو له تحلیل سره په دې دلیل موافق نه دي، چې پورته یاده شوې سروې یوازې په ارامو ولایتونو کې تر سره شوې او د نفوسو چټک زیاتوالی زیاتره په ناآرامو سیمو کې ډېر دی. خو که د نفوسو د بیرو وړاندوینه سمه هم وي، د افغانستان د نفوسو زیاتوالی ډېر زیات دی او له همدا اوسه د داسې پالیسیو او پروګرامونو جوړولو ته اړتیا ده، چې د دغه زیاتېدو چلنجونو ته ځواب ووایي.

اوس افغانستان د نړۍ د ډېرو وروسته پاتې هېوادونو په ډله کې دی او ۴۲٪ خلک یې د فقر تر لیکې لاندې ژوند کوي. افغانستان د مجموعي کورنیو تولیداتو (GDP) له نظره د نړۍ ۱۰۹ هیواد دی او د یو تن پر سر یې د غه کچه ۸۰۰ امریکایي ډالره ده، چې د نړۍ په ۱۹۵ هیوادونو کې ۱۸۴ مقام لري. (د ۲۰۰۹ کال اټکل)

په هرو سلو زرو ښځو کې، چې زېږون کوي ۱۲۰۰ خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي او افغانستان په دې برخه کې په آسیا کې لومړی او په نړۍ کې دویم مقام لري او د ماشومانو او نویو زېږېدلیو ماشومانو د مړینو د کچې له مخې هم په لسو ډېرو

ketabton.com - The Digital Library



ستونځمنو هېوادونو کې حسابېږي.

د چاپېريال چټلي او د هوا ککړوالی يوه بله لويه ستونزه ده، چې افغانستان ورسره مخ دی او کابل د نړۍ کثيف ترين ښار بلل شوی دی.

افغانستان يو له هغو هېوادونو څخه دی، چې تر ټولو ځوان نفوس لري او ۶۸٪ وګړي يې ځوانان دي، چې ځانګړې چيلنجونه لري. د ۱۵ او ۲۹ کلونو تر منځ ځوانان د هيواد د ټول نفوس نيمايي (۵۰٪) جوړوي، چې دغه ځوانان کار او اشتغال غواړي او د نوو نېکمرغه کورنيو د تشکل هيلې لري. د امريکا په متحده ايالاتو کې دغه نسبت ۲۲٪ دی، خو هغه د ستر اقتصاد لرونکی هيواد هم دغه مسله يوه ستونزه ګڼي او د بيکارانو لښکرې يې هر خوا ګرځي، نو موږ به د دغو ځوانانو ستونزې څنګه حلوو. د بلې خوا په افغانستان کې منځنی عمر ۴۳ دي، چې دا يوه بله ستره ستونزه ده.

له بلې خوا په هيواد کې دولتي او نادولتي زېربناوې نړېدلې او يا ښځې خامې او کمزورې دي او اداري فساد يوه لويه رسوايي ده او ټول موږ ته اخطار راکوي، چې د نفوسو دغه زياتوالي ته کافي تياری نشته او د لويو ټولنيزو او ممکن سياسي ګډوډيو د احتمال وړاندوينه ترې کېږي.

اوس موږ ۱۲۷۰۰ روغتيايي مرکزونه او پوستې لرو، چې د (۲۵ ميليونه) نفوس لپاره کافي نه دي؛ نو په ۲۰۳۰ کال کې د ۵۰ ميليونه کسانو لپاره بايد کم تر کمه ۳۲۰۰۰ روغتيايي مرکزونه او پوستې ولرو، آيا موږ له خپلو عايدانو څخه دغه جوړولای شو؟

ketabton.com - The Digital Library



| د روغتیایي مرکز ډول | ۲۰۰۹ (موجود) | د ۲۰۰۹ ارتیا | د ۲۰۳۰ ارتیا | کتنې |
|---|---|---|---|---|
| اساسي روغتیایي مرکز | ۷۸۲ | ۹۳۸ | ۱۸۷۷ | |
| جامع روغتیایي مرکز | ۳۷۲ | ۴۴۶ | ۸۹۳ | |
| د ولسوالۍ روغتیایي مرکز | ۶۰ | ۷۲ | ۱۴۴ | |
| ولایتي روغتون | ۱۰ | ۱۲ | ۲۴ | |
| د زون په کچه روغتون | ۵ | ۶ | ۱۲ | |
| روغتیایي پوسته | ۱۱۴۷۰ | ۱۶۰۰۰ | ۳۲۰۰۰ | |
| ټول | ۱۲۶۹۹ | ۱۷۴۷۵ | ۳۴۹۵۰ | |

اوس ۲۵٪ افغانان پاکو او روغتیایي اوبو ته لاسرسی لري، په ۲۰۳۰ کال کې ۵۰ میلیونو ته موږ دغه اسانتیاوې څنګه برابرولای شو؟

موږ به په ۲۰۳۰ کال کې ۵۰ زره ښوونځیو، ۲۰۰ میلیونو کتابونو، اویو میلیون روزل شویو ښوونکیو او په زرګونو تخنیکي او مسلکي کادرونو ته اړتیا ولرو؛ چې زموږ ۲۵ میلیونه زده کوونکو ته تدریس وکړي. خو آیا موږ په راتلونکو شلو کلونو کې دغو مره ډېره تیاري کولای شو؟ همدا اوس کال د ښوونځي د زده کوونکو په شمېر کې ۲۵۰۰۰۰ تنه زیات شول که خدای رحم وکړي او په افغانستان کې د ښوونځیو سوزول ودرېږي او د نا آرامو سیمو ماشومان هم ښوونځیو ته د تګ فرصت تر لاسه کړي، نو دا اړتیا به لا زیاته شي.

ketabton.com - The Digital Library



له ۱۳۸۸ نه تر ۱۴۰۸ (۲۰۳۰) پورې د پوهنې د ارقامو بدلون:

| کال | ۱۳۸۸ | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۸ |
|---|---|---|---|
| زده کوونکي | ۷ میلیونه | ۱۴ میلیونه | ۲۵ میلیونه |
| ښوونکي | ۱۷۱۰۰۰ | ۴۸۲۰۰۰ | یو میلیون |
| ښوونځي | ۱۲۷۰۰ | ۲۳۵۰۰ | ۵۰ زره |
| کتابونه | ۳۳ میلیونه | ۱۵۵ میلیونه | ۲۰۰ میلیونه |

د نړۍ په نورمالو هیوادونو کې د هرو ۵۰ کسانو پر سر یو امنیتي کارکوونکي (عسکر، افسر) ته اړتیا ده، که څه هم زموږ جغرافیه او حالات تر دې زیاتو ته اړتیا لري، خو د همدغه معیار له مخې آیا موږ یو میلیون وسله وال ځواکونه ساتلی شو؟

فکر کېږي، چې دومره کمزوری هیواد، له داسې لړزانده اقتصادي- سیاسي نظام سره په هېڅ شان دغه ډول تیاری نشي نیولای. که څه هم دولتونه باید د ښارو ځمکو د آبادولو، د کار مینځنې د پروګرامونو د عملي کولو، د ښارونو او ښارګوټو د جوړولو، د تعلیم د با کیفیته کولو او نورو لارو دې مسلې ته تیار وای.

د نفوسو او پرمختیا د کارپوهانو په اند؛ د کورنۍ تنظیم هغه څه دي، چې ډېرو ستونزو ته ځواب ویلی شي. افغانستان هغه هیواد دی، چې د اولاد زېږونې اندازه (Fertility Rate) یې تر ټولو لوړه (۶،۴) ده. په تېرو کلونو کې په دې اندازه کې کوم پام وړ واضح بدلون نه دی راغلی.

ketabton.com - The Digital Library



بنګله دېش د نړۍ هغه هېواد دی، چې دا کچه پکې تر ټولو لوړه وه؛ خو اوس يې د کورني تنظيم د بريالي پروګرام پر اساس دا کچه ۲,۴ ته راکوزه کړې ده؛ خو د هېواد د زېږمو په تناسب اوس هم د وګړيو ډېرښت ته ځواب نشي ويلای. ايران په اسلامي هيوادونو، زموږ په ګاونډيانو او مخ پر وده هيوادونو کې يو تر ټولو بريالی هيواد دی، چې د نفوسو د ډېرښت توازن پکې ډېر بريالی دی.

د نفوسو مسئله له پراختيا (انکشاف) سره نېغې اړيکې او بېلابېل بعدونه لري، او په افغانستان کې د نفوسو د ډيناميک په باب کره معلومات کم دي او يا نشته.

سمه سرشمېرنه، چې په افغانستان کې ورته شديده اړتيا ده، په يوې لانجمنې مسئلې اوښتې ده؛ ځکه تر نيمايي ډېر هېواد کې نا امني ده او که ددغو سيمو د وګړيو سمه شمېرنه ونشي، د منابعو په وېش او سياسي نمايندګۍ کې به د دوی په حق کې ستره بې عدالتي وشي، چې راتلونکيو لانجو او ستونزو ته به لار هواره کړي.

د ټولنې د بېلابېلو ګروپونو لپاره انکشافي پلانګذاري مهمه ده، ځوانان، ښځې، بېوزلان، معلولين، د شهداوو وارثين، د بېلابېلو مسلکونو کادرونه په يقيني ډول هله معلومولای او راتلونکي پلانونه ورته جوړولای شو، چې په اوس وخت کې سمه شمېرنه ولرو.

د کورني تنظيم يو پراخ ملي پروګرام پکار دی، چې دولتي او نادولتي ټولنې او ولس پکې لوی مسوولیت لري.

ketabton.com - The Digital Library



د دیني علماوو رول په دې برخه کې حیاتي او اساسي دی؛ ځکه دا موضوع مذهبي اړخ هم لري او د افغانستان د علماو فتواوې ډیرې ضرور دي. سره له دې، چې د مصر، هند، پاکستان او ایران علماوو په دې برخه کې روښانه فتواوې صادرې کړې دي او په افغانستان کې هم یو څه کار شوی دی؛ خو د نفوسو د متوازن ډېرښت او د کورني پلان د یوه بریالي پروګرام د تطبیق لپاره په افغانستان کې د دیني علماوو ډېره کلکه همکاري او لارښوونه پکار ده او د دولت او ټولنې له خوا باید چټک، بیړني او عملي ګامونه واخیستل شي.

داسې ښکاري چې افغان دولت لا هم د نفوسو په باب پالیسي نه لري. دا مهمه ده چې دولت دغسې پالیسي ولري، چې پکې د نفوسو د ډېرښت، بېلابېلو ډموګرافیکي ګروپونو، او د دوی هر یوه لپاره د ټولنیزې او اقتصادي ودې د پلانګذارۍ په باب فکر وشي.

همدا راز د دې فکر وشي، چې مور به په راتلونکو کلونو کې څومره د کار ځواک ته اړتیا ولرو، او څومره هیوادوال به مو نورو ملکونو ته په کار پسې سرګردانه کېږي.

***

ketabton.com - The Digital Library

# ایا چټکې ښاري کېدنې ته تیاري لرو؟

د نړۍ نیم نفوس (۳,۳بلیونه) وګړي اوس په ښارونو کې ژوند کوي، چې دا شمېره به په ۲۰۳۰ کال کې پېنځه میلیاردو ته ورسېږي. ښار ته د سېلاب په شان د خلکو بې کنټروله راتګ په شلمه پېړۍ کې اوج ته ورسېد او له ۲۲۰ نه ۲۸۰۰ میلیونو ته لوړ شو. په ۲۰۳۰ کال کې به د پرمختیایي هېوادونو د ښارونو نفوس د ټول ښاري نفوس ٪۸۰ برخه جوړوي.

په افغانستان کې خو لا ایله ٪۲۰ خلک په ښارونو کې اوسېږي؛ خو د مهاجرتونو او بېځایه کېدنو له امله خلکو ته اوس دا زمینه پیدا شوې ده، چې ښارونو ته راشي، چې کابل او ځینې نورو ښارونو ته د ګڼو خلکو د بې پلانه راتګ مسئله دا خبره ثبوتوي.

ښار ته راتګ خلکو ته هیله او امید ښکاري او ښار ته راتلونکي خلک دلته د ښه ژوند، کار، نېکمرغۍ او د اولادونو د زده کړې او کسب و کمال خوبونه ویني.

دا رښتیا هم ده، چې ښار ته راتګ فرصتونو او امکاناتو ته

ketabton.com - The Digital Library



راتـګ دی؛ خـو کـه د پـلان او منظمـې سـتراتیژۍ لـه مخـې وي، او کـه نـه وي؛ نـو ډېرې سـترې سـتونزې او چیلنجونـه ورسـره یـو ځـای شته.

کـه څـه هـم دولتونـه بایـد د غریبـو خلکـو د ښـاري کېـدو حـق پایمـال نکړي او پـه زور او غیـر طبیعـي ډول یـې مخـه ونـه نیسـي؛ خـو د لانـدې چیلنجونـو بـې پلانـه پرېښودل د راتلونکـو احتمـالي فاجعو په وړاندې بې تفاوتي او حتی ګناه ده:

- د ښـارونو موجـوده ځمکـه د نویـو راتلونکـو لپـاره کمـه او د تراکم، ازدحام او ګڼه ګوڼې سبب کېږي.

- د بـې کـورۍ سـتونزه، چـې د ښـارونو یـوه مزمنـه سـتونزه ده، لـه کلیـو څخـه د نـوو خلکـو د بـې کنټرولـه راتـګ لـه املـه لا تشدید پږي.

- کـار او اشـتغال هغـه مـسئله ده، چـې هـم د ښـار موجـود خلـک او هم نوي راغلي خلک به ورپسې لالهانده ګرځي.

- پـه مزدحمـو، متراکمـو او لـه ګڼـې ګوڼې څـه ډکو ښـارونو کـې ناروغتیاوې او بدمرغۍ زیاتېږي.

- تنـګ ښـارونه او ګـڼ نفـوس د بـې نقشـې او بـې پلانـه ابـادیو سـبب کېږي، چـې لا ډېـرو سـتونزو تـه لار اواروي.لـه خیرخـانې کوتـل نـه نیولې تـر خواجـه رواش او لـه کمپنـۍ نیـولې تـر سید نورمحمـد شـاه مېنـې د کابـل ښـار پـه سـمو او غرونـو کـې د بـې نقشـې کورونـو جوړېـدل د غـسې یـوه بـده بېلګـه ده، چـې ۸۰٪ کابـل ښاریې په بې نقشې ودانیو ډک کړی دی.

- د چاپېریـال د چټلـۍ او د هـوا د ککړتیـا سـبب کېږي، چـې د ناروغیو او ستونزو له زیاتوالي سره مرسته کوي.

- ټولـو زړو او نویـو ښـاریانو تـه د باکیفیتـه او ښـو پوهنـو او

ketabton.com - The Digital Library



مهارتونو زده کول يو له امکانه وتلی کار ګرځي.

- د ښځو او نرو په ټولنيزو اړيکيو کې چټک بدلون هم د ټولنيزو بحرانونو او ټکرونو زمينه جوړولای شي.

- د وزګارتيا، غريبۍ او ناروغۍ له امله په اخلاقو او کلتور کې هم بحران او د معنويت سقوط منځته راځي او په ټولنه کې فقر، بېوزلي او نېستمني لا زياتېږي او د هيلو او اميدونو په ډيوو پسې راغلي خلک د نهيلي او مايوسۍ له تيارو سره مخ کېږي.

افغانستان په ځانګړي ډول داسې هېواد دی، چې د وګړو ۶۸٪ يې ځوانان دي او ښارونه به يې هم د ځوانو وګړيو ځوان ښارونه وي. دا چې د ځوانانو د کار، پوهنې، روغتيا، ټولنيزو اړيکيو، سلوک او روزنې مسايل ځانګړې توجه او پاملرنه غواړي؛ ددې لپاره زموږ مسوولیتونه لا پراخوي.

په افغانستان کې د چټکې ښارې کيدنې د بديل په توګه د کوچنيو ښارګوټو جوړول ډير ګټور او ضروري دي چې عملي هم دي او د تمدن او ثبات پر لور د ملت د تللو سره مرسته کوي. په دغو وړو ښارګوټو کې اوسيدونکي به له يوې خوا اساسي خدمتونو ته په اسانۍ لاسرسی ولري، له بلې خوا به يې له خپلو کليوالو خپلوانو سره راشه درشه او اړيکې دوام وکړي، چې د دوی د اولادونو د تعليم يافته کېدو په صورت کې به کليوال هم وهڅيږي چې په ښارګوټو کې له خپلو خپلوانو سره په دې برخه کې مثبته سيالي وکړي. همدا راز دا به د کليو د توليداتو لپاره د لنډو بازارونو په رامنځته کولو کې مرسته وکړي. د ښارګوټو اوسيدونکو ته به معلومات او خبرتياوې هم په اسانۍ رسيږي.

ketabton.com - The Digital Library



په دې توګه به د هیواد دایمي ثبات سره مرسته وشي.

څومره چې فکر کېږي؛ افغانستان نه دې مسئلې ته په جدي نظر کتلي، نه یې ورته تیاری نیولی او په داسې بې پلانۍ کې نه د دغو چیلنجونو د مقابلې توان لري.

په نورو هېوادونو کې دولتونه د ښاریتوب پروګرامونه د بېوزلۍ پای ته رسولو لپاره عملي کېږي او د ښارونو د منظمو پراخولو لپاره منظمې پالیسۍ جوړوي؛ خو زموږ د ښارونو پراختیا په داسې ډول روانه ده، چې د کابل ښکلی ښار اوس د ۸۰٪ بې نقشې ودانیو او د نفوس د انفجاري زیاتوالي له امله د نړۍ کثیف ترین ښار شو، او متاسفانه د ښارونو چټلي یوه داسې لویه ستونزه ده چې د بشریت د راتلونکو تر ټولو سترو ستونزو څخه بو وي.

د راتلونکو فاجعو مخنیوی په هغو پالیسیو، ستراتېژیو او تصامیمو پورې اړه لري، چې اوس باید ونیول شي.

❋❋❋

ketabton.com - The Digital Library

# په افغانستان کې ملت جوړونه

ملت جوړونه یوه داسې مسله ده، چې ټول ورسره دلچسپي لري، خو په مفاهیمو او پوهېدو کې یې توپیرونه شته دي.

ملت یوې داسې ټولنې ته ویل کېږي چې اوسېدونکي یې د یوې ځانګړې جغرافیې دننه د یو واحد دولت تر کنټرول لاندې په یوه داسې سیاسي ټولنه کې ژوند کوي، چې په ګډو او زیان کې ګډ وي؛ او شریک ارزښتونه ولري او ویې وپالي. په ملت جوړونه کې دولتونه، ؛ ولسونه او خلک سره یو ځای کوي او په داسې ډول ترې یو ملت جوړوي، چې په اوږده موده کې ددغه هیواد د ثبات سبب شي. په ملت جوړونه کې ټولنیزه هماهنګي او اقتصادي وده ډېر مهم ګڼل کېږي.

پخوا یې د ملت متشکله عناصر یوه قومي او نژادي منشه، شریک مذهب، ګډه ژبه، شریک کلتور، واحده جغرافیه او شریک تاریخ ګڼل، چې دا **ټول په یو وخت کې** نه پخوا او نه اوس د نړۍ په ملتونو کې پیدا کېدای شي، خو هر یو یې تر یوه حده رول لري.

که دا ټول عناصر حتمي وي، نو ممکن په نړۍ کې ډېر کم ملتونه موجود وي. د نړۍ له نژدې ۲۰۰ هیوادونو په یو کې هم یوازې یو قام ژوند نه کوي،همدا راز په دغو ۲۰۰ هیوادونو کې یوازې ۱۳ هیوادونه دي، چې یوازې یوه ژبه پکې ویل کېږي او یوازې په یوه کوچني هیواد

ketabton.com - The Digital Library



کې چې یوه جزیره ده یوازې یو مذهب لري او په نورو ټولو هیوادونو کې تر یوه د زیاتو قومونو او ژبو خلک او د بېلابېلو مذهبونو پیروان ژوند کوي. کلتور، تاریخ او جغرافیه هم د تاریخ په اوږدو کې بدل شوي او حتمي نه ده چې یو ځوک پخوا په کومه جغرافیه کې اوسېدلی، نو اوس دې هم ضرور یو ځای شي، تاریخي پېښې هم بدلېدونکې دي، ځینې وختونه یوه تاریخي پېښه یوه ملت ته حماسه؛ خو عین پېښه ورته بل وخت عار ښکاري. له بلې خوا زیاتره هیوادونه د بېلابېلو کلتورونو له مجموعې نه جوړ شوي دي او کلتوري رنګارنګي د ملت جوړونې په وړاندې نه؛ بلکې په ګټه یې ده. له دې نه معلومېږي، چې د ملت جوړونې جوړونکي عناصر ثابت نه و او نه دي او د هر هیواد د ځانګړو شرایطو، جوړښتونو او مقتضیاتو سره سم ټاکل کېږي.

په یو ځانګړي عنصر پورې ډېر نښتل مشکل نه حلوي، بلکې لا یې زیاتوي. د ملت جوړونې اساسي عناصر اوس زیاتره دادي: یوه واحده جغرافیه کې یو واحد دولت، یوه راټولوونکې ملي عقیده یا ایډیالوژي، او ګډې اقتصادي ګټې.

افغانان ډېر مشترکات لري او باید د مشترکاتو په تقویه کولو پسې وګرځي او. د یو بریالي ملت ـ دولت (Nation-state) ټینګولو ته چې له پخوا جوړ دی؛ متې راونغاړي. موږ ګډ تاریخ لرو او له زرونو کلونو راهیسې زیاتره د ګډ سرنوشت خاوندان وو. طبیعي جغرافیه مو هم کله تر دې اوسنۍ پراخه او کله همدا ډول شوې، خو د زیاترو تاریخي افتخاراتو مرکز همدا سیمې وې، چې اوس د افغانستان په چوکاټ کې شاملې دي. په افغانستان کې د ورونو تر منځ ځینې ګیلې ګوذارې شته، چې دا طبیعي دي. باید دغو ټولو ته په پوره غور، سړه سینه او

ketabton.com - The Digital Library



مسولانه ډول غوړ ونیول شي، او ورته عادلانه او معقولې د اوارې لارې ولټول شي.

تر ټولو مهم عنصر چې موږ د یو واحد ملت په شان راټولوي، هغه د اسلام سپیڅلی دین دی، چې کابو ټول افغانان مسلمانان دي. ګډ کلتوري ارزښتونه هم د افغانانو تر منځ مشترک دي، ټول افغانان باناموسه، میلمه پال، د بیوزلو ملګري، زړور او قانع خلک دي. د ژبو رنګارنګي د بشري کلتورونو په باغ کې د ښکلو ګلانو شتوالی دی. مهاجرتونو او په نوو فرصتونو پسې د انسانانو د منډو ترړو په نتیجه کې دا ناممکنه شوې ده چې په یوه خاوره کې دې اوسیدونکي ټول د یوه قام غړي او یا یوې ژبې ویونکي واوسېږي. دا نه ضرور ده او نه ګټوره، چې قومي عنصر ته د تقدس په سترګه وکتل شي او د ځان د شریف او دبل د نه شریف ثابتولو ببولالې تودې شي. انسانان د پیدا ایښت له مخې ټول یوه منشه لري او زموږ په دین کې، خو موږ ټول له بابا آدم نه او بابا آدم له خاورو پیدا شوی دی. انسان ته کرامت ورکړل شوی او په دې کرامت کې کوم محدودیت نه دی ښودل شوی. هغه ښېله خبره ده چې د خدای په وړاندې غوره والی په تقوا کې دی. ددې خبرې ژور مفهوم هم دا راوځي چې د خدای له وېرې د هغه له بنده ګانو سره مینه او د هغوی خدمت وشي. د انساني کرامت عمومیت ته نور بشریت په شلمه پیړۍ کې ورسېد او ایله په ۱۹۴۵ کال کې د ملګرو ملتونو دبشر د حقوقو اعلامیې په لومړۍ ماده کې راغلل چې انسانان په شرافت او کرامت کې مساوي دي. زموږ معنوي ملت جوړونه د ملي هویت او ملي ایډیالوژۍ مسله ده. موږ باید د ملي هویت ټینګولو ته پام وکړو او د اسلام لوړ ارزښتونه، عالي میراثونه له خپلو تاریخي ویاړونو سره یوځای او خپل ملي هویت ژوندی وساتو او پیاوړی یې کړو. موږ ته ضرور ده چې د افغانستان او افغان په نوم ټینګ او راټول

ketabton.com - The Digital Library



شو او اسلام خپل معنوي هویت وګڼو. ځینې کسان د افغان هویت یوازې په پښتون پورې منحصروي، خو دا کسان یا د ناپوهۍ او یا د غرض له مخې دا کار کوي. د نړۍ په مخ ټول هیوادونه له یوه شي نه خپل نوم اخلي. د امریکا په باب یو نظر دادی چې د یو شخص له نوم نه اخیستل شوی دی او په دغو مره ګڼ نفوسه او ټولنیز ډول مغلق هیواد کې پرې توافق راغلی چې ملي هویت یې امریکایي شي، نو موږ څه ستونزه لرو؟.

موږ نه شو کولای تردې هویت ښه بدیل پیدا کړو چې نژدې سل فیصده خلک مو پرې موافق دي. خپل ملي اتلان باید ونمانځو، هر څوک ملي اتلان لري او نمانځي یې، که څه هم هغه نورو ته اتلان نه وي، خو لا هم بشریت د تکامل دې مرحلې ته نه دی رسېدلی، چې دغسې ویاړنې او نمانځنې ونه کړي. دا که سمبولیکې هم وي، خو ملت پرې روحیه اخلي او پرې راټولېږي. د ګډ کلتور مشترکات هم موږ ساتلی او ښه ځلولای شو.

موږ د ملي هویت د ټینګولو لپاره ضرورت لرو چې له نړۍ او خپلو ورونو ګاونډیانو سره هم ځینې پولې او حدود وټاکو او د خپل مستقل تشخص او پېژندنې سرحدونه ورسره معلوم کړو. زموږ ملي اتلان، تاریخي ویاړونه او ملي حماسې باید تر دوی توپیر ولري. دا سمه ده چې د سیمې او اسلامي نړۍ په کچه به د نورو هیوادونو سره هم زموږ ځینې مشترکات موجود وي، خو په دې کې به د حمزه شینواري دا وینا خپل لاربنود ګڼو چې که د هیوادونواو ملتونو د یووالي ځنځیر جوړېږي، نو باید زموږ کړۍ پکې معلومه وي.

ketabton.com - The Digital Library



له نورو څخه د پېژندلو يوه مسله ملي ټرمينالوژي هم کېدای شي. متاسفانه په افغانستان کې ملي ټرمينالوژي په رسمي ډول نه ده تعريف شوې، خو د ولس او خلکو په منځ کې ځينې کليمې شته چې د هغوپر ځای نورې کارول خلک له حيرانتيا سره مخامخوي. دا يوازې ژبنۍ مسله نه ده، ملي هويت پورې هم اړه لري. که تاسو وګورئ، تجارتي کمپنۍ هم د خپلو توليداتو لپاره ځانګړي نومونه ړدي او وايي چې ددوی توليد بايد له نورو څخه توپيرشي. انګرېزان وايي موږ به له امريکايانو سره خپل هر څه شريک کړو، خو خپله انګليسي به ورسره شريکه نه کړو، ددوی په انګليسي کې ډېر لږ توپير دی، خو دوی غواړي، خپل تشخص په ژبه کې هم وساتي. په افغانستان کې يو حساسيت داسې ښودل کېږي، چې ګويا د يوې ژبې ويونکي د خپلې ژبې د برترۍ لپاره دا مسله راولاړوي، خو بنيادي وړانديز دادی، چې ملي ټرمينالوژي کې دې د هرې افغاني ژبې (کم تر کمه د پښتو او افغاني دري) کليمې وي، خو چې د ګاونډيانو سره پرې زموږ مستقله پېژندنه وشي. په افراطي ډول ايراني او نورې کليمې رااخيستل زموږ لپاره کومه ګټه نه لري، خو هويت مو لړزانده کوي.

د ملي وحدت جوړول د عملي برخې بېلابېلو پوهانو په مختلفو ډولونو څېړلي دي او لاندې عناصر ورته لازم ګني، لکه:

- د خود اراديت لرونکي يو موثر دولت جوړول.
- د ملي حالاتو او کلتور سره سم د يو خوځند او فعال اقتصاد رغول.
- د سختو ټولنيزو ستونزو حلول.
- د نورو دولتونو سره د راشه درشې په چوکاټ کې خپل هدفونه لاس ته راوړل.
- د چاپېريال او طبيعي زيرمو ښه کنټرول.
- د کلتور د دوام او بدلون تر منځ د توازن ساتل.

ketabton.com - The Digital Library



ډاکټر اشرف غني په خپل کتاب (د عادلانه نظام لار) کې په افغانستان کې د ملي هویت او ملت جوړونې پر مخ کې پرتې ستونزې په دې ډول په نښه کړې دي: ۱). مهاجرت، ۲). محرومیت، ۳). ژبنۍ ستونزې، ۴). قومي سیاست، ۵). د قانون نشتوالی، ۶). د سیاسي احزابو نشتوالی او ۷). بې روزګاره ځوانان، او د ملت جوړولو لپاره یې لاندې چوکاټ وړاندې کړی، چې په نهو ستنو ولاړ وي: ۱). اسلام، ۲). اغېزمن دولت، ۳). د پوهنې بنسټي کول، ۴). اغېزمن نړیوال روابط، ۵). نړیوالې اقتصادي مرستې، ۶). بشري پانګه، ۷). مارکیټ جوړونه، ۸). سیمه ییزه همکاري او ۹). دسیمه ییزې همکارۍ پیش شرط، چې هماغه اغېزمن دولت دی.

ملت جوړونه له بهره بریالۍ نه وي او که څوک یې تجربه هم کړي، نو تعهد، دوام، د مرستو تضمین او قانونیت یې تل تر پوښتنې لاندې راځي. ملت جوړونه باید له داخلي نوښتونو نه سرچینه واخلي او د ملت خلک پخپله پخپلو کې د اړیکو په توازن، د منابعو په عادلانه وېش، د سیاسي نمایندګۍ په عدالت او د ملي هویت په اصلي مفاهیمو توافق ته ورسېږي.

د امریکا د متحده ایالاتو مرستیال ولسمشر او د هغه وخت سناتور جوبایډن وړاندیز کړی و؛ چې د افغانستان او ګاونډیانو په اقتصادي او ټولنیزو اړیکو کې دې بدلون راشي او د افغانستان د بیا آبادۍ لپاره دې د اروپا دبیا آبادۍ (مارشال پلان) ته ورته یو پلان جوړ او عملي شي او په دې هیواد کې دې ملت جوړونه وشي، خو نورو امریکایانو ورته ویل چې افغانانو له روسانو سره جهاد د دې لپاره نه کاوه چې ازاد مارکیټ، دموکراسۍ، لیبرالیزم او مډرنیزم ته لار اواره کړي، چې د بایډن او لویدیځ لپاره د ملت جوړونې اصلي هدفونه دي.

ketabton.com - The Digital Library



افغانان د بهرنیانو مرستو ته اړ دي، خو د ملت جوړولو فرموله باید پخپله جوړه کړي. زموږ ملت جوړونه باید افغاني او اسلامي وي او اساسي چوکاټ يې زموږ له خپلو فکرونو او مغزونو راوتو کېږي.

تر جګړې وروسته هیوادونو کې د ملت جوړونې په پروسه کې د باکیفیته پوهنې او صنعتي علومو رواجول دوه برخې دي، چې ملت جوړونه چټکوي، دې تجربې په جاپان او جرمني کې بری ښودلی دی. البته د جاپان او جرمني په پېښو کې د دوی ایډیالوژیو هم ماته خوړلې وه، خو په افغانستان کې د دولت مخالفین اوس هم ځان د غازي یا شهید په نامه یادوي، چې د دوی د موجودیت واقعیت په پام کې نیول پکار دي. د ملت جوړولو لپاره د ملي اردو او ملي پوځ لرل حتمي دي، **خو څوک به دې پوځ ته انګېزه ورکړي او کوم پوځ چې د جګړې او دفاع لپاره انګېزه ونه لري، د یو ملت او هېواد ساتنه نه شي کولای،** او ملت جوړونه هم ټکنې کوي.

اوس د پخوانیو تنګو چوکاټونو پر ځای ملت- دولتونه جوړېږي او هغه ملتونه پیاوړي وي، چې ټولنیزې- اقتصادي زېربناوې یې پیاوړې وي.

افغانان کولای شي په دېرو اساسي مشترکاتو راټول او خپل ملي هویت پیاوړی او د ملت جوړولو پروسه چټکه کړي. لوی مشترکات په دې ډول دي:

۱ - **اسلام:** تر ټولو پیاوړی فکتور دی، چې له بادغیسه تر کونړه او له بدخشانه تر هلمنده ټول افغانان د وروری په یوه تینګ مزي تړي. نژدې ټول افغانان مسلمانان دي او اسلام د اعتدال، زغم او پوهاوي، مرستې، تعاون او مرستې د پیاوړیو

ketabton.com - The Digital Library



بنسټونو پر اساس دغه ملت واحد ساتلی شي.

**۲ - ګډ تاریخ او ګډه جغرافیه**: نن دفعتاً افغانستان ګڼ قومیز نشو. له زرګونو کلونو راپه دېخوا موږ په دې خاوره کې اوسېږو او په ګډه مو د خوښۍ او ستونزو وختونه سره تېر کړي دي. وروستیو مهاجرتونو وښودله، چې هر افغان تر بل هر ځای په خپل کور افغانستان کې ډېر واکدار، باعزته او کوربه دی او هېڅکله په ګاونډیو، تش په نامه وروڼو او د نورې نړۍ په "بشردوستو" هېوادونو کې کوربه نه دی.

**۳ - ټولنیز عدالت**: د ټولنیز عدالت تامین هغه اوبه دي، چې د ملت باغ خړوبوي او د بوټو اومیوو د ودې او پیاوړتیا سبب کېږي یې. که د انکشافي منابعو په وېش کې د مساوات او عدالت مراعات وشي او په سیاسي نمایندګۍ کې د هر افغان مساوي حق تضمین او عملي شي، د ملي هویت او ملت جوړونې یون غښتلی او چټکوي.

**۴ - فرصتونه**: هر افغان ته باید د مساوي فرصتونو داسې زمینې جوړې شي، چې ځان د افغانستان اصلي، حقیقي او د مساوي حقوقو او مساوي وجایبو او مکلفیتونو لرونکی غړی وګڼي؛ او په دې ډاډه کړای شي، چې له یو عادي پوست نه تر ولسمشر کېدو پورې هر مقام ته د رسېدو معقولې او قانوني لارې ورته خلاصې دي. هر افغان ته باید خپل وروستنې پوټېشنل ته د رسېدو زمینې خلاصې پرېښودلې شي.

ketabton.com - The Digital Library



**۵ - متــوازن انکــشاف او د اقتــصادي ودې زمینـــې**: سیمې او ولایتونـه دې داسې ګروپ بنـدي شـي، چـې مـستحق تـرین، مـستحق او نسبتاً پـر مختللي معلوم شي او تـر هغـه وروسـته دې انکشافي پلانونـه پـه دې ډول جـوړ شـي، چـې د لومړیتوبونـو تـر تـاکلو او تـر ټولـو مـستحق تـه تـر ټولـو لـومړی اصـل پـه پـام کـې ونیـول شـي. همدا راز پـه هـر کـار کـې باید د ملت عمومي مصلحت او عمومي ملي پراختیا په نظر کې وي.

**۶ - کلتوري وده او پوهنه**: د ټولو ژبو معقولې، متوازنې او عملي ودې ته دې پام وشي. ټولې دې د افغان ګډ کلتوري میراث او د ټول بشریت د کلتوري پانګې د یوې برخې په توګه درنې وګڼل شي. د ټولو افغانانو مثبت رواجونه دې تقویه او له منفي هغو سره دې مبارزه وشي. ښوونه او روزنه دې عامه، با کیفیته او حاصل ناکه شي او په افغان نسلونو کې دې ملي هویت، د ملت له لوړو ګټو سره مینه، د تاریخي ویاړونو او تاریخي اتلانو درناوی، د ټول بشریت پر وړاندې مسوولیت او د زغم او پوهاوي فرهنګ او د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د همدردۍ او وروري فرهنګ وروزي. که هر افغان په دې هېواد کې ځان د مساوي حیثیت، مساوي حقوقو خاوند وګڼي او پوه شي، چې تر ټولو لوړ مقام او خپل وروستني پوټینشل ته رسېږي؛ نو خپل ملي وجایب او مسوولیتونه به درک او د ملي هویت او ملت جوړونې پروسه به ګړندۍ او پیاوړې شي . د ګډ ملي فرهنګ د تقویې لپاره یوه جامع ستراتیژي پکار ده، چې واحد تعلیمي سیستم پکې ډېر مهم رول لوبولای شي.

۷. **ګډ کلتور** : افغانان زیات کلتوري ارزښتونه لري، چې دغه ارزښتونه له شمال نه تر جنوبه او له ختیځ نه تر لویدیځه یو شان پالل کېږي او مراعاتېږي.

**لنډیز:**

ketabton.com - The Digital Library



۱ د ملت جوړونې پخوانې مفهوم اوس تغیر میندلی او د وینې، ژبې، دولت او خاورې یا جغرافیې ټول عناصر په یو ځل په ځان کې نه شي راټولولای.

۲. اوس ملت د ولسونو هغې کتلې ته وايي چې په یوه سیاسي جغرافیه کې د یوه واحد دولت تر سیوري لاندې په خوښه او رضا د ټولنیزو قرادادونو په چوکات کې په یوه سیاسي ټولنه کې ژوند تېروي، مساوي فرصتونه ورته برابر او مساوي مسولیتونه ولري.

۳. دا ممکنه نه ده چې د یو هیواد ټول وګړي همدا اوس په فزیکي ډول د یو مور و پلار اولاد شي، خو په معنوي ډول ټول انسانان سره ورونه کېدای شي او ځکه د انساني ورورولۍ خبرې په غوږونو ډېرې خوږې لګي او باید زموږ د ژبې لومړنۍ خبرې وي.

۴. د نړۍ نژدې ټول ملتونه له متعددو نژادي منشولرونکې، د بېلابېلو مذهبونو له پیروانو او د بېلابېلو ژبو له ویونکو جوړ شوي او داسې ملتونه به په استثنايي ډول کم او یا هیڅ نه وي چې یوه نژادي منشه، یو مذهب او یوه ژبه ولري، خو دا واقعیت تر اوسه په بشریت حاکم دی چې لا هم د انسانانو د افرادو، ټولنیزو ګروپونو او سیمو تر منځ د انکشافي منابعو او سیاسي واک په وېش کې ځینې بې عدالتۍ رامنځته کېږي او دا باید اصلاح شي.

۵. انساني نسل لا تر اوسه د تکامل دې مرحلې ته نه دی رسېدلی چې ملي او جغرافیوي پولې په پام کې ونه نیسي، څو د نړۍ د هر ګوټ انسانان په آزاد ډول هر ځای او هر هیواد ته لاړ شي او د ښه ژوند فرصتونه ولټوي. نو ځکه لا تر اوسه ملي پولې، ملي ګټې، ملي هویت، ملي حاکمیت او ملي تړونونه موجود دي او انسانان يې په جدي ډول په پام کې نیسي.

۶. افغانان د یو ملت په توګه د ګډ ژوند لپاره کافي مشترکات لري، چې باید دغه مشترکات پیاوړي او د افتراق او نفاق سببونه تشخیص او ځېلې يې وچې کړي.

***

ketabton.com - The Digital Library

جان هیپلر

# له تشدد نه ډکې لانجې، د لانجو مخنیوی او ملت جوړونه

ژباړه، لندون او تعدیل

د شرق او غرب تر منځ تر سړې جګړې وروسته ډیرې سختې سیمه ایزې لانجې را منځته شوې، چې له پخوانې شوروي څخه آزادو شوي او ځینې نورو هیوادونه پکې راښکیل شول. په دې لړ کې د عراق، کوسووا، سومالیا، بوسنیا، روندا، بروندي، کانګو، سوډان، یوګوسلاویا، لیبریا او نوروهیوادنو لانجې یادولای شو. افغنستان هم یو له دغو هیوادونو څخه دی، چې اساسا د افغانسان جګړه د شرق بلاک د له منځه وړلو سبب شوه. په زیاتره هیوادونو کې تر جګړې وروسته دغو ستونزو ورو ورو داخلي فکتورونه هم ومیندل او د کلتورونو او تمدنونو د ټکر په ځای پکي قومي او سیمه ایز فکتورونه او د ناکامو دولتونو رول مهم شول. همدا سبب شو چې ملت جوړونه ضروري وبلل شوه.

ketabton.com - The Digital Library



په نوییمو کلونو کې ملت جوړونې هم په علمي او هم سیاسي محافلو کې منبثت پیدا کړ، او د دولتونو د پاشلو او ټولنو د ټوټه کیدلو د مخنیوي لپاره لازمه وګڼل شوه، څکه دغه دوامداره او نه حلیدونکې لانجې، د اقتصاد او بنسټونو د ویجاړتیا، سیمه ایزې بې ثباتۍ او حتی نړیوالو زیانونو سبب کیدای شي. ملت جوړونه د نظامي حل د ښه بدیل په توګه په ځانګړي ډول تر لانجو وروسته ملکونو کې یوه شدیده اړتیا ده، چې ثبات او انکشاف ته لار هواروي.

ملت جوړونه په هر صورت نه آسانه ده او نه بې له ستونزو. له بهر نه د نورو لپاره ملت جوړونه زیاتره له بیلابیلو نتیجو سره مله او زیاتره نهیلي کوونکي وي. په بهرنیو لوبغاړو تل شک موجود وي چې څومره ژمن دي، څومره موده پاتې کیږي، او څومره منابع اړو هیوادونو ته ورکولای شي؟ بهرنی ملت جوړونه زیاتره بهرني لوبغاړي په کورنیو لانجو کې ښکیلوي، او د قانونیت ستونزه هم راولاړوي.

د ملت جوړونې زوړ مفهوم زیاتره د قوم پر بنسټ ملت جوړونه ده، چې دا مفهوم کله را څرګند او کله پټیږي. په ۱۹۵۰ او ۱۹۶۰ مو کلونو کې د ملت جوړونې مسله د بهرنۍ پالیسۍ جوړولو او انکشاف لپاره یو مهم مفهوم و، او د مډرنیزم او موډ وفیشن یو لغت و، مخ پر ودې هیوادونو ته یې له قبیلویت او دودیزوالۍ څخه د لویدیځ د ماډل پرلور د تللو هیله ورکوله، چې عنعنوي ټولنې به په ملت-دولت بدلې شي.

نشنلیتي او ملت-دولت بنسټیزې کټه ګورۍ وې چې په دغو کلونو کې اقتصادي او سیاسي انکشاف یوازې په همدې حالت کې ښه ګڼل کیده.

ketabton.com - The Digital Library



ملت جوړونه او اقتصادي انکشاف غبرګوني هدفونه دي، چې ډيرې دندې، ستونزې او چلنجونه يې يو شان دي اود پاليسو او کړنو يوه هماهنګي غواړي.

اقتصادي انکشاف معمولا د بازار او مارکيټ اقتصاد ته، او سياسي انکشاف ملت جوړونې (ملت-دولت) ته ويل کيږي، چې د دواړو مجوعه مډرنيزاشن جوړوي.

د اټول مفاهيم دريمې نړۍ ته د اروپا د تجربو وړل دي، خو غربي ملت جوړونې هم کله کله د شرق نه ځينې شيان اخستي دي. ملت جوړونه د ۵۰ مو کلونو کې د سوسياليزم په وړاندې د اروپا يو دفاعي سيستم او همدا راز د ليبراليزم پر ضد يو حرکت و.

۳۰ کاله مخکې ملت جوړونه يوه تر استعمار وروسته پديده وه چې نوو ازادو شوو ملکونو د ډيرو پرمختللو ملتونو د موسساتو، زيربناو، اقتصاد، او ټولنيز نظم د راخپلولو يو د ډيرې زياتی ليوالتيا پروګرام په توګه ګڼله او ستراتيژيک او مسابقوي شي و، چې کله کله د امريکا او شوروي تر منځ د سوړ جنګ يوه برخه وه.

ملت جوړونه د ټولنيز-سياسي انکشاف يوه پروسه ده، چې معمولا په اوږده موده کې رامنځ ته کيږي، پخپلو کې په سستو مزو تړلې ټولنې سره ټينګوي، او يوه شريکه ټولنه (ملت-دولت) جوړوي، چې دا ټولنه سياسي، اقتصادي او کلتوري تحرکات را منځته کوي. دا ګرانه ده چې دغسې ملت جوړونه پخپله جوړه شي، او کيدای شي ډير متفاوت ابعاد لکه اقتصادي ادغام، کلتوري ادغام، سياسي تمرکز، بيروکراتيک کنټرول، د نظامي چارو واحده سوق و اداره، د ګډو ګټو

ketabton.com - The Digital Library



د مفهوم ایجاد، ډموکراتیزایشن، او د ګډ سیټیزنشیپ ایجاداو د اتنیک ټکر مخنیوی په ځان کې راونغاړي.

هم په اروپا او هم په دریمه نړۍ کې د ملت جوړونې سوله ایزې او خونړي پروسې دواړه تجربه شوې دي. په دې پروسو کې اقتصادي، سیاسي، او کلتوري انکشاف یو ځای کیږي، او په مشکله ممکنه ده، چې د انفرادي لوبغاړو له لوري د ستراټیژیکو پریکړواو فعال سیاست د یو ځای کولو له لارې له هر څه نه د ځان لپاره کار واخلي.

ملت جوړونه کیدای شي یو سیاسي هدف او یا د سیاسي هدف لپاره یوه ستراتیژي وي. چې داخلي یا بهرني لوبغاړي غواړي چې د یو ملت- دولت تر سیوري لاندې یو سیاسي او ټولنیز سیستم را منځته کړي، چې د دوی ګټې وساتي او د پخوانیو لارو چارو نه ډیر موثر او فعال وي، چې خپل قوت پرې زیات او مخالفین پرې کمزوري کړي.

**د ملت جوړونې اجزا :**

د بریالي ملت جوړونې اجزا په زیاتره حالاتو کې یو له بل سره اړیکې لري: وحدت راوړونکې او هڅونکې مفکوره او عقیده، د ټولنې ادغام او د دولت موثره دستګاه.

یوه وحدت راوړونکې عقیده په ښه ډول ټولنې یوه له بلې سره مدغموي، چې د سیاسي او ټولنیز تحرک سبب کیږي. نشنلیزم چې د قام پر بنسټ د ملتونو د جوړولو مسله تر نظر لاندې لري، له نورو قامونو او ملتونو نه ملت بیلوي، چې دا یوه زړه مفکوزه ده او تر څو چې جلا قامي هویتونه او د جلا هویتونو دعوې موجودې وي، ددې

ketabton.com - The Digital Library



مانا لري، چې یا ملت نه دی جوړ شوی او یا یې جوړښت بیرته وران او زیانمن شوی دی.

د ملت جوړولو یو مهم جز د یوې فعالې حکومتي دستگاه موجودیت دی، چې په سم ډول خپله خاوره کنټرول کړي. ددې لومړنی شرط دادی چې وښایي؛ ټولنې په یوه سیاسي ټولنه کې شاملې دي چې په دې حال کې دولت د یوې سیاسي ادارې په شکل را منځته کیږي، چې کولای شي موثر کار وکړي او له خپلو وړتیاوو خبر وي. دولت جوړول د ملت جوړولو اساسي کلي ده، چې د عملي وړتیاوو یوه محدوده یا range ولري، لکه د دولتي دستگاه لپاره مالي سیستم جوړول، د منظم امنیتي او قانوني سیستم شته والی، او یوه اداري فعاله دستگاه چې د هیواد په هره برخه کې موثره او منل شوي وي. دولت وفادار پرسونل ته اړتیا لري، چې د ابتدایي ټولنو، قامونو، او مذهبي گروپونو له مخې نه پیژندل کیږي، بلکې د دولت او ملت له نوم نه ځان معرفي کوي. دولتي دستگاه باید د هیواد په ټوله برخه کې د قوې د استعمال انحصار په لاس کې ولري چې د اوږدې مودې لپاره بریالی وي.

بریالی ملت جوړونه د درې پخپلو کې پیچلو برخو له مثلث نه جوړه شوې ده: دولت جوړونه، ټولنیز یو ځای کیدل او عقیدوي قانونیت. ځینې برخې، لکه زیربنا نسبتا په اسانۍ سره له بهر نه راتلای شي، خو نورې یې ډیرې گرانې او حتی ناممکنې دي، چې له بهر نه راوړل شي، لکه په ځانگړې ډول د عقیدو په برخه کې. بهرني لوبغاړي ملت جوړونه اسانولی یا گرانولی شي، خو په مطلق ډول یې نه مخه نیولای شي او نه یې پوره راواردولای شي. په دې برخه کې داخلي فکتور اساسي دی.

ketabton.com - The Digital Library



## ملت جوړونه او ټولنیزه هځونه

د ملت جوړونې اساسي اجزا ملت-دولت، د ټولنیزې هځونې ډېره لوړه پیمانه او سیاسي ادغام دي. دولت د ارزښت له مخې د ملت جوړونې مرکزي ټکی نه دی، خو یو مهمترین جزیې ضرور دی، چې د نورو برخو د خوځښت لپاره هم مهم دی. د جرمني رومانتیسزم له زمانې را پدیخوا چې ویل به یې ملت له پخوا موجود وي او باید موجود وي، خو یوازې دولت دې جوړ شي، د مقابل لوري په نظر په زیاتره برخو کې یوه پیچلې او حتی د دغې نظریې په ضد نظریه راوتې ده. حتمي نه ده چې ملت دې له لومړي سره موجود وي، بلکې د نورو ډېرو ټولنیزو پدیدو په شان په ګرانه او ناهمګونه پروسه کې را جوړیږي او شکل نیسي. په زیاتره حالاتو کې دولتونه موجود وي، خو اتباع یې دملت په یوه واحد لوښي کې نه وي حل شوي، دا خبره حتی په اروپایي هیوادونو لکه فرانسه او انګلستان کې هم دغسې وه، چې ملت دا اوږدو تاریخي پروسو په نتیجه کې له بیلابیلو ټولنیزو ګروپونو نه په دې ډول جوړ شو چې محلي قوتونه یې کم کړل، قوانین، لوایح او ټولنیزې اړیکې یې ښې تنظیم کړې، یو واحد کال یې غوره کړ، د مذهبي اتحاد پر لور لاړل، ښوونه یې واحده او عامه کړه او شریک پوځ یې رامنځته کړ. پخوانۍ پادشاهۍ هم زیاتره د قوم او ژبې پر بنسټ نه وې، بلکې زیاتره پکې مذهبي او نظامي اړخونه پیاوړي وو.

په زیاترو ګڼ قومي ملتونو کې ملت جوړونه او ټولنیز ادغام دولتونو پخپله پیل کړی دی . او ځینې میتودونه یې کارولي دي، لکه په اقتصادي برخو کې د موادو، پیسو، کار ګمارنې، عامه خدماتو او اقتصادي پروژو تطبیق، په کلتوري برخه کې د ژبې مسله، د مذهب په باب پالیسۍ او د پوهنیز سیستم اصلاح، د نظامي قواوو تنظیم او د خارجي پالیسیو متوازن کول پکې شامل وو. زیاتر د ملت جوړونې

ketabton.com - The Digital Library



پروسې له پاسه نه لاندې خوا ته د دولتونو له خوا عملي کیږي، خو بریالۍ یې هغه دي چې د ټولنې له منځه راولاړې شي. خو د ټولنو خوځښت پکې په هر حال کې ضرور دی.

په ملت جوړونه کې د یوڅو محدودو کسانو پر ځای د ټولنې ډیر زیات کسان په سیاست کې شاملیږي او قدرت او سیاست د یو څو کسانو او کورنیو له انحصاره وځي. خو کله کله د ملت په نوم له قدرت نه ناوړه ګټه هم اخستل کیږي او تر فیوډالیزم هم ډیر استثمار رامنځ ته کوي. ملت جوړونه د ولسواکۍ پر لور یو ګام دی. په ملت جوړونه کې د ملت ټولو غړو ته د سیاسي موجوداتو په سترګه کتل کیږي، دولسونو او دولت تر منځ د لا ښو اړیکو لپاره د سواد کچه او د رسنیو فعالیت ډیره مهمه برخه لري.

په هغو ټولنو کې چې د ژبو، اتنیکي ګروپونو او مذهبونو تنوع وي، نو د واحد سیټیزنشیپ لپاره د ټولنیز عدالت اصل مهم دی. د سیاست د قومي کولو، ژبې ته د تفوق د ځو او د ځانګړي مذهبي ګروپ برتري ستونزه نه حلوي، بلکې پر ځای یې د واحد تابعیت، ټولنیز عدالت او د منابعو او خدماتو عادلانه ویش مرسته کوي، چې یو واحد او پیاوړی ملت جوړ کړي.

د ملت جوړولو هره پروسه زاړه ټولنیز او سیاسي سیستمونه په نوو بدلوي یا یې اصلاح کوي، او ځکه د واک له نوي ویش سره ملګری وي. ملت جوړونه په سیاسي، اقتصادي او کلتوري برخو کې ځینې بایلونکي او ګټونکي لري، چې معمولا هغه کسان چې پخوا یې اضافي امتیازونه لرل او اوس د ټولنیز عدالت د ایجاباتو له مخې هغو ته دوام نه شي ورکولای، ورسره مخالفت کوي.
د سیمه ایزو واکدارانو مسله یوه ستره ستونزه ده. که دوی د سیمه ایزو قواوو په تشکیل کې داسې ځای کړل شي چې عمومي هیوادنیو ګټو ته وفادار شي،

ketabton.com - The Digital Library



ښه ده، خو که د قام او مذهب پر بنسټ د نازغمې پر لور کار ته دوام ورکړي، نو د ملت جوړونې په وړاندې د سیاسي، اقتصادي او کلتوري ستونزو سربیره نورې ستونزې هم زیږوي .

ملت جوړونه د لانجو د مخنیوي، او د ستونزو په حل کې تر جګړو وروسته پالیسو لپاره ضرور ګڼل کیږي، خوعمومي میکانیزم، تجربې، او ستونزې یې باید په پام کې ونیول شي. دا ښکاره ده چې فعال، موثر او باثباته ملت- دولت تر بې ثباته، شړیدلې او ناکام دولت نه خپلو خلکو ته ښه امنیت او خدمتونه او د ټولنیزې او اقتصادي ودې زمینې برابرولای شي. دا کوم له بهر نه د جوړ شوي فرمول په توګه د هر ځای او هر ملت لپاره یو شان نه شي کیدای، بلکې باید سیمه ایز او د هر ملک ځانګړې شرایط پکې په پام کې ونیول شي.

ملت جوړونه د ملي اردو او پوځ له جوړولو پرته ګرانه ده، دا د سوله ساتنې د ماموریت په شان کومه ساده خبره نه ده،بلکې د ټولنې د خورو ورو شوو ګروپونو بیرته رایوځای کول او په شریکو ارزښتونو او ارمانونو یې راټولول او راضي کول او بیا ددوی د سر، مال او ناموس د ساتلو ډاډ ورکول دي.

له بهر نه ملت جوړونه کیدای شي د امپریالستي پلانونو برخه او رنګین دامونه وي، باید له داخل نه د ملت د باخبره قشرونو او د ټولنې د فعالو ګروپونو او وګړو د کار او زیار له لارې د یو فعال او قانونمند دولت په چوکاټ کې یوه عادلانه ټولنه جوړه شي، چې ملت جوړونه یوه ملي، داخلي او ازاده پروسه شي .

ketabton.com - The Digital Library

# ایا دلته د حکومت یوازې یوماډل بریالی دی؟

د بېلابېلو وسله والو قوتونو تر منځ دایمي جوړښت او روغه او ایتلاف منځته نه راځي.

د افغانستان د تاریخ په زیاترو برخو کې، چې ولس د بهرنیو یرغلګرو پر ضد جنګېدلی، د یرغلګرو تر ماتې وروسته یو نظامي قوت پر نورو د غلبې له لارې سوله او ټیکاو منځته راوړی او که نه نو په هېواد کې کورنیو جګړو دوام کړی دی. د انګرېزانو تر دویم یرغل وروسته امیر عبدالرحمن سره له دې، چې نیم افغانستان یې له ځان سره ونشو ساتلای؛ خو په پاتې افغانستان کې یې ثبات او سوله ټینګ کړل او د "پولادي امیر" لقب یې وګاټه.

ده به ویل، چې دا ملت زمریان دي او پاچا یې باید تر زمریانو زړور وي.

هغه د انګرېز پر ضد د جهاد زیاتره مشران یا د توری په زور او یا د سیاست له لارې له صحنې لیرې کړل؛ ټول یې وپوهول، چې په ځنګل کې یو زمری ځایېږي او په حکومت کې یو امیر. کله، چې یو امیر وي نو پاتې نور ټول باید رعیت او تابع شي.

ketabton.com - The Digital Library



کله، چې به ترې پوښتنه وشوه، چې تا خو د جهاد ټول ملګري له منځه يووړل، د ده ځواب داو، چې دا زه له منځه نه ورم؛ نظام يې له منځه وړي. نظام څرخ دی او اوچت سرونه پرېکوي، ټول دې سرونه ښکته او رعيت دې شي، که نه وي د نظام له څرخ سره مخامخېږي. هغه داسې رعب واچاوه، چې د کلکې ارادې لرونکي خپل وفادار ملګري يې هم په کراره پرېښودل. ده په دې توګه محلي ځواکونه او بې مسووليته غله او ډاکوان کرار په ځای کېنول.

نادرشاه او سردار هاشم خان که څه هم له وسله والو قوتونو سره په ايتلاف کې نه و راغلي؛ خو د امان الله خان په وخت کې نفوذ ته رسېدلي ملکي متنفذين يې هم تر تيغه تېر کړل او د امير عبدالرحمن ماډل يې قايم کړ، چې يو پکې بادشاه او نور رعيت وي. ددې دوا ړو تشدد ددې باعث شو، چې تر ې راتلونکې دوه نور واکمنان هم نسبتاً سوله ييزه واکمني وچلوي؛ خو د ټولنو د ودې طبيعي قانون دی، چې واکمنان هم يو وخت نرمېږي او په ټولنو کې نوي زيږه او نوي اتل مزاجه خلک سر راپورته کوي.

حفيظ الله آمين هم د خپلو مخالفينو او هم د خپلو ګوندي ملګرو د له منځه وړلو له لارې دا هڅه وکړه، چې په يوازې سر پاتې شي او نور ولس يې رعيت شي، خو نتيجه يې ورنکړه. تر هغه وروسته لا خطرناک انقلابونه او بحرانونه راغلل او د روس يرغل هم پکې پېښ او مات هم شو.

ketabton.com - The Digital Library



د روس تر ماتې وروسته حالاتو لپاره فكر كېږي چې د مجاهدينو له ډېرو ډلو ځخه كم تر كمه د دوه ډلو مشرانو په ځانګړي ډول ځان تيار اوه، چې د امير عبدالرحمن رول ولوبوي؛ نور مجاهدين او وسله وال قوتونه يا په خوښه او يا زور بې وسلې او د خپلې مشرۍ لاندې ټينګ نظام جوړ كړي. له دوى ځخه يو يې له نړۍ سره په ټكر كې راغى او بل له نړۍ سره يو ځه جوړ جاړي او سازش ته ورسېد؛ خو ويې نشو كولاى د كابل تر نيولو وروسته افغانستان با ثباته او ټول حريفان د خپلې مشرۍ منلو ته اړ كړي او ځكه خو هېواد په كورنۍ جګړه كې كېووت. طالبان راپورته شول او د امير عبدالرحمن خان رول يې ولوباوه او نژدې وو، چې ټول هېواد پخپله ولكه كې راولي؛ خو دوى هم له نړۍ سره په ټكر كې شول. نړيوالو د بېلابېلو غير متجانسو ډلو كسان، چې جلا فكرونه، جلا وفادارۍ او جلا مفكورې لري د حامد كرزي تر مشرۍ لاندې په يوه حكومت كې راټول كړل، خو متاسفانه د دې حكومت زياتره غړي نه كوم تعهد لري، نه كومه ستراتېژي او نه كوم د اشتراك ګډ ټكي. دوى ټول مسووليت په يوه شخص وراچوي، نو ځكه د نړيوالو له حضور سره- سره ورځ تر ورځې امنيت خراب شو، دولت له داخله فاسد شو، د مخدره توكيو مافيا پراخه؛ او له كنترولـه وتلى بحران رامنځته شو.

اوس دا نظريه راپيدا كېږي، چې يو كوچنى او وروسته پاتې افغانستان يوازې د يو امير او يو رعيت ظرفيت لري او د بېلابېلو نظريو او په ځانګړي ډول د وسلوالو ګروپونو زغملو ته تيار نه دى. ځينې مفكرين هم وايي، چې يو عادل ديكتاتور ته

ketabton.com - The Digital Library



اړتیا ده، چې نظامي قوتونه منحل کړي، یوه ملي اردو او یو ملي پولیس جوړ کړي، باغیان او یاغیان، غله او شوکماران، اختطاف چیان او حکومتي غله په دار کړي، ولس ته سوله، امنیت او اطمینان راوړي، د ترقۍ او سوکالۍ پر لور دروازې پرانیزي.

تر څو چې سوله او ثبات نه وي، هیڅ شریفانه پروګرام او هیڅ پرمختیایي هڅه باوري نه ده او ډېر ژر یې د منځه تلو امکان شته.

تر څو چې دې خلکو ته د شریفانه او آبرومند کار او اشتغال له لارې د ساده او عادي ژوند تېرولو امکانات برابر نشي او ولس (نر و ښځې) باسواده او تعلیم یافته نشي، نه پردي پوځونه امنیت راوستی شي او نه خوارېه شعارونه د خلکو ګېډې مړولای شي.

خو پوښتنه داده، چې آیا موږ امیر عبدالرحمن ته اړتیا لرو؟ او آیا یوازې د حکومت همدا یو ماډل دلته کار ورکوي؟

د آمیر عبدالرحمن تشدد ددې زمینه جوړه کړه چې لومړی وارث یې (حبیب الله خان) په نسبتاً آرام ډول واک وچلوي، خو دویم وارث یې (آمان الله خان) له بحران سره مخ او پاچاهي او هیواد پرېښودو ته اړ شو. د سردار هاشم خان کیسه هم دغه شان شوه: ظاهرشاه په نسبتاً آرام ډول واک وچلاوه، خو دویم وارث یې (سردار داود) له بحران سره مخ او د تهولې کورنۍ سره قرباني شو.

ketabton.com - The Digital Library



که څه هم دا به ښه وای چې تر هغې چې د خلکو د پوهې او اقتصاد کچه یو څه ښه کېدای؛ یو قوت تر نورو د هر پیاوړی شوی وای. دې هیواد ته یې لومړی ثبات او ټینګه سوله راوړې وای او بیا یې د خلکو بنیادي حقونه ورکړي او ټولنیز خدمتونه یې ورته وړاندې کړي وای، خو داسې ونه شول او دغسې قوت نه پیدا شو، نه نورو پرېښود او نه یې اوس پرېږدي، نو د دې دومره انقلابونو او بحرانونو وروسته اوس د سیاسي انحصار زمینې کمې ښکاري او افغانانو ته پکار دی چې د یو ازاد سیستم منلو ته زړونه او ذهنونه تیار کړي.

وسله وال قوتونه دې د اشخاصو، ګوندونو او ګروپونو له انحصاره په مطلق ډول را وایستل شي. بې طرفي، کفایت او وړتیا دې یې یقیني شي. نور ولس دې په ټولو ټولنیزو، سیاسي، او اقتصادي پروسو کې د مساوي وطنوال په توګه بوخت شي او ملکي سیاسي کارونه دې تر نظامي هغو بېل او د قوت د استعمال انحصار باید یوازې له ټاکل شوي دولت سره وي او بس.

اوس داسې ښکاري چې څوک په افغانستان کې څوک انحصار ته نه پرېږدي او افغانستان اوس له هغې انزوا څخه راوتی دی، چې په نولسمه او شلمه پېړۍ کې پکې ایسار و، نو پکار دی چې د قانونیت په چوکاټ کې د پوهاوي او زغم کلتور راخپل کړو او له انحصاري فکرونو تیر شو.

✵✵✵

ketabton.com - The Digital Library

# ایا افغانان جګړه مار دي، جنګیالي که د عدم تشدد لارویان؟

څه موده مخکې د افغانانو د کلتوري ستونزو د څېړلو، د هغو د سببونو د میندلو او ورته د حل لارو موندلو په منظور یو نړیوال کنفرانس جوړ شو. ددغه کنفرانس په درشل کې زما یو خوږ دوست، چې د هېواد او ولس لپاره د خواخوږۍ ژور احساس لري ماته ټلیفون وکړ، چې ددې کنفرانس اصلي لوری باید دې ته وګرځول شي، ترڅو نړۍ ته دا پیغام ورکړي، چې افغانان جګړه مار نه دي او د پاچا خان د عدم تشدد په لار روان دي او نړۍ ته زموږ سم انځور نه دی وړاندې شوی.

دا چې یاد شوی کنفرانس کلتوري مسایلو ته وقف و او پلان یې بشپړ شوی و؛ ددغې اجندا ځایول پکې ممکن نه و، خو دې مسئلې ماته ډېره ژوره پوښتنه پیدا کړه، چې آیا موږ جنګیالي یوو، جګړه مار یوو او که د عدم تشدد پیروان؟

څه موده مخکې یو بهرني محقق هم له مانه پوښتنه وکړه، چې ولې تاسو تل په جګړه کې یاست؟ نړیوال وایي، چې دا یو زیږ هېواد او یو زیږ ملت دی او د ټول تاریخ په بهیر کې پکې یو ډول جګړه ماري موجوده وه او هېڅکله هم پوره ارام نه و. دا

ketabton.com - The Digital Library



ډول خبرې حتی د امریکا د ولسمشر بارک اوباما په وینا کې هم راغلې دي.

یو افغان څېړونکی وایي، افغانستان د خپل ۵۰۰۰ کلن تاریخ ۳۶۰۰ کاله په جګړه کې تېر کړي دي.

افغانان او نیکونه یې هم په انفرادي جګړو کې بوخت وو او هم په ملي، وطني او دیني هغو کې. دا جګړې زیاتره دفاعي وې، خو کله کله یرغلیزې هم وې.

په دې هیواد کې په انفرادي او سیمه ییزو کچو د جګړو او شخړو یو عمده علت دادی، چې د خلکو د منابعو او معیشت تېرولو د لارو چارو کمی دی. له بلې خوا افغان دولتونه زیاتره کمزوري وو او دي او د خلکو امنیت نشي ساتلای.

د افغانانو ځینې ګروپونه په لوړو غرونو او ځینې په پراخو دښتو کې اوسېږي، بلکه کټګوري په کوچیاني او ګرځند حالت کې دي، کله چې په دغسې ګرانو حالاتو کې دولتونه د دوی د سر، مال او ناموس ساتنه نشي کولای، دوی مجبور دي، پخپله وسله وګرځوي او د خپلې دفاع لپاره یې استعمال کړي. د وسلې ساتل ددې سبب کېږي، چې لرونکي یې په استعمالولو کې وروزل شي او ځکه تولو جګړو ثابته کړه، چې افغانان ډېر ښه او تاپ (لوړ) جنګیالي دي. دغې ګرانې جغرافیې، پېچلي تولنیز سیستم له یوې خوا دې ته زمینه جوړه کړې ده، چې افغانان جنګیالي وروزل شي، له بلې خوا دغې سختې جغرافیې او پکې روزل شوو کلکو خلکو د یرغلګرو ځواکونو د برې مخه

ketabton.com - The Digital Library



نیولي ده. د پښتنو قبیلوي ژوند او دقومونو او کورنیو نظامي تشکل ته ورته جوړښت هم د دوی له جنګیالیتوب سره مرسته کړې ده.

د افغانانو د خاورې جغرافیایي موقعیت داسې دی، چې د لویو فاتحانو لاره ده؛ نو ځکه دوی زیاتره د دغو فاتحانو د لښکرو ماتوونکي او ډېر لږ یې د کاروانونو ساتونکي جنګیالي پاتې شوي دي.

یوه ډېره حساسه مسئله داده، چې افغانان هغه وخت تر ټولو ښه جنګېږي، چې مذهبي عواطف یې زیانمن او دیني احساسات یې راوپارول شي. دا ځکه، چې دوی د ژوند وسایل او د مادي امکاناتو څخه څه برخه نه لري، له ژوند نه یې خوند نه دی اخیستی او ژوند ورته خوږ شوی نه دی؛ یوازې سپېڅلې عقیدې دا هیله ورکړې ده، چې په بل ژوند کې به ټول خوندونه او عوضونه ورکړل شي، همدا راز دا ښخونده او له کړاوونو ډکه دنیا ورته لنډه - تنګه معرفي شوې ده؛ نو کله چې یې یوازنۍ پانګه (معنوي- دیني) له ګواښ سره مخامخ شي، تر ټولو ډېر راپارېږي او ښه جګړه او ښه دفاع کوي.

د پښتنولۍ د انتقام رواج هم یو علت دی، چې افغانان باید جنګیالي وي، که دولتونه قاتل ته سزا نشي ورکولای؛ خلک مجبور دي د خپلو عزیزانو د وژنو انتقام پخپله واخلي او که نه وي؛ نو د انسان مرګ به د چینچنو په شان اسان او بې مسوولیته شي. جمعي دفاع او جګړه هم ځکه کوي، چې دوی پوهیږي، چې نن په تا سبا په ما.

ketabton.com - The Digital Library



کله- کله افغانان له مسلمانو فاتحانو سره هیڅ مقاومت نکوي؛ ځکه دوی ته لا د وطن، ملت او ملي ګټو مسایل دومره ژور او پاخه شوي نه دي او چې مسلمان فاتحان یې مادي ګټې له مستقیم ګواښ سره مخ نکړي؛ بیا نو ورته ظهیرالدین بابر تر ابراهیم لودي ښه ښکاري؛ د خپل ورور لودي پاچاهي ړنګوي او د بابر امپراطوري جوړوي، دا چې بابر یې بیا له سرونو کله منارونه جوړوي، دوی د هغه فکر نه وي کړی.

ظهیرالدین بابر چې په فرغانه کې خپله پاچاهي وبایلله، راغی د کابل له یوسفزو سره یې خپلوي وکړه او مرسته یې ترې وغوښتله چې د پاچاهي نیولو کې ورسره مرسته وکړي. دوی ورته د هند د پاچاهۍ نیولو ورانديز وکړ او له خپل ورور ابراهیم لودي نه یې ورته پاچاهي ونیوله. بابر چې د افغانانو دغه توره ولیدله، نو په بدل کې یې په زرګونو افغانان له تیغه تیر کړل او خپلو نسلونو ته یې داسې وصیت ولیکه: هر چیرې چې مو افغانان لیدل بې شمېره، بې رحمه او بې تپوسه یې وژنئ، ځکه دا هغه جنګیالي دي چې خپلې پادشاهۍ ورانوي او نورو ته یې جوړوي.

کله چې امریکایانو د طالبانو حکومت ړنګاوه دا یې تر ټولو لوی جنرال تایید کړه، چې طالبان تر ټولو تکړه جنګیالي دي.

د ۲۰۰۹ کال د نومبر په نهمه د برلین دېوال د نړېدو شلمه کلیزه وه. د المان صدراعظمې له امریکا څخه مننه وکړه، چې د کمونیزم په ماتولو یې جرمني بیرته واحد هیواد کړ. او د پخواني شوروي د هغه وخت ولسمشر ګورباچف یې وستایه،

ketabton.com - The Digital Library



چې دا کاريې ممکن کړ. زه منتظروم چې اوس به له افغانانو هم مننه وکړي، ځکه روس او کمونيزم خود يونيم ميليون افغانانو په وينو مات شوي، خو هيڅ مې ترې وانه وريدل. ممکن هغې به فکر کاوه، چې افغانان خو بې هدفه جنګيالي دي، نو مننه له هغو په کار ده چې دوی جنګوي؟؟؟ دا ډېره د خفګان خبره ده، چې زموږ قرباني، هم څوک نه يادوي او له امريکا نه مننه کوي.

پاکستانيان وايي چې دا د (فاتح؟؟؟) جنرال اختر عبدالرحمن کمال دی چې روسان يې مات کړل او افغانان خو د ده دلښکرو هغسې جنګيالي وو، لکه د سلطان محمود چې وو.

د امريکا عوام وايي، چې روسان چارلي ويلسن مات کړي دي؛ چې پاکستانيان يې اجيران او افغانان يې جنګيالي وو، خو چارلي ويلسن لا بانصافه دی او وايي چې ددې بري اصلي اتلان افغانان دي. هغه او نور يوازې مرستندويان او اسان چاري وو.

نتيجه ګيري داده، چې افغانان جګړه مار نه دي او که وي هم کله- کله؛ خو جنګيالي دي او جنګيالي توب يې ټولو منلی دی. عدم تشدد پاچاخان د تحريک له استثنايي مثال نه غير د دوی د ژوند معموله لار نه وه او متاسفانه تر اوسه لا هم نه ده؛ ځکه په دې غرنۍ او ستراتيژيک چاپيريال کې، دا د نابودۍ له خطر سره مخ نسل د ځان د ساتنې لپاره پر عدم تشدد سربېره نورو لارو ته هم مجبور دی.

دا ګټه نکوي، چې موږ په جګړه کې ښکيل ولس؛ نړۍ ته

ketabton.com - The Digital Library



ووایو، چې موږ د عدم تشدد پلویان یوو؛ او دانړۍ ده چې زموږ ځینې کسان جګړه ماری ته استخدامیږي؛ خو هغوی زموږ ورونه د کمو منابعو او ساده انګېزو په بدل کې عملاً یو د بل پر ضد جنګوي؛ ورور مو په ورور وژني؛ ښوونځي مو زموږ په لاس راسوځوي او کور، کلي او ښار مو راباندې پخپله ورانوي.

موږ باید نړۍ ته دا قناعت ورکړو، چې موږ زیاتره یرغلګر جګړه ماران نه یوو او که جنګیالي یو؛ نو علت یې دادی، چې غریب یوو، بې تعلیمه یوو، د لویو نړیوالو لوبو مرکز یوو او نظامونه مو ټینګېدو ته نه دي پاتې شوي، چا مو امنیت نه دی نیولای د سر، مال او ناموس ساتنه مو مجبوروي، چې خپله ساتنه پخپله وکړو.

موږ په نړیوال کلي کې د یو باعزته کور په توګه د آزادۍ حق لرو، ورتیا یې هم لرو او د ویاړ او مشرۍ تاریخ هم لرو. که نور زموږ دغه حق ته درناوی وکړي، موږ به له هر چا سره د ښه او سوله ییز ژوند لپاره دا درې اصول ومنو: **متقابل درناوی، متقابلې ګټې او متقابل باور**.

موږ باید له نړۍ نه وغواړو، چې په یو سوله ییز هېواد کې د یو قانونمند نظام په جوړولو کې له موږ سره مرسته وکړي او په دې سیمه کې "د کنټرول شوې جګړه ماری" د دوامداره ساتلو له پلانونو دې تېر شي. د فقر ورکولو او تعلیم عامولو د جامع پروګرامونو په جوړولو کې دې راسره مرسته وکړي، چې دا ملت د ذهن له مخې روښانه او په ګېډه موړ شي.

ketabton.com - The Digital Library



زموږ زیاتره لیکوالان هم د تشدد، جګړه ماری او جنګیالیتوب فرهنګ ترویجوي او دا چې ملت مو زیاتره اتل پروره او قهرمان پرست ملت دی، لیکوالان یې هم د دوی د ذوق سره سم رزمي او جنګي ادبیات خپروي .ښه به وي چې لیکوالان، د فکر خاوندان او روڼ اندي د زغم، تحمل او پوهنې د فرهنګ د عامولو لپاره کار پیل کړي او نور د جګړې، تشدد او لاپو شاپو د ادبیاتو پر ځای د سولې، همکارۍ، کار او ښوونې ترانې سر کړي. یوویشتمه پیړۍ د فکر او پوهې پیړۍ ده او د کمال او مهارت مسابقه پکې د ژوند اصلي مضمون دی. موږ باید خپل نسلونه په دغه جهاد کې د بري لپاره وروزو او نور د زور او توري کیسې کمې کړو. پکار ده چې د رحمان بابا او مولانا عالي پیغامونه پیل کړي او ووایي چې موږ د دې لپاره راغلي یو چې یووالی راولو، نه بیلوالی.

که د پوهې، کار او زغم فرهنګ مو عام کړ، بیا به افغانستان د ګاونډیانو او نړۍ په فعال او موثر دوست، د تمدنونو او ملتونو د اتصال په کړۍ او د اسیا په رښتیني زړه بدل شي او بیا به موږ خلکو ته ووایو چې موږ جګړه ماران نه یوو.

❋❋❋

ketabton.com - The Digital Library

# تر ډيورنډ کرښې ها خوا
# زموږ نه بېلېدونکې برخه که تېر شوی تاریخ؟

د درې جنګونو په ترځ کې انګرېزان په دې وتوانېدل، چې نیم پښتانه له افغانستانه جلا او له بریتانوي هند سره یې ونښلوي. متاسفانه چې ددې وېش په نتیجه کې ورونه له ورونو جدا او د یوه بدن په منځ کرښه راکښل شوه. تولې یا زیاتره لوړې او حاکمې نقطې له هاغې خوا سره پاتې شوې، افغانستان له بحر څخه پرې او په وچه کې یو ایسار هیواد شو.

کله، چې انګرېزان د هند له نیمې وچې وتل؛ نو له افغانستانه بېل شوي خلک او ځمکه یې نوي تاسیس شوي دولت پاکستان ته پرېښوده. په دغه وخت کې د افغانستان حکومت هم کومه جدي غوښتنه ونه لرله او انګرېزانو هم د راتلونکو سیاستونو د پرمخ بیولو لپاره په نظریه ولاړ ظاهراً یو اسلامي پاکستان نسبتاً مقتدر غوښته، چې په نظریه ولاړ کمونستي شوروي اتحاد د پرمختګ مخنیوی وکړي، په سیمه کې تشنج ژوندی وساتي او هند او نور ګاونډیان وځوروي.

دغه وخت په کوزه پښتونخوا کې د پاچاخان تحریک نفوذ

ketabton.com - The Digital Library



درلود؛ خو دوی د مستقل پښتون دولت او يا له افغانستان سره د يو ځای کېدو کوم پلان نه درلود، يا يې نه و ځرګند کړی او په اصطلاح دغسې کومه دعوه يې راجستر کړې نه وه. که څه هم د خدايي خدمتګارانو تحريک پښتنو ته ځلور لوی خدمتونه وکړل: لومړی: پښتانه يې د پوهنې سره مينه وال کړل، دوهم: عدم تشدد ته يې راوبلل؛ اونړی ته يې د يو تمدن خوښوونکي او زغمناک قام په توګه معرفي کړل، دريم: ښاري کېدنې ته يې ليوال کړل او ځلورم: له سوداګرۍ سره يې اشنا کړل. خو په سياسي واک کې را نغلل، نه له خپلو ورونو سره يو ځای شول او نه يې هم يو مستقل هېواد جوړ نه کړی شو.

شهيد سردار محمد داود چې د مشرۍ او خدمت دواړو ډېر اورنی شوقي و، د ظاهر شاه په وړاندې يې ځان تياراوه او په يوه ښکلي شعار پسې ګرځېده، د پښتونستان شعار د ده لپاره ډېر جذاب ښکاره شو او زر يې دا شعار اوچت کړ. د ځينو کارپوهانو په نظر دا شعار د وخت د حکومت هم خوښ شو، ځکه د پاکستان د پراختيا غوښتونکې ادعا د مخنيوي لپاره چې د سيمې د اسلامي امپراتوريو د وارث په توګه يې پرمختلونکې ستراتيژي په سر کې لرله، ورته يو دفاعي شعار پکار و.

نوي تاسيس شوي پاکستان ته دا ستر ګواښ ښکارېده، چې له يوې خوا د هند او له بلې خوا د افغانستان سره په دښمنۍ اخته وي؛ خو د افغانستان له خوا د پاکستان سره دښمني له امريکا او انګلستان سره د دښمنۍ په مانا وه؛ ځکه دوی دا هېواد د يوه ستراتېژيک مقصد لپاره جوړ کړی و. د افغانستان

ketabton.com - The Digital Library



د کمزوري حکومت لپاره دغسې دښمني عملاً ګرانه وه، خو د پاکستان د وړاندې تلونکي سياست په وړاندې مجبوراً کم تر کمه د شعار په کچه يو دفاعي عمل ګڼل کېداى شو.

افغانانو او حکومتونو يې ددې لوى مقصد لپاره نه لازم وسايل لرل، نه کافي عزم، نه امکانات او نه هم نړيوال ملاتړ. موسى شفيق، چې تر ټولو هوښيار، کارپوه او عملي صدر اعظم و، د هلمند د اوبو ستونزه يې حل کړه، ده نه غوښتل له ګاونډيانو سره په مسلو کې افغانستان بند وساتي او پر ځاى يې د هيواد اقتصادي او ټولنيز پرمختګ ته توجه کوله، چې هيواد د هوسايني او دايمي ثبات لور ته بوځي. هغه په يوه مرکه کې د يوې پوښتنې په ځواب کې ويلي و چې نه غواړي افغانستان له پښتونستان نه قربان کړي.

پخواني شوروي او هندوستان؛ افغان حکومتونه دې مسلې ته لمسول؛ خو عملي او موثره مرسته يې ورسره نه کوله. برعکس غربيانو پاکستان په سيمه کې د يوه خطرناک ژاندارم په توګه روزه او پياوړى کاوه.

د ډيورنډ ليکه يوه ظالمانه او وحشيانه کرښه ده، چې د يو بدن په سينه تېره شوې او ورور يې له ورور نه جلا کړى دى؛ که څه هم موده يې پوره شوې او حقوقي ارزښت يې له لومړي سره هم کمزورى و او اوس خو ښېخي له منځه تللى دى؛ خو آيا اوس بېرته ددې دوه برخو يو ځاى کول څومره ضروري دي، څومره ممکن دي او څومره ګټور دي؟

د ډېرو ډيروشنونکو په اند، پاکستان له ځانه ددغو سيمو

ketabton.com - The Digital Library



بېلول د خپل هېواد له منځه وړل ګڼي او په مقابل کې یې یوه خطرناکه ستراتېژي پر مخ بیایي، چې عمده عناصر یې دا دي:

- د ډیورنډ دې غاړې پښتنو کې باید د تمدن ټولې نښې؛ لکه پوهنتون، روغتون، ښوونځی او پوهنځی، پول، سړک، برېښنا او تخنیک ټول له منځه ولاړ شي.
- د کار خلک دې له منځه لاړ شي، یا دې د پاکستان استخباراتي شبکې ته جذب شي.
- د رهبرۍ او لیډرشیپ وړ کسان باید پخپلو کې په جګړو واچول شي.
- فقر او بې سرنوشتي دې د دې غاړې په سیمو کې عام شي.
- او تر ټولو خطرناکه دا چې پاکستان د خپل وجود ضرورت ثبوت په دې کې لټوي، چې ځان د دې سیمې د اسلامي امپراتوریو وارث وګڼي او د سیمه ییزې مشرۍ لاس ته راوړل د خپلې ستراتیژۍ د عمق د تکي په توګه پر مخ بوزي.
- برعکس د ډیورنډ هاغې غاړې ته دې نسبي سهولتونه جوړ شي او خلکو ته دې یې دا احساس ورکړل شي، چې له خپلو افغانانو ورونو سره د یو ځای کېدو په نسبت یې له پنجابي پاکستان سره ګډ ژوند نېکمرغه دی. که په هر صورت د ډیورنډ ها غاړې ته هم کله بې ثباتي ورځي، نو هغه به هم د پښتنو په کور کې وي، او له آټک ها غاړه به په هر حال مصونه وي.

که چېرې د نړۍ حالت هم دا سې ترینګلی وي، هېوادونه او ملتونه د زور بالای زور په فورمول د ځان پیاوړي کولو او د بل د کمزوري کولو کوشش کوي؛ نو له افغانستان سره د لرو پښتنو له یو ځای کېدو پرته موږ یو پیاوړی نظام او دولت نشو

ketabton.com - The Digital Library



جوړولای چې هیواد تـه سـوله، ثبات او ولـس تـه نیکمرغـي راوړي؛ خـو مـوږ پـه دې وخـت کـې ډیـر ټپـي او زخمـي یـو، او دغسې سترو مسلو ته جوړ نه ښکارو.

د دواړو غـاړو خلکو تـر مـنځ د سیاسـي، اقتصـادي، ټـولنیزو، ولـسي او فرهنګـي اړیکـو ټینګـول او دوام یـو ګټـور کـار دی، چې د ولسونو د نژدې کولو لپاره سر ته ورسیږي.

کــه د نـړۍ ددې برخــې خلـک هــم د لویــد یځوالو پــه شــان پرمختللـی شـي، د مـسئلو د حـل نـوې او ښـې لارې ومـومي او د تفـاهم او نژدېـوالي کوښـښ وکـړي؛ بیـا پـه نـورو بـدیلونو فکـر کېدای شي.
لکه:

- کېـدای شـي د سـیمې ټـول یـا ځینـې هېوادونـه پخپلـو کـې د اقتــصادي ګــډ بــازار سیــستم رواج کــړي، وېــزې ختمــې او مـالیې کمې کـړي او یـو بـل تـه لازم سهولتونه برابـر کـړي، پـه دې صورت کې به کوز او بر پښتانه عملاً یو وي؛ خو د جلا- جـلا هېوادونــو تابعیت بــه لـري. یــو د بـل لــه اقتــصادي پرمختیـا سـره بـه مرسـته او د سـیمې د نـورو هېوادونـو او ملتونـو پـه نـژدې کېـدو کـې بـه مثبتـه او فعالـه برخـه اخلـي.
لاندې امکانات د دواړو هیوادونو په ګټه دي:
- د افغانستان له لارې د نل لیکې جوړول به د افغانستان او منځنۍ آسیا ګاز جنوبي آسیا ته ولېږدوي، چې د ټولې سیمې د اقتصادي غوړېدو سره به مرسته وکړي او پاکستان پکې ډېره ګټه کوي.

ketabton.com - The Digital Library



- د افغانستان له لارې د ترانزيټ پوټنشيل هم ډېر مهم دی. د ازبکستان ۸۰۰ زره ټنه پنبه د اوږدو لارو تر وهلو وروسته بندرونو ته رسېږي او ډېر ترانسپورټي فيس پرې لګېږي، د دې په مقابل کې پاکستان ډېرې پنبې ته اړتيا لري چې خپلو صنايعو ته وده ورکړي، او د دې دواړو هيوادونو تر منځ دا سوداګري د افغانستان له لارې ممکنه ده.
- د افغانستان له لارې د اکمالاتو د ځنځير جوړول به د افغانستان، پاکستان او ازبکستان درې واړو عايدات ډېر کړي او لګښتونه به راکم کړي.
- افغانستان د ګاونډيو هيوادونو، د هغې ډلې د پاکستان د سرحدونو د امنيت لپاره هم ډېر مهم دی. سوله يېز افغانستان به پاکستان او نور ګاونډيان له اضافي امنيتي لګښتونو بچ کړي او د هيوادونو تر منځونو پولې به د همکارۍ په زونونو بدلې شي.

- کېدای شي د دواړو غاړو پښتنو ته دا حق ورکړل شي چې د پښتون مېشته سيمو په هر ځای کې ملکيت اخيستلای او کار کولای شي.

- افغانستان او پاکستان کولای شي د متقابل درناوي او متقابلو ګټو پر بنسټ ستونزه داسې هواره کړي، چې افغانستان منځنۍ آسيا ته د پاکستان له سوداګرۍ سره مرسته وکړي او پاکستان سمندر ته د افغانستان له وصل سره. په دې سوداګرۍ کې د سرحد دواړو غاړو ته پرتو افغانانو ته د کار او اقتصادي ګټې ښې زمينې جوړېږي. په دې صورت کې به د دواړو هېوادونو دولتونه او ولسونه ښې تجارتي زمينې تر لاسه کړي او د خپلو ولسونو په نېکمرغۍ کې به بريالي شي. د ولسونو تر منځ اړيکې او

ketabton.com - The Digital Library



دوستي به هم کرمه، دوامداره او پخه شي.

- کېداى شي افغانستان، پاکستان، ايران او ترکيه او ورو-ورو نور اسلامي هېوادونه د ګډو اقتصادي ګټو پر بنسټ اتحاديې جوړې کړي، چې د لېرې والي پر ځاى به د اسلامي اخوت روحيه پياوړې او اقتصادي بشپړازي به له ځان سره ولري. دا کار هله کېداى شي، چې ددې هېوادونو حکومتونه د غرب له نفوذ نه ازاد او يا لږ تر لږه غرب ته د نه ضرر رسولو قناعت او تضمين ورکړاى شي.

که د سياسي جوړ- جاړي او اقتصادي ملګرتوب زمينې کرانې وي او يا لږ څه ډېره موده نيسي، نو لر او بر پښتانه بايد خپلو کلتوري اړيکو او راشې -درشې ته دوام ورکړي. د پوهې، معلوماتو او تجربو د شريکولو له لارې د تفاهم، نژدېوالي او ورورۍ لپاره کار وکړي. د دواړو غاړو پښتنو او ټولو افغانانو تر منځ د ورورۍ روحيه ژوندۍ وساتي چې دا کار به د سياسي او اقتصادي حل لپاره زمينه سازي وکړي. په وروستيو کلونو کې د لرو او برو افغانانو تر منځ داړيکو دزياتېدو او د دوى په ټولنيزو بنسټونو کې د بدلونونو؛ او د اړيکو او تفاهم د وسايلو د اسانتياوو د زياتېدو له امله دا خبره ډېره درک شوې او لا ثبوت شوه چې دغه ولس يو له بله نه بيلېږي.

✵✵✵

ketabton.com - The Digital Library

# یو څاڅکی اوبه په کومه بیه؟

داسې وسل کېږي چې د بشریت راتلونکې لانجې به د منابعو په سر وي، چې تر ټولو ډېرې به يې د اوبو لانجې وي. افغانستان د باران او واورو په اوبو متکي هېواد دی. که څه هم سرشاره سیندونه لري؛ خو زیاتره يې ژور تللي دي؛ نه د اوبو لګولو او نه هم د برېښنا لپاره پوره کارېدلي دي.

ما د مرستو له یوه بهرني کارپوه سره خبرې کولې او ترې ومې غوښتل، چې نړیواله ټولنه ددې پر ځای، چې میلیاردونه ډالر په بې نتیجې پروژو؛ او د ظرفیت جوړونې او جندر په نومونو دوه ورځنیو او پنځه ورځنیو کورسونو ولګوي، باید د اوبو لګولو او برېښنا په لویو پروژو دې يې ولګوي، چې هم د هر شمېر خلکو ضرورت پرې رفع شي او هم د هېواد اقتصادي پرمختیا او تخنیکي کولو لپاره لار خلاصه شي. هغه وویل، چې له اوبو څخه په راولاړو شویو سیاسي ستونځو کې يې خپله ماسترۍ اخیستې ده؛ او دا مشوره نه ورکوي. ځکه اوس د افغانستان ګاونډیان پیاوړي دي او نه پرېږدي، چې افغانستان خپلې اوبه پخپله استعمال کړي. هغه ویل، چې که افغانان اوس

ketabton.com - The Digital Library



دې کار ته اقدام کوي، يو څاڅکی اوبه به ورته په يو څاڅکي وينه تمام شي.

افغانان هم غواړي چې افغانستان بايد له خپلو ټولو ګاونډيانو سره د اوبو مسئلې حل کړي. په دې برخه کې نړيوال قوانين شته او بايد د هغوی په مرسته دا مسئلې هواري شي.

"د ناکامو دولتونو جوړول" کتاب کې ډاکټر اشرف غني د ځينو هېوادونو بېلګې راوړې دي، چې څنګه يې له يوې خاصې منبع نه د ټول هېواد د ترقۍ په ګټه کار واخيست. سينګاپور له خپل ټايم زون نه په ګټې اخيستو سره د نړۍ له پرمختلليو او پياوړيو اقتصادي قوتونو څخه شو. آيرلنډ معلوماتي ټکنالوژۍ ته په ودې ورکولو سره د اروپا د دغې برخې د مرکز په توګه يو پياوړی اقتصاد شو. د امريکا د متحده ايالاتو جنوبي ايالتونو، چې د شمالي ايالتونو په نسبت ډېر وروسته پاتې وو، د باکفايته واليانو او کاري ټيمونو په جوړولو خپل اقتصادونه دومره پياوړي کړل، چې ځينې يې د نړۍ د سترو هېوادو په اندازه آباد او ماړه شول. د ډاکټر صيب په نظر ،افغانستان د برېښنا په جوړولو دغسې چټک اقتصادي وده کولای شي. برېښنا او اوبه سره تړلي دي. د برېښنا بندونه به د اوبو د بندونو لپاره پکار راشي او که له يوې خوا به، په افغانستان کې د برېښنا په جوړېدو د هيواد روښانتيا، صنعتي کيدو او ګڼو نورو پرمختګونو ته لار خلاصه شي، له بلې خوا به ګڼ شمېر خلکو ته د ښې کرنې زمينې جوړې شي.

که افغانستان خپلې شاړې ځمکې خړوبې او يو اځې دولتي

ketabton.com - The Digital Library



ځمکې بې ځمکو او کم ځمکو افغانانو ته وویشي؛ نو ۱۲ میلیونه کسانو هر یوه ته ۵۰ جریبه ځمکه رسېږي. همدا راز د اوبو د مسیرونو سمون او کنټرول یو ډېر ضروري کار دی، او که نه وي، نو پر دې سربېره چې ځمکې مو اوبه وړي، په راتلونکې کې راته لویې ارضي ستونزې هم زېږوي. د آمو د سیند حال دغسې دی چې هر کال په زرګونو جریبه ځکه لاندې کوي.

د اوبو جنګونه به د بشریت راتلونکې حادې او خطرناکې لانجې وي. نړیوال کارپوهان وړاندوینه کوي، چې دا لانجې به تر ټولو زیاتې په منځني ختیځ او افریقا کې وي. منځنی ختیځ به نور د تېلو په خاطر نه؛ بلکې د اوبو د لانجو په خاطر ځورېږي . د جنوبي اسیا ځینې سیمې؛ لکه هند، پاکستان او بنګله دېش به هم له سترو چېلنجونو سره مخ شي؛ او یو ځاځکی اوبه به ورته تر ۱۰ ځاځکیو تېلو ډېرې قیمتي شي.

افغانستان د نړیوالو وړاندوینو له مخې په دغو لېستونو کې نه راځي؛ خو دا چې د پاکستان او ایران ځینې برخې د افغانستان په اوبو آبادې دي؛ نو پکار ده، چې له همدا اوسه د اوبو د مسئلې د حل لپاره پلانونه جوړ او د هواري لارې یې ولټول شي. د شاهي دورې وروستي صدر اعظم محمد موسی شفیق د هلمند د اوبو مسئله له ایران سره حل کړه. که څه هم د هغه وخت ځوانو مبارزینو نوموړی په اوبو خرڅولو او ابرو خرڅولو تورن کړ؛ خو بې پرې پوهان او څېړونکي وایي، چې هغه حل خورا عادلانه و؛ او د موسی شفیق ابتکار د ستایلو وړ دی.


د پاکستان پخواني ولمس مشر پرویز مشرف د کالاباغ بند څخه

ketabton.com - The Digital Library



په پخپله دفاعیه ویناکې په دې ټینګار کاوه، چې (افغانستان د جوړېدو په حال کې دی؛ او خپلې هغه اوبه، به خامخا ګرځوي او پخپله به یې راولي؛ چې حق یې دی؛ نو پاکستان باید عاجل اقدامات وکړي، که څه هم د نړیوالو قوانینو له مخې په دغو اوبو کې له پاکستان سره تفاهم او جوړجاړی ضروري دی). دا د دې مانا ده، چې د هېوادونو مشران او ولسونه مخکې له مخکې خپلو ستونځو ته متوجه دي او د هوارې او بدیلو لارو په باب یې فکر او عمل کوي. موږ باید هم همدغسې واوسو.

افغان مشران باید له ګاوندیانو سره د اوبو مسلې هوارې او د نړیوالو همکارې راوګرځوي، چې د اوبو لوی بندونه او پرې پیاوړې برښناکوټونه جوړ شي، چې د ولس د کار، بوختیا او نیکمرغي یون چټک او د هیواد ترقي ګړندۍ شي.




د اندوس سیند حوزه

✵✵✵

ketabton.com - The Digital Library

# ايا افغانستان د يو بې طرفه هېواد په توګه تضمينېداى شي؟

افغانستان، چې لسيزې او حتى پېړۍ يې په بې ثباتۍ کې تېرې شوې دي، اوسېدونکي يې زياتره نامصئون او له خطرونو، تېکرونو، مړينو او ژوبلو سره مخ وي. که کله دوى قوي شوي او پر نورو يې يرغلونه کړي دي، هغه هم د يو څه ناځيزه منابعو د لاسته راوړلو، يا د خپلو ارزښتونو د رسونې او ساتنې لپاره وو؛ خو زياتره دوى ته دا خپل جغرافيايي موقعيت اور شوى او هېواد يې د لويو فاتحانو د لښکرو لار ګرځېدلې ده.

افغان ولس او افغانستان په نولسمه پېړۍ کې د روس او انګليس د لويې لوبې له امله د ژرندې د دوو پلونو په منځ کې را ايسار او دل شو، سره له دې، چې پوره اوړه نشو؛ خو کنډ و کپر شو.

په شلمه پېړۍ کې د نړۍ لوى زبرځواک شوروي اتحاد پرې

ketabton.com - The Digital Library



راوډانګل، له هر و لسو کسانو یې یو وواژه، له هر و ۹ کسانو یې یو ټپي کړ، له هر و درې تنو یې یو مهاجرت او هېواد پرېښودو ته مجبور کړ او له هر و سلو کورونو یې ۸۰ په کنډواله بدل کړل، او ټول هیواد یې په یوه فاجعه کې ایسار کړ. دا انساني فاجعه د بشریت په تاریخ کې کم نظیره وه او ده.

شوروي اتحاد په افغانستان کې تر ماتې او وتلو وروسته له دې ملت او هېواد نه انتقام واخیست، د حکومت ډانچه او سیستم یې له داخله وپاشه، د چور او چپاو زمینه یې جوړه کړه او د دوی په وینا پرې یې نه ښوده چې د دوی خپله وسله چې په تنونو یې دې هیواد ته راوړې وه، بیرته د دوی پر ضد وکارول شي. امریکا هم دلچسپي ونه ښوده او افغانستان یې د یو داسې هېواد په توګه پرېښود، چې نور یې کوم ارزښت نه ورته درلود. محلي ځواکونو او ګاونډیانو د مداخلې له زمینې نه پوره ګټه واخیسته، متخاصمې داخلي ډلې یې یوې بلې ته تجهیز او وسله والې او وپاللې او خپل دا پلان یې عملي کړ، چې پخپله خوا کې یو بې وسلې، بې اردو او بې حکومته هېواد ولري، چې دوی ته تر سلو کالو پورې کوم تشویش جوړ نکړای شي.

د سپتمبر دیوولسمې ترپیښې وروسته امریکایانو د لسګونو نورو هېوادونو په ملتیا د القاعده شبکې د ځپلو په پلمه بیا پر دې هېواد د یوویشتمې پیړۍ جګړه راوړه او تر اوسه دوام لري.

د تېرو جګړو په ترڅ کې زمونږ ګاونډیان پیاوړي او موږ

ketabton.com - The Digital Library



کمزوري شو. اوس مو په ځنګ کې ټول اټومي قوتونه پراته دي روسیه او چین، خو له پخوا نه اټومي ځواکونه وو، هند او پاکستان د ساړه جنګ په جریان کې د اټوم خاوندان شول او ایران هم دادی د اټوم جوړولو پوتینشل لري؛ نو د داسې پېنځه اټومي ځواک لرونکو هېوادونو په منځ کې د یو داسې هېواد واقع کېدل څه مانا لري، چې ټول یا زیاتره ورته بد نیتونه هم لري.

ګومان نه کېږي، چې افغانستان به ژر ددې وړتیا، منابع او ټکنالوژي پیدا کړای شي، چې ځان په دفاعي لحاظ د خپلو ګاونډیانو د احتمالي یرغل دفاع ته تیار کړي؛ نو آیا دا ممکنه ده، چې نړیوال افغانستان د سویس په شان د یو بې طرفه هېواد په توګه ومني او وپېژني او دا بې طرفي او ددې هېواد په کورنیو چارو کې نه لاس وهنه او پرې نه تېری د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له لارې تضمین کړي؟

سویس زیاتره د اروپا په جګړو کې برخه نه وه اخستې او د دوهمې نړیوالې جګړې پر مهال په پوره ډول د یو بې طرفه هیواد په توګه راڅرګند شو او د جګړې له مصیبتونو تر ډېره وساتل شو. که څه هم نوو څېړنو په ډاګه کړې ده چې د دغې بې طرفۍ سره سره هم نازیانو سویسیان د ډېرو بارونو وړلو ته مجبورول، خو له یوې خوا د بې طرفۍ مسلې او له بلې خوا د سویس خپل غرني موقعیت له جګړو څخه د دې هیواد په ساتلو کې رول درلوده.

افغانستان که څه هم د نړۍ د مهمو سیمو تر منځ د اتصالي

ketabton.com - The Digital Library



پول حیثیت لري، له نورو یې تجرید ول او شوکول ممکن نه دي، خو کېدای شي د یو بې طرفه هیواد په توګه تضمین شي.

په دې بې طرفۍ کې باید یوه مسله تسجیل وي، چې افغانستان د خپلو سیمه ییزو لانجو د عادلانه حل غوښتنې له حق نه محروم نه شي، او له سوله ییزو لارو ورته د خپلو حقوقو د غوښتلو زمینه خلاصه پرېښودل شي.

هغه وخت، چې روسان تر ماتې وروسته له افغانستان څخه وتل او نړۍ ورته د ژنیو د موافقو تر پوښ لاندې د اوړو اوبو پوزه جوړوله، افغان مفکر، سیاستپوه او دیپلومات عبدالرحمن پژواک چیغې وهلې، چې په دې پروسه کې نړیوال پیاوړی تضمین نشته او د روسانو تر بې پلانه وتلو وروسته دا مظلوم هېواد له داخلي جګړو سره مخ کېږي؛ خو یا دده چیغې کمزورې وې، یا د نړۍ غوږونه کانه وو او یا چا د افغان چیغې په قصدي توګه نه اورېدې.

مونږ ته دغسې یو تضمین پکار دی، که نه هر زورور به یو ځل دلته زور آزمايي او که دبري چانس نه ويني او له دې هیواده بېرته وځي؛ مونږ به له داخلي جګړې او سیمه ییزو سیالیو سره مخامخوي.

آیا د داسې تضمین د غوښتو لپاره اوس داسې زورور آواز شته چې نړۍ ته ورسېږي او آیا نړیوال د اورېدو دغسې غوږونه لري؟

***

ketabton.com - The Digital Library

# بهرنۍ مرستې: شپږوم که سنډروم

تر دوهمې نړيوالې جګړې وروسته شتمنو هيوادونو له بيوزلو ملتونو سره ۲,۳ ټريليونه (دوه زره درې سوه بيليونه) ډالر مرستې کړې دي، چې يوازې يو ټريليون (زر بيليونه) ډالر د امريکا متحده ايالاتو برخه ده، خو د ملګرو ملتونو د سروې ګانو له مخې هغه ۷۰ هيوادونه چې بهرنۍ مرستې اخلي؛ تر پرونه نن ډير بيوزلي او نيستمن دي؛ او ۴۳ هيوادونه يې د ۱۹۷۰ په نسبت بد تر شوي دي.

دا ډيره عالي انساني خبره ده چې وسمن له بې وسو سره مرسته وکړي، او هر انسان د بل انسان په غم غمجن شي، خو په عمل کې لا هم زياترو انسانانو په زياتره ظاهري ښو هېلو کې پټې توطيې پټې کړې دي. ښې هيلې او غوښتنې بايد د پاکو، اغيزمنو او له فساد څخه پاکو حکومتونو د جوړلو سره موازي لاړې شي. د بامهارته کارکوونکو موجوديت، د قانون حاکميت او د ملکيت د لرلو حق، بايد ټولو ته موجود وي، او دا بايد يقيني شي چې بهرنۍ مرستې د ملا ماتوونکو شرطونو سره يو ځای نه وي.

د بيوزلو هيوادونو لپاره بهرنۍ مرستې کله کله ډيرې ضرور وي، او بې له هغو د بې وزلو او اسيب ليدلو وګړو ژوند له منځه ځي، لکه تر جګړو او طبيعي آفاتو وروسته او د خطرناکو ناروغيو، اپيډيمي ګانو او د مهاجرتونو او بې ځايه کيدنو په وخت کې. خو انساني ورورولي او بشري همدردي لا اوس هم زياتره خواږه شعارونه دي او د بشري

ketabton.com - The Digital Library



مرستوترنوم لاندې زياتره د هغو هيوادونو ګټې په پام کې نيول کيږي؛ چې مرستې ورکوي. بيوزلو هيوادونو ته بهرنۍ مرستې زياتره:

- له سختو شرايطو سره تړلې وي، او شتمن هيوادونه غواړي خپلې پاليسى ګانې پر بيوزلو هيوادونو وتپي.
- زياتره مرستې د وسلو او مهماتو د اخستلو لپاره ورکول کيږي. د وسلو اخستلو لپاره نظامي مرستې ډيرې ملا ماتوونکې دي، او زياتره د ميليټارستي سياستونو لپاره ورکول کيږي. امريکا به بهرنيو اردوګانو ته د امريکايي وسلو د اخستلو لپاره دغه ډول مرستې له ۵۰۰ ميليونو نه ۵۰۰۰ ميليونو ته لوړې کړې.
- پر شتمنو هيوادونو د بيوزلو وابستګي رامنځته کوي، او دې ته يې اړ کوي چې له مرسته کوونکو هيوادونو نه خريداري وکړي، چې څو چنده ګرانې وي. (زياتره له۲۵ نه تر ۴۰ سلنې پورې ګرانې وي). د HIV/AIDS درمل په افريقا کې له محلي سوداګرو نه په يو کال کې ۳۵۰ ډالر لګښت لري، خو د مرستو په بدل کې امريکايي درمل ۱۵۰۰۰ ډالر بيه لري.
- سيمه ايز مارکېټونه تر اغيزې لاندې راولي او داخلي توليدات زيانمنوي. مثلا : اريتريا کولاى شول په خپلو داخلي امکاناتو د سرکونو شبکه وغزوي، خو چې بهرنۍ مرستې يې تر لاسه کړې، نو انجينر، کارپوه، مشاور او کارګر پرې هم د بهر نه تحميل شول، چې ورته ډير ضرر ناک وو. د امريکا ٪۷۰ مرستې له دې سره تړلې دي، چې د دوى توليدات به اخلې.
- مرسته اخستونکي هيوادونه د شتمنو هيوادونو د فرهنګ او ارزښتونو منلو ته مجبوروي.
- دمرسته ورکوونکو هيوادونو د ماليه ورکوونکو په زيان وي، او پانګوالو ته يې ګټه رسيږي.

ketabton.com - The Digital Library



- اروپايي اتحاديه خپلې مرستې له تروريزم سره جګړې ته ځانګړې کوي (هغه څه چې تعريف نه لري، يا تعريف شوی نه دی)
- پر عراق د يرغل پر مهال امريکا د امنيت شورا ځينې غړي (کاميرون، ګوينا او اکوادور) دې ته مجبور کړل چې د امريکا په ګټه رايه ورکړي، که نه د دغو هېوادونو تجارت او مرستې زيانمنيدې.
- د بهرنيو مرستو تر ۵۰٪ زياتې خيالي مرستې (Pantom Aid) دي او په عمل کې هيڅ وجود نه لري.

په ۱۹۷۰ کال کې ملګرو ملتونو پريکړه وکړه چې شتمن هېوادونه به د خپلو ټولو توليداتو (GNP_ Gross National Production or GNI – General National Income) ۰,۷٪ بيوزلو ملتونو او هيوادونو ته ورکوي، خو تر اوسه لا دغه وعدې نه دي پوره شوي. په ۲۰۱۵ کې چې د MDG (د ملګرو ملتونو د زريزې هدفونه) بايد ترلاسه شي، داسې نه ښکاري چې شتمن هيوادونه به خپلې ژمنې تر ۴۵ کلونو وروسته (په ۲۰۱۵ کې) هم پلي کړي.

د ډالرو د شمير په حساب د امريکا متحد آيالات د جدول په بر سر کې، خو د سلنې له مخې په تر ټولو ټيټه برخه کې دي، يانې د ۰,۷ پر ځای يې يوازې ۰,۱۸ مرستې کړې دي. ددې پر خلاف د سلنې له مخې سويډن د جدول په سر کې دی. دا ټولې مرستې تر هغو پېسو کمې دي، چې پانګوالو هيوادونو لويو کمپنيو ته تخفيفونه ورکړي دي.

د ملګرو ملتونو د دويمې پراختيايي لسيزې د نړيوالې پراختيايي ستراتيژۍ له مخې بايد دغه مرستې:

- بې قيدوشرطه وي،

ketabton.com - The Digital Library



- کم تر کمه د ضروري شیانو د رانیولو لپاره وکارېږي،
- د ټولنیزې او اقتصادي ودې سبب شي،
- د مرسته اخستونکو هیوادونو ملي حاکمیت او خپلواکي تر اغیزې لاندې را نه ولي،
- د اوږدې مودې لپاره وي؛ او د اغیزو تداوم یې یقیني وي،

خو په عمل کې لا هم:

- بهرنۍ مرستې د مرسته ورکوونکو هیوادونو ستراتیژیکې ګټې تامینوي،
- په مرسته اخستونکو هیوادونو کې د پیاوړو وګړو او ګروپونو د ګټو د تضمین لپاره پکارېږي،
- د ناسمو بیو لرونکې شیان پرې اخستل کېږي.

مشهور اقتصاد پوه ویلیام استرلي په دې باور دی چې بهرنۍ مرستې د بیوزلو هیوادونو د پراختیا او انکشاف پروسه ټکنۍ کوي . دې وایي چې لویدیځ په تیرو پنځوس کلونو کې ۲،۳ ټریلیونه ډالر د بیوزلو هیوادونو سره د مرستې په نامه لګولي دي، خو په دې نه دي توانمن شوي، چې یو ماشوم د ۱۲ سنتیه په بدل کې د ملاریا له امله له مړینې وژغوري، یوې کورنۍ ته د ۴ ډالرو په بیه پشه خانې برابرې کړي او په درې ډالرو د میندو ژوند وژغوري، چې د هغوی له امله هر کال لس میلیونه ماشومان مري . د ملګرو ملتونو د سرمنشي تر لاس لاندې د ټولنیز او اقتصادي کونسل مشر جو انتونیو اوکامپو هم په دې اند دی چې دغه ډول مرستې د بیوزلو هیوادونو د انکشاف مخه نیسي، او د خصوصي سکتور زیاتره مرستې پانګوالو ته رسیږي.

ketabton.com - The Digital Library



افغانستان ته د بهرنیو مرستو د سیلاب په راپیلیدو له ټولو سره دا هیلې وې، چې ډیر زر به هیواد آباد او ولس به نیکمرغه شي. خو پوه نه وو چې ٪۸۰ مرستې به بیرته په ډیر مرموز ډول هغو هیوادونو ته ځي، چې مرستې ورکوي، او په پاتې ٪۲۰ کې به نیمې غلا کیږي، پاتې به نیمې د مامورینو تنخوا او یوازې ٪۵ به خلکو ته رسیږي. په دې پیسو به عادي ټیکه داران په دوبۍ، واشنګټن، لندن او نورو ښارونو کې ځمکې او جایدادونه اخلي، خو بیوزلي افغانان به نور هم بیوزلي کیږي، او د نوي مصرفي کلچر تر بار لاندې به یې ملا نوره هم ماتیږي.

په ځینو هیوادونو کې چې حکومتونه یې مسلکي او با کفایته دي، له بهرنیو مرستو ښه او اغیزمنه ګټه اخلي، او یوازې هغه مرستې جذبوي، چې د دغو هیوادونو له دوامدار انکشاف سره مرسته کوي او د نتیجو تداوم یې حکومتونه ساتلی شي.

د هندوستان هیواد اوسني لومړي وزیر من موهن سنګ ډیرې داسې پروژې رد کړي دي، چې دغه ځانګړنې یې نه درلودې. په بنګله دیش کې هم ډیرې بهرنۍ مرستې په نوښتیزو پروژو لګول شوي او د دې مخنیوی شوی دی، چې تر ښو یې بدې اغیزې زیاتې وي.

کله چې انسان ناروغ وي درملواو سیروم ته ضرورت لري .بهرنۍ مرستې باید هم یوازې دشدیدې اړتیا له مخې واخستل شي، لکه سیروم چې د ناروغتیا په وخت کې اخستل کیږي، خو که نورې اړخیزې اغیزې یې تر ګټو زیاتې وي، نو بیا د سنډروم شکل غوره کوي، چې د ټولنې د ژوند بیلابیلې برخې زیانمنوي، (سنډروم د ناروغیو د نښو نښانو یوه داسې مجموعه وي، چې د بدن بیلابیل

ketabton.com - The Digital Library



سیستمونه یې نیولي وي او رغیدل ترې ډیر ګران وي) په دغه صورت کې باید له بهرنیو مرستو پرهیز وشي.

د هیوادونو د دایمي ثبات لپاره دا ضرور ده چې پخپلو پښو د ودریدو تمرین وکړي. اوس زموږ هیواد په بهرنیو مرستو دومره تکیه دی چې که دغه مرستې ودریږي، نو د دولت او حکومت زیاتره سیستمونه به ونړیږي او سقوط به شي. ددې لپاره هم له اوسه ډیرې دقیقې پالیسې ګانې جوړل پکار دي، او د مفکرو مغزو او فعالو خواخوږو مشرانو همغږۍ ته ډیره شدیده اړتیاده.

هیڅ هیواد په بهرنیو مرستو پوره پرمختګ نه دی کړی، یوازې هغو ملکونو سم پرمختګ کړی دی، چې له بهرنیو مرستو پرته یې پخپلو پښو د ودریدو کوښښ کړی او تعهد او کلکه ژمنه یې کړې ده، چې ځان جوړوي.

***

ketabton.com - The Digital Library

# ایا نړیوالتوب فرصت دی، چیلنج که خطر ؟

نړیوالتــوب زړه کیــسه ده؛ خــو پــه نــوې، ســتره او نــه باورېـدونکې چټکتیـا پراخېـدونکې ده. دا یـوه دوامـداره پروسـه ده، چـې سـیمه ییـز اقتـصادونه، ټـولنې، کلتورونـه، نړیـوال بعدونـه پیـدا کـوي، یـو لـه بـل سره مـدغمېږي، د نړیـوال پوهـاوي، اړیکیـو، ټکنـالوژۍ او علـم د پرمختـګ لـه املـه پـه نړیـوال اقتصاد کې ملي اقتصادونه مدغمېږي.

پـه هـر حـال، نړیوالتـوب د اقتـصادي، ټکنـالوژیکي، ټـولنیز-کلتـوري، سیاسـي او بیولـوژیکي فکتورونـو مجموعـه ده. همـدا راز د مفکـورو، ژبـو او نظریـو انتقـالي دوران یـا پـه لـوی کلتـور کـې د بې کلتوره کېدو یوه څپه ده.

نړیوالتـــوب د وریـــښمو د لارې پـــه ســـوداګرۍ، د اســـلامي طلایـي دوران پـه کلونـو، د اسـتعمار په دورې او اوسـنۍ دوره کـې خپله څېره په یو ډول نه یو ډول ښودلې ده.

**په اقتصادي برخه کې:**

د دولتونـو لـه خوا د جـوړو شـویو بنـدونو او پولـو لـه منځـه تلـل

ketabton.com - The Digital Library



او د اشیاوو، پانګې، خدماتو او کاري قوې جریان اسانول بې شمېره کوچنۍ او سره تړلې پروسې دي، چې پالیسي، پانګه، سیاسي اراده، بشاري سیمې، ټولنې، چوکاټونه او نورې ډېرې ملي پدیدې نا ملي کوي؛ او نړیوالتوب ته یې داخلوي.

روان نړیوالتوب له نړیوالې دویمې جګړې وروسته را ګرندی شو؛ د تجارت پر مخ د دېوالونو د نړولو او د نویو فرصتونو د لاسته راوړلو لپاره هڅې کوي او ادعایې داده، چې ولسونو ته نېکمرغي راولي، خو اړخیزې اړیکې پیاوړې کوي او د راتلونکیو جګړو مخه نیسي. په سوداګریزو او اقتصادي برخو کې د ډېرو سترو نړیوالو ادارو؛ لکه نړیوال بانک، د پیسو نړیوال صندوق، او نورې یې مهمې بېلګې دي.د اقتصادي نړیوالتوب مهمې برخې دادي:

- د ځینو مالیو له منځه وړل، د ازاد تجارت زونونه جوړول.
- د کم لګښته ټرانسپورټېشن رامنځته کول.
- د پانګې د کنټرول کمول یا له منځه وړل.
- د سیمه ییزو تجاراتو لپاره د تخفیف کمول، له منځه وړل یا یو شان کول.
- دانټرنېټ پر مټ د سوداګرۍ او اړیکو پراخې زمینې،
- تر ملي په لوړه کچه د ذهني پانګې د حق او مالکیت منل.

**ځینې ارقام** :

نړیوالتوب د خارجي تولیداتو جریان چټکوي. د نړیوال تجارت له لارې د اشیاوو تولید ۱۰۰ چنده زیات شوی دی او له ۹۰ بیلیونه څخه ۱۲ تریلیونه ته رسېدلی دی (په ۴۰ کالو کې).

ketabton.com - The Digital Library



د ۲۱ پېړۍ په پیل کې د ۱۰۵ تریلیونه په ارزښت تجارت په بهرنۍ کرنسۍ کې شوی دی.

- هند په IT ټکنالوژۍ کې دومره پر مخ لاړ، چې د نړۍ د هرې مهمې کمپنۍ ځانګه هلته شته او د نړۍ له ۱۰ سترو پانګه والو څخه دوه تنه هندیان دي. په ۲۰۰۷ کې چین ۴۱۵ زره او هند ۱۲۳ زره میلیونران لرل. نړیوالتوب یواځې اقتصادي مسئله نه ده؛ بلکې څو اړخیزه ده؛ ځکه یې د تللو او معلوملو شاخصونه جلا دي.

په کوچنیو ملکونو کې د لویو پانګوالو د صنعت، تجارت، ټرانسپورټ، او نورو پیل او دوام د هوا په ککړتیا او چاپېریال منفي اغېزه کوي، او ستر چیلنج ورته جوړوي.

**په سیاسي برخه کې:**

نړیوالتوب د یوه نړیوال حکومت لپاره هڅه ده. په نظریاتي ډول اسلام هم د نړیوال خلافت خبره کوي؛ خو اوس له مسلمانانو سره دغه وس، عزم او امکانات نشته. اوس په امریکا کې د نویو محافظه کارانو ډله، د روم کلب او نور پټ سازمانونه؛ لکه د ۳۰۰ کمېټې بېلابېلې څانګې نړیوالتوب د نړیوال حکومت لپاره کاروي او لوی-لوی پلانونه په مخ کې لري. امریکا ځان د نړیوال مشرتوب وړ ګڼي؛ او وایي، چې امریکایي مشرتابه هم د نړۍ د مشرۍ وړتیا لري او هم ددې لپاره غوره دی. د نړیوالو او سیمه ایزو سازمانونو رامنځته کېدل؛ لکه د ملګرو ملتونو سازمان، د اسلامي کنفرانس سازمان، د جنوبي اسیا د هېوادونو د مرستې سازمان او نور د سیمه ایزې او نړیوالو اړیکو او همکارۍ لپاره ډېر ګټور

ketabton.com - The Digital Library



تمامیدای شي.

**په کلتوري برخه کې:**

انګرېزي ژبه، چې د نړۍ د ۵٪ خلکو ژبه ده، د یوې یرغلیزې ژبې په توګه په ټوله نړۍ پاچاهي کوي.

- د نړۍ ۳۵٪ برېښنالیکونه، تلکسونه او کېبلونه په انګرېزي دي.
- د نړۍ ۴۰٪ راډیویي پروګرامونه په انګرېزي ژبه دي.
- د نړۍ ۵۰٪ انټرنیټ چارې په انګرېزي ژبه دي.

د معلوماتو او خبرتیاوو په برخه کې د انټرنیټ، سټلایټ، ټلیفون او نورو وسایلو پرمختګ د نړۍ ډېرو ګرانو جغرافیاوي سیمو ته ورسېد.

د کلتور، علم، ټکنالوژۍ او اقتصاد په ټولو برخو کې مقابله او مسابقه اوس په نړیواله کچه ده؛ او ملتونه له دغسې ګرانو مقابلو او سترو چیلنجونو سره مخ دي.

- د توریزم، سفر او سیاحت نړیوالتوب، د کانټینینټل هوټلونو جوړول او د څو کلتوري او رنګارنګه کلتورونو ترویج په بیړه روان دی. نن ورځ هره شېبه ۵۰ میلیونه وګړي په الوتکو کې د سفر په حال کې دي.

- د فلم، سینما او ډرامې هنر او د هالیوډ او د بالیوډ برلاسي د نورو ملتونو د کلتور دغه برخې تر اغېز لاندې راولي.

- د ژوند د سټنډرډ لوړېدل هغه ستونځه ده، چې نړیوالتوب بېوزلو ملتونو ته راوړی دی.

- مهاجرتونه او زیاتره ناقانونه مهاجرتونه د نړیوالتوب بله ستره مسئله ده، چې اوس په نړۍ کې ۲۰۰ میلیونه وګړي د مهاجرت ژوند تېروي.

ketabton.com - The Digital Library



- پاپ کلچر، د موسیقۍ موډرن شکلونه، ډسکو او نوي ډانسونه، لوبې او د انټرنیټ پر مخ د ګوګل، فیس بوک، یو ټیوب، آیډیل سیریز، مای سپیس او نورو ډېر شیان ځوانان نړیوال کلتور ته ورکاږي.

**نړیوالتوب زموږ لپاره:**

نړیوالتوب د اقتصاد، ټکنالوژۍ، کلتور، سیاست، اخلاقو، مذهب، جرمونو، قوانینو، ټولنیزو مسایلو، خوړو، څښلو، دودونو- رواجونو او هر څه په باب داسې مسایل لري، چې بحث پرې کېدای شي؛ خو زموږ لپاره د فرصتونو په څنګ کې، چې موږ به زیاتره له هغوی څخه د استفادې ډېرې کمې ورتیاوې لرو، ډېر جدي چیلنجونه لري:

- مهاجرتونه او د فرصتونو په لټون کې زموږ استعدادونه راکاږي، مهارت او مغزونه رانه تروړي.
- لویې غول پیکره کمپنۍ زموږ محلي تولیدات او سیمه ییز ځواکونه او فرصتونه تر برلاسۍ لاندې راولي او موږ خپلې ودې ته نه پرېږدي.
- بې مسوولیته او زورور تجاران، صنعت کاران او سوداګر د چاپېریال او هوا د ککړولو له لارې د ملت روغتیا تباه کوي.
- پرایتوټایزېشن (خصوصي کول) کله کله زموږ له بېوزلو خلکو نه اساسي- ټولنیز خدمتونه؛ لکه روغتیایي او تعلیمي وړیا خدمتونه اخلي او وطن له لا ډېرې بدمرغۍ سره مخ کوي.
- په خوړو، لباس، د ژوند په سټنډرډ، راشه درشه کې نوی مصرفي کلتور زموږ د کمزوري اقتصاد ملا ماتوي.

ketabton.com - The Digital Library



- مخکې له دې، چې موږ په خپلو پښو ودرېږو، د مهارت او کسب خاوندان شو، له نړیوالو سره د سیالۍ جوګه شو، د همداسې بې خبرۍ او بې پلانۍ په حال کې ممکن د نړیوالتوب په سیلاب کې لاهو شو.
- له بهر نه راغلي بې مسوولیته او په ګڼ شمېر کې کار کوونکي به ډېرې زیاتې ساري ناروغۍ؛ لکه HIV/ AIDS دلته عام کړي.
- دا چې زموږ ولسي ذهن محافظه کار او ژر له بدلون سره ځان نشي جوړولای او ښاریان مو هم په ظواهرو تېروځي؛ نو ډېر زیات زیان راځېلمه دی.
- د نړیوالتوب له برکته په نړۍ کې ۱۰ میلیونه میلیونران د ۴۱ تریلیونه ډالرو خاوندان شول؛ خو د نړۍ ۲۹٪ خلک د نیستۍ تر لیکې لاندې ژوند کوي، چې د افغانانو په سلو کې ۴۲٪ یې دغه شان فقیران دي.
- پخپله مهارت نه لرو او که کوم یو را پکې د مهارت شخص وي، بهر ته به په ښو فرصتونو پسې ځي، په مقابل کې به یې بهرني کارپوهان زموږ نیمه بو دیجه رانه بهر ته وړي.
- د بشریت له پیدا ایښت څخه تر ننه پورې د برترۍ او منابعو د کنټرول لپاره جګړې شوي او په فرصتونو پسې هڅې روانې دي، دا جګړه به هغه څوک ګټي چې ډېر پیاوړی، ښه مجهز او روزل شوی وي. آیا موږ په دې منډه کې څومره چټک او څومره پیاوړي یو؟
- د نړیوال حکومت د داعیو پروړاندې موږ څومره خپل ملي حاکمیت ساتلای شو؟
- په نړیوالتوب کې تر عام ولس زیات د سرمایه دارانو او سرمایه ګذارانو د حقوقو لپاره کار روان دی او لویې

ketabton.com - The Digital Library



کمپنۍ کله کله د عامو وګړیو بشري حقونه هم پایمالوي، ملي صنعت او دندې له منځه وړي.

- د وګړو ترمنځ د عاید فرق زیاتره یو طبیعي شی دی، خو په بې کنټروله حالت کې لوی طبقاتي تضاد منځته راوړي؛ لکه په لاندې جدول کې:

| د نړۍ د وګړو سلنه | عاید |
|---|---|
| تر ټولو پانګوال ۲۰٪ خلک | ۸۳٪ |
| دویمه درجه ۲۰٪ | ۱۲٪ |
| درېیمه درجه ۲۰٪ | ۲،۴٪ |
| څلورمه درجه ۲۰٪ | ۲،۳٪ |
| غریب ترین ۲۰٪ | یوازې ۰،۲٪ |

آیا دا عدالت دی، چې د نړۍ ۵٪ خلک، چې د نړۍ ۵۵٪ منابع یې په لاس کې دي، بیا هم پر نړۍ جنګونه او جګړې تپي، چې تېل، انرژي او نورې پانګې ولوټي او د عدالت، نړیوال حکومت، بشري حقوقو او د ښځو د حقوقو په نوم ماړه لا ماړه او وږي لا وږي کړي.

نړیوالتوب په حقیقت کې لویو فرصتونو ته د ټولو لاسرسی دی خو هغه چا ته چې وړتیا، وسایل او آماده ګی یې ډېرې وي.

که په افغانستان کې له اوسه هغه پالیسۍ او ستراتیژۍ جوړې نشي، چې موږ دې ور کړي، تر څو د نړیوالتوب له فرصتونو ګټه واخلو؛ چیلنجونو ته یې تیار شو او له خطرونو یې ځان وساتو، سبا به بیا ډېر ناوخته وي فکر کوم اوس هم پوره ناوخته دی!!!

***

ketabton.com - The Digital Library

# ایا نړیوال په افغانستان کې سوله غواړي؛ که جګړه؟

افغانستان داسې بدمرغه، تقدیر او جغرافیه لري، چې هر څوک په نړۍ کې زبرځواک شي، پر دې هېواد یرغل کوي او یا له دې لارې د نورو هېوادونو او سیمو پر لور د تلو هڅه کوي. لکه چې ومو ویل، که په یونان کې سکندر د نړۍ د نیولو تکل کوي او که په مغولستان کې چنګېز، که په منځنۍ آسیا کې تیمور، بابر او شیباني پیدا کېږي او که په ایران کې صفویان او نادر افشار، که مسلمان عربان غواړي جنوبي آسیا ته اسلام ولېږدوي او که نامسلمانه انګرېزان غواړي هند ته "تمدن"؛ خو یو ځل پر دې هېواد یرغل کوي او له موږ سره زور ازمايي.

د شلمې پېړۍ زبرځواک شوروي اتحاد او د یوویشتمې پېړۍ بې رقیبه زبرځواک امریکا هم باید دلته راشي، چې د کمونېزم او دیموکراسۍ نسخې موږ ته له ګولیو، باروتو او وینو سره یو ځای راکړي.

دا دېرش کاله هغه موده ده، چې زموږ نسل د جګړو او

ketabton.com - The Digital Library



وړانیو اثرات پخپلو حواسو او بدنونو زغمي. اوس هم افغانان سم نه پوهیږي، چې نړیوال دلته سوله غواړي، که د جګړې دوام؟

۱. **روسیه**: روسیې تر ماتې وروسته په افغانستان کې یو داسې حکومت پرېښود، چې یو وزر یې خلقیان وو، چې په اردو او پولیسو کې وو او بل یې پرچمیان، چې په ملکي ادارو او استخباراتو کې واکمن وو. روسان ویریدل چې دغه حکومت به زر د مجاهدینو له خوا نسکور شي، نو ظاهراً یې لویې وسلې؛ لکه سکاډ، لونا او اوراګان ورکړل؛ خو د پردې تر شا یې له نړیوالو لوبغاړو سره دا سازش وکړ، چې روسي وسله باید د روسیې او د هغې د متحدینو پر ضد ونه کارول شي او د یو افغان له خوا د بل افغان پر ضد استعمال شي. روسانو لومړی د خپل دوست حکومت لومړی وزر وایست او له دولت څخه د تنې او دده د ملګریو د وېستلو له لارې یې د نظام د ملاتیر (اردو او پولیس) مات، بېواکه او بې اعتباره کړل.

ډاکتر نجیب، چې په ساده خوښۍ به یې تر دغه ظاهري برې وروسته ویل: "نه خلقي یم او نه پرچمي یم، یو غریب بنده د خدای یم" ، د تنې په ماته یې ځان بې رقیبه فاتح احساساوه، خو خبر نه و چې پرچمیانو ته یو اځې پاتې شو.

روسانو له پخوا نه د افغانستان سیاست له ایډیالوژیکي نه په قومي هغه اړولی و او تولې قومي ملېشې او د ببرک کارمل د پرچم ډله یې د شمال د ځواکونو په بڼه په یو پراخ ایتلاف کې

ketabton.com - The Digital Library



ملګري کړل او نظام او حکومت یې له داخله داسې وپاشه، چې روسي وسله رښتیا هم د روسیې پر ضد نه؛ بلکې د یو افغان له خوا د بل افغان پر خلاف تر هغه استعمالیده، چې امریکایان راغلل.

همدا اوس په روسیه کې د افغانستان په اړه درې نظرونه موجود دي:۱). روسي نشنلستان وايي، چې د افغانستان مسئله د روسیې لپاره د تېر تاریخ یوه برخه ده او هېڅ دلچسپي باید پکې وانه خیستل شي. ۲). بله ډله لیکوالان او څېړونکي دي، او روسي حکومت ته سپارښت کوي، چې په افغانستان کې د یو با ثباته حکومت د ټینګېدو له لارې د خپل امنیت له تضمین سره مرسته وکړي. د دوی په نظر دا د روسیې د امنیت لپاره ښه ده چې په افغانستان کې سوله وي او په نتیجه کې بهرني ځواکونه له افغانستانه ووځي او د روسیې پر لوریې پرمختګ ته زمینه جوړه نه شي. ۳). دریمه نظریه، چې حاکمه او په قدرت کې ده، هغه د روسي حکومت نظریه ده، چې غواړي افغانستان بې ثباته وي، پخپلو جګړو او لانجو اخته وي، او امریکایان او غربیان پکې مصروف وي.دوی فکر کوي چې ددې لارې به د غربیانو اقتصاد او د افغانانو ژوند له منځه لاړ شي او په دې توګه به له غربیانو هغه بدل واخلي، چې دوی ته یې د افغان- روس جګړې پر مهال ور اړولی و او له افغانانو به د خپلو عسکرو د مړینې، د خپل پوځ د ماتې، د خپلې امپراتورۍ د سقوط او د خپل حیثیت د بایلنې بدل واخلي؛ نو لا تر اوسه روسیه په افغانستان کې ثبات نه؛ بلکې د جګړې دوام غواړي. عملاً روس ځکه غواړي امریکا او لویدیځ په افغانستان کې په جګړو کې ښېتي وي، چې د منځنۍ اسیا منابعو ته یې د

ketabton.com - The Digital Library



لاسرسي مخه ډب کړل شي. روسیه د مخدره موادو د زیاتیدونکي سیلاب او جنګیالیو د ورتګ نه هم په ویره کې ده او دا هم د روسیې پر خلاف د غرب او امریکې یو سازش ګڼي.

۲. **امریکایان** او نور غربي هېوادونه بېلابېلې اجنډاوې لري. ځینې هېوادونه هسې د امریکایانو د خوشحالۍ لپاره حشر ته راغلي دي، چې اساسي رول نه لري او ځینې نور یې خپلې جلا اجنډاوې لري. د امریکا په باب دوه نظره دي:(۱). دوی د ۹/۱۱ حملې د انتقام لپاره راغلي او چې د دغه برید عاملین وځپي، دنده یې ختمېږي. (۲). بله نظریه داده، چې د شوروي تر ماتې وروسته، د کلنټن د ولسمشرۍ پر وخت؛ چې امریکا دیوازینۍ نړیوال زبرځواک په توګه را د بره شوه؛ نو "نویو محافظه کارانو "د "نوې امریکایي پیړۍ پروژه" طرح او دولت او فکري قوتونو ته یې وړاندیز وکړ، چې امریکایي مشرتابه د نړۍ د مشرتوب لپاره کافي هم ده او نه هم. دوی داسې طرحې جوړې کړې، چې:

- امریکا دې خپلې هوایي، بحري او فضایي اردوګانې پیاوړې کړي.
- نوې او د دقیق هدف ویشتونکې اتومي وسلې دې جوړې کړي.
- د دې وس دې پیدا کړي چې په یو وخت کې په څو جبهو کې وجنګېدای شي.
- پارلمان دې نظامي بودجه زیاته کړي.
- دوی دغه ډول نورې طرحې هم وړاندې کړې وې او غوښتل یې چې یو څوک باید په امریکا برید وکړي، چې دوی ته د متقابل برید زمینه جوړه شي. د ۹/۱۱ په باب څکه داسې انګېرل کېږي، چې یا خو د امریکا یو خپل سازش دی، چې پخپله یې را منځته کړی دی او یا یې هم کم تر کمه د هغه د پېښېدو مخه نه ده نیولې. د "نوو

ketabton.com - The Digital Library



محافظه کارانو" د ټیم زیاتره غړي بیا د بوش په حکومت کې لوړ چارواکي شول.

ددې نظریې د بریالیتوب لپاره د بوش ټیم غوښتل، چې ځان په افغانستان کې پیاوړی کړي، چې د نظامي اډو او استخباراتي شبکو له لارې د روسیې پر لور پرمختګ وکړي، د منځنۍ آسیا منابع خپلې کړي، چین کنټرول او وڅاري، د هند او پاکستان د اټومي وسلو څارنه وکړي او د ایران اټومي فعالیت مهار کړي. داسې ګومان کېده، چې امریکا د جګړې دوام ته په بېلابېلو بهانو ترهغې دوام ورکړي، چې خپلو ټولو ستراتېژیکو هدفونو ته ورسېږي.

بارک اوباما، چې ملت ته یې له اقتصادي بحران نه د خلاصون وعدې ورکړې دي، داسې ښکاري چې غواړي، خپلې طرحې محدودې کړي او په افغانستان کې له دیموکراسۍ او نورو ماډرنو شعارونو نه تېر او یوازې په دې اکتفا وکړي، چې القاعده شبکه مختله، دړې وړې او ماته کړي. قدرت ته د طالبانو له انحصاري راګرځېدو مخه ونیسي او بیا له منځ لاریو طالبانو سره د جوړې، او د پاکستان، سعودي عربستان او ترکیې په مشوره یو داسې دوست حکومت پرېږدي، چې نړیوال له اجنډا ونه لري او دغو هیوادونو ته په ګټه وي.

کله چې په جګړه کې د امریکا سرسام آوره لګښتونو ته وکتل شي، نو په هر صورت ورته عقل دا وایي، چې په افغانستان کې سوله د امریکا په ګټه ده، او که نه وي نو په هغه مورد نه شو پوهېدای، خو د پورته یادو شوو پلانونو د ریښتیا ینې په صورت کې هم امریکا ته یو سوله ییز، پیاوړی او

ketabton.com - The Digital Library



باثباته افغانستان ښه ملګری کېدای شي، نه یو کمزوری او لړزاند.

د امریکا ځینې نور ملګري بېلې اجنډاوې پر مخ بیايي، ځینې يې ممکن د امریکا د اقتصاد د کمزوي کولو له لارې ځان له امریکايي تفوق نه خلاصول په دې کې ویني، چې دلته جګړه دوام وکړي.

۳. **بریتانیا** د هلمند په نا امنیو او د مخدره موادو په سرسام آوره زیاتېدو کې متهمه ده؛ او ښکاري چې دوی له ځینو محلي مخالفینو سره د وسلو او پیسو مرستې کوي او حتی داسې اوازې هم شته، چې انګریزان غواړي په افغانستان کې یوه کنترول شوې جګړه ماري (Controlled Insurgency) دوام وکړي. که دا رښتیا وي، نو دا نه ده معلومه، چې د امریکا په مشوره دا کار کوي که بې مشورې؛ خو دوه مخې لوبه کوي او په نتیجه کې جګړه اوږدېږي.

۴. **ایران** د امریکايي پوځونو تر راتلو وروسته ډېره ګټه وکړه او افغاني ملګروته يې د افغانستان په حکومت کې ښه غوړه برخه ورسېده او د خپلو حریفانو طالبانو په ماته ډېر خوښ شو؛ خو د امریکا د زیاتې پرمختیا له وېرې غواړي چې امریکا دلته مصروفه وي، چې له یوې خوا يې کمزورې کړي او له بلې خوا يې د ایران پر لور پرمختګ ودروي. له بلې خوا پخپل ځنګ کې د یوه کمزوري ګاونډي د لرلو په خاطر هڅې کوي افغانستان په جګړو او بې امنۍ کې ګېر

ketabton.com - The Digital Library



وي او بې ثباته او کمزوري پاتې شي. دا پالیسي ایران له افغانستان څخه د روسانو له وتلو راپدېخوا په منظم ډول پر مخ بیایي.

زما یوه دوست راته کیسه کوله، چې د جهاد پر مهال د سولې په مذاکراتو کې د یوه جهادي تنظیم په هیئت کې و. د غونډې په تفریح کې یې د ایران د هغه وخت د بهرنیو چارو له وزیر علي اکبر ولایتي نه پوښتلي وو، چې آیا ګاونډیان په اخلاص له موږ سره مرسته کوي، چې دا لانجه حل شي؟ د ولایتي ځواب دا و: افغانان تر ایران او پاکستان دواړو ډېره وسله لري او که دواړه درګېرې غاړې یې سره جوړې ته ورسېږي؛ نو پخپل ګاونډ کې د دغسې وسله وال او روزل شوي ګاونډي شتون زموږ (ایران او پاکستان) ملي امنیت ته ګواښ دی. که زموږ د ملي ګټو مسئله وي، موږ نه غواړو، چې ستاسو مسئله په جوړه حل شي او که پخپله ابتکار کولای شئ، چې د ځان چاره وکړئ، درته ښه ده.

هغه پوهېده، چې د افغانانو لانجه دومره ژوره ده، چې له نړیوالو او سیمه ییزو پیاوړیو تضميناتو پرته په جوړه او روغه نشوه حلېدای او څکه روس، ایران او پاکستان داسې لوبه رامنځته کړه، چې هر څه وپاشل شول. ایران تر ننه پورې د بې ثباته افغانستان غوښتونکی دی او دا د خپل ملي امنیت او اقتصادي پرمختګ په ګټه ویني.

۵. **پاکستان** د زیاترو شنونکو په اند تر ټولو پیاوړی لوبغاړی دی. د روس پر ضد افغان جهاد کې د امریکا - غرب او عربو

ketabton.com - The Digital Library



د ميلياردونو ډالرو مرستې ددې هېواد لـه خوا چېنل کېدې او څکه يې خپل پوځ او استخبارات ښه پياوړي کړل. کله، چې نړۍ افغانستان تـه شا کړه، پاکستان تر نورو پياوړی راوخوت. د ژبې، مذهب او اوږدې ګډې پولې د مشترکاتو پر اساس يې لاسونه ډېر ژور راوغځول. پاکستان د افغانستان پر وړاندې ژورې ستراتېژيانې پر مخ وړي او کـه څه هم لـه افغانانو سره د شريک تجارت او ګډو مرستو پر بنسټ د ډېرو شتو خاوند کېدای شي؛ خو د ستراتېژيک عمق او د مطلقې برلاسۍ هڅې کوي او تحليل يې دادی، چې امريکا او غرب به اخر ستړي شي او افغانستان به بې سرنوشته پرېږدي او تر هغه وروسته به د کورنيو جګړو اور لا زيات شي، چې د ښوونځي، پوهنځي، سړک، کلينيک، برېښنا، اوبو او د تمدن لـه ټولو نښو څخه خلاص يو کنډوالـه هېواد پـه ګاونډ کې ورپاتې شي، چې تر "سلو کلونو " به د علاقۀ غير په شان بې نظمه او وروسته پاتې وي

۶. **هند** لـه پاکستان سره د کشمير ستونزه لري ، غواړي چې د افغان پـه وينه ورسره د حساب تصفيه وکړي. هند غواړي دلتـه يو پاکستان ضد حکومت وي. کـه افغانستان لـه پاکستان سره پـه مخالفت کې يو بې ثباتـه يا با ثباتـه هېواد وي، هند بـه يې کومـه پروا ونـه لري؛ خو کـه افغان حکومتونه د پاکستان سره دوستان وي، تر دغـه ډول با ثباتـه افغانستانه يې؛ بيا يو کمزوری او بې ثباتـه افغانستان خوښ دی.

۷. **سعودي عربستان** داسې افغانستان غواړي، چې د پاکستان

ketabton.com - The Digital Library



په خوښه او یا لږ تر لږه د پاکستان دوست وي؛ خو د ایران مخالف او ورسره په لانجو کې ګېر وي. عربان هم ممکن وغواړي چې د ایراني شیعه لوړتیا غوښتنې مخنیوی د افغانانو په وینو وکړي. سعودي د مشر مسلمان هېواد په توګه د شوروي پر خلاف د افغان جهاد د لګښتونو نیمایي اقتصادي برخه او چتوله؛ خو اوس فعال او جدي نه دی او د خپل ګران دوست پاکستان ملي ګټې زموږ تر هغو ډېرې لوړې ګڼي. په هر صورت سعودي کولای شي، افغانستان ته د سولې په راوړو کې یو مهم رول تر سره کړي، او افغانان تل په سعودي دغسې باور کوي.

۸. **ترکیه**: چې کلونه یې د اسلامي نړۍ مشري کړې ده، د اسلامي هیوادونو په منځ کې امتیازي ځای لري. د شرق او غرب د پولې په توګه یې دواړه ډوله شرقي او غربي ارزښتونه ساتلي او په افغانستان کې هم یو مهم رول لري؛ چې هم د ایساف نړیوالو ځواکونو په چوکاټ او هم د افغانستان له سیاسي ډلو سره ښې اړیکې لري. له بلې خوا له پاکستان او منځنۍ اسیا له هیوادونو سره ښې اړیکې لري. که څه هم د پان ترکیزم او اسلامي مشرۍ د لویو او اوږدو پلانونو له مخې خپلې ځانګړې ګټې او اجنداوې لري، خو په دې وخت کې د سولې د هلو ځلو په بریالي کیدو کې یو مثبت رول تر سره کولای شي او افغانان ترې دغسې تمه کوي.

۹. **چین**: چې د افغانستان په ګاونډ کې یو ستر اقتصادي قوت

ketabton.com - The Digital Library



دی، لـه افغانـستان سـره د لويـو اقتـصادي پـروژو پـه برخـه کـې مرسـته او ملګرتـوب کـولای شـي او دې تـه ليوالتيـا هـم لـري. کـه څـه هـم ظـاهرا د نظـامي مـسلو سـره دلچـسپي نـه ښـايي خـو پـه سيمه کـې د امريکـا لـه حـضور او قـوت نـه تـشويش لـري. کلـه چـې چـين پـه افغانـستان کـې پـه سـترو پـروژو کـې شـريکيږي، نـو طبيعـي ده چـې کـم تـر کمـه د دغـو پـروژو او د هغو د خواوشا سيمو د امنيت سره به هم مرسته کوي.

۱۰. **دمخـدره توکـو مافيا** هـم يـوه سـتره او د لـوی تـشويش خبـره ده. د ملګــرو ملتونــو د مخــدره مــوادو او جرمونــو دفتــر (UNODC) د تحقيـق پـه اسـاس پـه تېـرو اتـو کلونـو کـې ۱،۸ مليونـو افغـاني بزګرانـو تـر ۲۰۰۷ ام کـال پـورې د اپينـو لـه کرونـدې څخـه ۳ ،۲ مليـارده ډالـر ترلاسـه کـړي، تخمينـاً ۱۰۰۰۰- ۱۵۰۰۰ ســوداګرو او قاچاقچيــانو ۱۸ مليــارده ډالــر لاســته راوړي دي. خــو نړيوالــو قاچاقچيــانو ۲۰۰-۴۶۰ مليــارده ډالــر تـر لاسـه کـړي دي. نـو آيـا يـو بيـوزلی هيـواد چـې ۳۰ کالـه جګـړو ځپلـی دی، د ۲۰۰ ميليـارده ګټـونکې مافيـا سـره مقابلـه کـولای شـي، او آيـا دغـسې زوروره مافيـا پـه دې هيـواد کـې سـوله غواړي؟

پـه مجمـوع کـې زيـاتره نړيـوال لوبغـاړي پـه دې هېـواد کـې لـه کـومې دوامـدارې سـولې او بـا ثباتـه نظـام سـره پـه جـدي ډول مينـه وال نـه ښـکاري او کـه کـوم يـو لـه افغانـانو سـره د دوسـتۍ پلانونـه لـري هـم، ددې لپـاره، چـې د افغانـستان لـه سـتراتيژيکي جغرافيـې او جنګيـالي ملـت نـه د خپلـو سـترو موخـو د لاسـته راوړلـو او د خپلـو سيمه ييزو او نړيوالـو حريفـانو د ځپلـو لپـاره کـار واخلي او

ketabton.com - The Digital Library



ځينې نوريې لاغواړي په دې هيواد کې يوه کنټرول شوې جګړه ماري دوام وکړي.

خو افغانانو ته څه کول پکار دي؟ افغانستان د بشري کورنۍ يو مهم غړی دی او دخپل سياسي-جغرافيوي موقعيت د اهميت له مخی دنړيوالو د توجه يو مهم مرکز دی چې ديو ځمکني پول په شان دمنځنۍ، جنوبي او غربي آسيا او چين ترمنځ لاره جوړوي. د سړې جګړې تر ختم وروسته نور افغانستان له هغې عنعنوي انزوا نه راوتی او يو حايل زون نه دی، چې په تېره پېړۍ کې و.، بلکې د اقتصادي اتصال يوه مهمه کړۍ او د ورېښمو لار ده چې د دې پرا خو سيمو پخپلو منځو او بيا له اروپا او نورې نړۍ سره په وصلو لو کې مهم ځای لري:

- د افغانستان له لارې د نل ليکې جوړول به د افغانستان او منځنۍ آسيا ګاز جنوبي آسيا ته ولېږدوي، چې د ټولې سيمې د اقتصادي غوړېدو سره به مرسته وکړي او نړيوالو ته به هم د لويو تجارتونو زمينې جوړې کړي.
- له ايران سره د اوبو او نفتو تبادله هغه څه دي، چې د دواړو هيوادونو په ګټه ده او دلچسپي هم ورسره لري چې د منځنۍ آسيا هيوادونو ته هم غزېدلی شي.
- د افغانستان له لارې د ټرانزيټ پوټنشيل هم ډېر مهم دی: د ازبکستان ۸۰۰ زره ټنه پنبه د اوږدو لارو تر وهلو وروسته بندرونو ته رسېږي او ډېر ټرانسپورټي فيس پرې لګېږي، د دې په مقابل کې پاکستان ډېرې پنبې ته اړتيا لري چې خپلو صنايعو ته وده ورکړي، او ددې دواړو هيوادونو تر منځ دا سوداګري د افغانستان له لارې ممکنه ده.

ketabton.com - The Digital Library



- د افغانستان له لارې د اکمالاتو د څنځیر جوړول به د افغانستان، پاکستان او ازبکستان درې وارو عایدات ډېر کړي اود نورو ګاونډیانو لګښتونه به هم راکم کړي.
- افغانستان د ګاونډیو هیوادونو د سرحدونو د امنیت لپاره هم ډېر مهم دی. سوله ییز افغانستان به، ګاونډیان له اضافي امنیتي لګښتونو بچ کړي او د هیوادونو تر منځ پولې به د همکارۍ په زونونو بدلې شي.
- د افغانستان امنیت خواوشا ټولو هیوادونو او هم پخپله افغانستان ته د اقتصادي ښېرازۍ لارې پرانیزي.
- د ایران او ازبکستان سره د افغانستان د ریل ګاډي د جوړېدونکې پټلۍ غزول به د سیمې د هیوادونو د انتقالاتو لګښتونه ډېر راکم کړي . افغانستان به له نړۍ سره ونښلوي او په خپلو پښو د ودرېدو جوګه به یې کړي.
- د افغانستان ثبات او ښېرازي د روسیې لپاره هم ډېرې ګټې لري، لکه:
  - د جنوبي اسیا بازارونو ته له اسانو لارو د رسېدلو په نتیجه کې د روسیې د اقتصاد لا پرمختګ،
  - د روسیې د پولو او ګاونډ د امنیت د ښه کېدو په نتیجه کې د دوی د امنیت ښه والی
  - د مخدره توکو څخه د خلاصون پر لور پرمختګ، او نور.
- افغانستان د چین د پانګونې لپاره یو تر ټولو ښه ځای دی او چین کولای شي د کانونو په راایستلو، لویو برښنا کوټونو او د اوبو د بندونو په جوړولو او د اورګاډي د پټلۍ او لویو سرکونو په آبادولو کې د پانګونې له لارې ډیره ګټه تر لاسه کړي.

ketabton.com - The Digital Library



- او په پای کې افغانستان د لويديځ او امريکا لپاره يو ښه او ډاډمن ملګری جوړېدای شي، ځکه زموږ هيواد ذروي وسلې او خطرناکه نړيواله اجنډا نه لري او د لويو قدرتونو لپاره کوم خطر نه جوړوي.

ددې هيواد سياسي ارزښت هم د هغه د اقتصادي ارزښت په شان ستر دی او د علامه اقبال په وينا د افغانستان ثبات د آسيا ثبات دی او فساد يې د آسيا فساد دی. با ثباته، سوله ييز او پياوړی افغانستان چې د خود اراديت خاوند او د داسې پياوړي قانوني نظام لرونکی وي چې خپلو خلکو ته سوکالي او نېکمرغي راوړي، سيمې او نړۍ ته سوله او د متقابل درناوي او يو د بل په کورنيو چارو کې د نه لاس وهنې پر بنسټ د هيڅ ملت او هيڅ هيواد لپاره تهديد نه، بلکې يو مساوي او با حيثيته شريک وي، هم زموږ د ګاونډيانو، هم د سيمې او هم د نړۍ په ګټه دی. نو ځکه افغانان بايد له ټولې بشري کورنۍ او نړيوالې ټولنې څخه وغواړي چې د دغسې افغانستان په جوړولو کې د دوی د عزم درنښت او د پر مختګ، انکشاف او سولې په راوړلو او ټينګښت کې يې مرسته وکړي. په افغانستان کې د پياوړي مرکزي دولت شتون د مخدره موادو په کنټرول کې هم اساسي رول لري، چې افغانستان، ګاونډيانو، سيمې او نړۍ ته يوه ستره ستونزه ده. په نتيجه کې ويلای شو چې د ټولو اړونده هيوادونو روا ګټې په يوه باثباته، ازاد، خپلواک او واحد افغانستان کې نغښتې دي، افغانان بايد حاضر وي چې د هيواد خپلواکۍ، ملي حاکميت، خود اراديت، ځمکنۍ بشپړتيا او روا ګټو ته يې د درناوي په صورت کې د ټولو هيوادونو او ملتونو روا ګټو ته درناوی وکړي.

افغانان بايد له دغو ټکيو نه په استفادې سره نړۍ ته قناعت ورکړي، چې د سولې ثبات په راوړو کې ورسره مرسته وکړي. سره له دې چې

ketabton.com - The Digital Library



زیاتره نړیوال د افغانستان په دغه اقتصادي او سیاسي ارزښت پوهېدلي دي، خو له بده مرغه ټول ګورو چې لا هم د افغانانو په کور اور بلېږي او هره ورځ یې ماشومان، ښځې، ځوانان او بوډاګان په بېرحمۍ وژل کېږي او دا وران هیواد لا نور هم ورانېږي. دا بد مرغه جګړه ساده جنګ نه دی او کورني، سیمه ییز او نړیوال بعدونه لري، چې پای ته رسول یې یو عاجل ضرورت، خو ډېر دروند کار دی. افغانان چې ددغه غم دروندوالی او سختوالی تر هر چا شدید احساسوي، په خپل هیواد او ګاونډ کې ډېر ژر د جګړو د دایمي بندېدو پلویان دي او له ټولې بشردوستې نړۍ نه باید وغواړي چې ددې اور په مړه کولو کې یې مرسته وکړي. افغانان باید د نورو ملتونو او هیوادونو لپاره هغه څه وغواړي چې دځانونو لپاره یې غواړي، یعنې: د هیوادونو سوله او ثبات، دولسونو نیکمرغي اوسوکالي او د ملتونو ترمنځ متقابل درناوی اوهمکاري. د همدې ډاډ له لارې دې نړۍ د ځان ملګرې کړي.

که څه هم بشریت لا تر اوسه د معنوي تکامل دې مرحلې ته نه دی رسیدلی، چې جګړې ته په هیڅ حالت کې هم لاس وانه چوي، خو معقول ولسونه او هیوادونه جګړه نوره د مسایلو د حل یواځېنۍ او غوره لاره نه ګڼي. سولې، تفاهم، ډایلاګ او پو ها وي ته د غوره، ارجحو، انساني او موثرو لارو په سترګه ګوري. افغانان باید د نړیوالو دغه معقولې او شریفې انګیزې راوپاروي.

***

ketabton.com - The Digital Library

# ایا افغان مشران ملت ته هیله ورکولای شي؟

هیله او امید د انساني ژوند تر ټولو ستر محرک دی. پیغمبران چې د بشریت تر ټولو ستر لارښوونکي وو؛ هم هیله ورکوونکي او وېروونکي (بشیر او نذیر) نومول شوي دي او ځکه د جنت هیله او له دوزخ وېره تر ټولو لوی هڅوونکي فکتورونه دي، چې یو انسان ورته خپل ژوند وقف کړي. د انساني ژوند په باب نهیلي فیلسوفان هم په دې ټینګار کوي، چې باید بشریت ته ډېرې ښې هیلې او امیدونه ورکړل شي.

د پخواني یونان یوه کیسه ډېره مشهوره ده، وایي چې "پاندوره" یوه شهزادګۍ وه. یو ډېر پېرې مَېن شو او ویې تښتوله. پاندوره به ټول وخت غمګینه، په ژړا او واوېلا وه او یوه شېبه ارامه نه وه. ډېو چې پوه شو، پاندوره له ده سره ګوزاره او ګډ ژوند نکوي؛ نو پېرې یې ښوده او یو بکس یې په تحفه کې ورکړ. ډېو پر پاندورې باندې دا شرط کېښود، چې بکس به هېڅکله نه خلاصوي. انساني فطرت دی، چې له کوم شي منع شي، هماغه کار کوي. پاندورې بکس خلاص کړ؛ خو څه ګوري؟ ماران، لړمان، غوندلان او نور وحشي حشرات. پاندوره په چیغو شوه او نه پوهېده، چې ځنګه ترې وتښتي؛ خو چې ټول

ketabton.com - The Digital Library



ماران او لړمان راووتل؛ نو د بکس په تل کې یو روښانه او ځلېدونکی غمی و، هغه غمی هیله وه.

د افغانستان مظلومو او پتمنو خلکو ته دا دېرش کاله د ښکلیو نومونو او عالي شعارونو په بکسونو کې همدغسې ماران او لړمان او آفتونه او زیانونه ورکول کېږي؛ خو متاسفانه هغه څه، چې پکې نشته؛ هغه هیله او امید دی.

په ۱۹۹۲ز کال ما په پېښور کې د افغان مهاجرینو او کوزو پښتنو مقایسه کوله. افغان مهاجرین به له ټولو ستونځو سره- سره خوښ، خوشحاله او روښانه ښکارېدل؛ خو زموږ کوز ورونه به وارخطا، په بیړه او الوتو بڼو کې ښکارېدل؛ خو وروسته نهیلي په دې خوا کې هم عامه شوه.

په ۲۰۰۲ز کې بیا خلکو ته امید او هیله بیا پیدا شوې وه، خپل اولادونه یې په شوق په ښوونځیو کې شاملول او د ژوند، سولې او نېکمرغۍ لپاره امیدواره وو؛ خو ورو- ورو هیلې په نهیلیو بدلې شوې او اوس، چې له هر تعلیم یافته افغان سره کېنې؛ همدا یوه خبره به درته اوري: "دا وطن نه جوړېږي، این وطن جور نمی شود". دا فکر کیږي، چې ددې نهیلۍ په زېږولو کې کومه ژوره توطیه رول لري. هیله په افرادو، ملتونو او ټولنو کې پر ځان باور زېږوي او نهیلي بې باوري، ویره او ماته.

که څه هم د BBC, ABC او یو بل جرمني چېنل وروستۍ سروې وښوده، چې په افغانانو کې د هیلې کچه لوړه شوې او تر ۷۰٪ خلک هیله لري، چې هېواد یې ښه لوري ته روان دی، له بلې خوا د ایشیا فاونډېشن نوې سروې هم ښايي، چې د افغان

ketabton.com - The Digital Library



ولس د هیله مندۍ کچه لوړه شوې ده؛ خو لومړنۍ سروې د ۲۷ میلیونه افغانانو له منځه یوازې له(۱۵۰۰) کسانو او دویمه د ۲۸۰۰ کسانو د ځوابونو په نتیجه کې تر سره شوې ده. دغه سروې ګانې موږ نه ردوو؛ خو د ټولنې واقعیت ډیر بدل دی او دومره کوچنۍ بېلګې (سمپل سایزونه) د یوه ملت په کچه دومره لويې مسئلې ته ځواب نشي ویلای.

د ولسمشر کرزي ځینې نږدې ملګري هم وایي چې دوی دې مسلې ته ډیر تشویش لري، او وایي چې ملت ته هیله نه شي ورکولای او دې مسلې پر حکومت د خلکو د بې باورۍ په زیاتوالي کې ډیره برخه لرلې ده.

په هر حال، موږ د متمدنو انسانانو په توګه مسوولیت لرو، چې خپل ملت ته هیله ورکړو، پر بري یې باور وکړو او د روښانه راتلونکي واقعبینانه طرحې یې مخې ته کیږدو. تر ټولو ډیره دا زموږ د مشرانو دنده ده.

هیله تشه خوشبیني او خوش باوري نه ده. هیله دا ده، چې یو فرد، یوې ټولنې او یوه ملت ته دا وښیي، چې له ټولو ستونځو سره- سره، چې په مخ کې یې پرتې دي او ټولې ستونځې او چیلنجونه، چې را روان دي، بریالي کیږي او د نېکمرغۍ او هوساینې لپاره یې تکلونه عملي کیږي.

ګاندي د هند مړ ژواندي ملت ته داسې هیله ورکړه، چې د عدم تشدد او ملکي نافرمانۍ په زور یې انګریزان د هند له نیمې وچې وایستل.

ketabton.com - The Digital Library



بارک اوباما د امریکا ملت ته د اقتصادي بحران په وخت کې د بدلون او پر هیلې د باور روحیه ورکړه او بېرته یې د اقتصادي ښېرازتیا او دوامداره ثبات پر مفکوره ډاډمن کړل. ده خپل کمپاین د (Audacity of Hope) د کتاب له لیکلو پیل کړ.

عقیده، امید او هیله د ملت جوړونې، ثبات، پر بري او نېکمرغۍ د باور او فکري سکون لپاره ضرورت دی. پر دولت د خلکو باور زیاتوي، فعالیت او تحرک زېږوي او کار او زیار ته ولس هڅوي.

افغانان باید بري، سولې، پرمختګ، عدالت او ملت جوړونې ته هیله من کړای شي او ددې هیلې زېږول په لومړي سر کې د دولت او تر هغه ورسته د روڼ اندو، لیکوالو او پوهانو دنده ده.

پښتو متل دی: دنیا په امید خوړل کېږي. امید باور زېږوي او باور وړتیاوې پیاوړې کوي.

راځئ هیله من و اوسو او د پرون او نن په نسبت د بېر د سبا په باب امیدوارونکی فکر وکړو !!!

***

راځئ، هیله من و اوسو او د پرون او نن په نسبت د بر د سبا په باب امیدوارونکی فکر وکړو !!!

# نتيجه

په دې کتاب کې د افغانستان د نن او سبا ورځې ځينې ستراتيژيکي ستونزې او مسلې په ډېر لنډيز بيان شوي دي، چې د ټولو حل د ثبات او پرمختګ لپاره ضرور دی. او که له همدا اوسه جامع او هر اړخيز علمي او عملي پلانونه ورته جوړ نه شي، زموږ په موجودو ستونزو به نوې او نورې هم ورزياتې شي. ځينې دا مسلې ډېرې بيړنۍ او نغدې نه ښکاري، خو سبا به ډېرې سختې، جدي، عاجلې او بيړنۍ وي.

که ثبات نه وي هيڅ بری او ګټه دوام نه شي کولای او هيڅ پرمختګ پر ځای نه پاتې کېږي. خو د افغانستان دايمي ثبات هله راتلی شي، چې سببونه يې په دقيق ډول وڅېړل شي او اوږود مهاله لارې چارې يې وسنجول شي.

دا چې افغانستان زياتره بې ثباته او دولتونه يې کمزوري وي، ځېنې سببونه يې په دې ليکنو کې وڅېړل شول، د مخنيوي اساسي لارې يې دادي چې: **موثر دولت** جوړ، پياوړی او فعال شي، تر څو **په کور دننه ټولو خلکو ته ښوونه، کا ر او د ورځني ژوند تېرولو وسايلو** په برابرولو کې **مسوولانه** او **د زړه له کومې** کار او نه ستړې کېدونکې هڅې وکړي؛ او **په بهر کې** له ګاونډيانو، سيمې، اسلامي هېوادونو او نړۍ

ketabton.com - The Digital Library



سره د متوازنو او پرثمره اړیکو له لارې په نړۍ کې د افغانستان ور ځای ټینګ کړي او د نړۍ د هیوادونو په منځ کې یې یو سیال هیواد کړي.

که ولس په پوهنه سمبال شو او د ژوند لومړنۍ اړتیاوې یې پوره شوې، نو بیا به د نن او سبا ستونزې هم تشخیصولای شي او ملي او هیوادنۍ ګټې هم. دوی به بیا خپل حکومتونه نه ورانوي او د نورو له خوا د لنډمهاله ګټو په بدل کې به د خپلو راتلونکو نسلونو د دایمي تباهۍ په کار کې له پردیو سره مرسته نه کوي. د خپل هیواد د دایمي سولې او ثبات لپاره به د خپلو بیړنیو او لنډ مهاله او کمو شخصي ګټو قربانۍ ته حاضرېږي او ملي ګټې به ځکه تر فردي هغو لوړې ګڼي، چې په هغو کې به د ځان او خپلو اولادونو دایمي نېکمرغي نغښتېویني.

**موثر دولت، د باکیفیته پوهنې عامول او خلکو ته کار او عاید پیدا کول د ټولو اوسنیو او سبانیو ستونزو د حل او مخنیوي له اساسي لارو څخه دي.**

**لوی الله دې نور زموږ هیواد هم موږ ته له ولړې او وېرې څخه د امن کور کړي.**

***

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*